د سولې مرکز

# خان عبدالغفار خان

## د نه تاوتريخوالي لاروی

## ان رادها کرشنان

# دوه
# خدايي خدمتګاران

## مهاديو ديسای

(پښتو)




ژباړن زېړګل وردګ

خان عبدالغفار خان
دوه خدايي خدمتګاران

Khan Abdul Ghafar Khan
Two Servants of God

ژباړن زېړګل وردګ

Peace Center

افغانيک
Afghanic

# Khan Abdul Ghafar Khan

## The Apostle of Nonviolence

## N Radhakrishnan

# Two
# Servants of God

## Mahadev Desai

(Pashto)

Funded by
Civil Peace Service zfd

ISBN 978-9936-633-00-1
9 789936 633001

Pashto Translator Zir Gul Wardak

# خان عبدالغفار خان

## د نه تاوتريخوالي لاروی

**ليکوال اين رادها کرشنان**

# دوه

# خدايي خدمتګاران

**ليکوال مهاديو ديسای**

د مهاتما ګاندي په ليکنه د يوې سريزې په ملتيا

ژباړن زيړګل وردک

۱۳۹۲لمريز کال

بسم الله الرحمن الرحيم


| | |
|---|---|
| د کتابونو نومونه | -خان عبدالغفار خان (د نه‌تاو تریخوالي لاروی) |
| | - دوه خدایي خدمتګاران |
| لیکوالان | ان رادها کرشنان او مهادیو دیسای |
| ژباړن | زېړګل وردک |
| چاپ کال | ۱۳۹۲ |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| چاپ ځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۳۳-۰۰-۱

## لومړی کتاب

### خان عبدالغفار خان


د خپرووونکي سریزه ............................................................ أ
د ژباړونکي یادونه ............................................................ د
لومړی برخه ............................................................ ۱_۱۰
دویمه برخه ............................................................ ۱۱_۲۹
دریمه برخه ............................................................ ۳۰_۵۲


## دوهم کتاب

### دوه خدايي خدمتگاران


د خان عبد الغفار خان لیکنه ............................................................ أ
سریزه د مهاتما گاندي جي په قلم ............................................................ ب
لومړی برخه/د سرحد ولایت ............................................................ ۱
دویمه برخه/زبرېدنه اصل او نسب ............................................................ ۴
دریمه برخه/لومړي کلونه ............................................................ ۹
څلورمه برخه/د مذهب په هکله د دوی نظرونه ............................................................ ۲۰
پنځمه برخه/ (خدایي خدمتگاران) ............................................................ ۲۸
شپږمه برخه/تومتونه او حقیقتونه ............................................................ ۳۳
اوومه برخه/انگریزان باید حقایق درک کړي ............................................................ ۳۷
اتمه برخه/ټوله کورنۍ په جېل کې ............................................................ ۴۶
نهمه برخه/خویونه- عادتونه ............................................................ ۵۲
لسمه برخه/ببرته د کور په لوري ............................................................ ۵۸

# سریزه

سږکال هم په کابل کې شپږ، اوه کلنو ماشومانو د کوچني اختر په ورځو کې د لوبو ټوپکونه اخیستي وو. دوی به یو له بل څخه منډې وهلې، پټ به شول او یو پر بل به یې فیرونه (ډزې) کول.

زموږ ماشومان له وړوکتوب څخه له جګړې او تاوتریخوالي سره لوییږي، نه مور او پلار او نه په ټولنه کې بل څوک تربڼه مخنیوی کوي. همدا ماشومان چې لوی شي، ټوپک اخلي او یو بل سره وژني.

زموږ ماشومان په کور او کلي کې له تاوتریخوالي سره مخ کېږي، چې دا د دوی پر ټول ژوند منفي تأثیر لري.

هغه ماشومان چې په کوچنیوالي کې ورسره تاوتریخوالی وشي، د مثال په ډول د مور او پلار یا بل چا له خوا ووهل شي، هغوی چې کله لوی شي، له نورو سره هم تشدد کوي.

په افغانستان او پښتونخوا کې د وروستو د پرشو کلونو د ورور وژنې او جګړو یولامل همدا په مغزو کې د تاوتریخوالي موجودیت دی.

ډېر کم خلک پر دې پوهېږي، چې دلته د عدم تشدد یو لوی مبارز عبدالغفار خان هم ژوند کړی دی او په ډېر بریالیتوب سره یې د انګرېزانو پر ضد په عدم تشدد باوري لوی لښکر درلود.

د دغه لوی مفکر او عملي انسان په هکله په بهرنیو هېوادونو کې زیات کتابونه لیکل شوي دي. د باچا خان د شلم تلین (۲۰۰۸) په یاد غونډه کې چې د افغانیک له خوا د جرمني هېواد په بُن ښار کې جوړه شوې وه، دا تصمیم ونیول شو، چې د باچا خان په هکله په بهرنیو ژبو لیکل شوي کتابونه افغاني ژبو ته وژباړي او چاپ یې کړي. د خوښۍ ځای دی چې له کلونو کار او زیار وروسته دوه کوچني، خو ارزښتناک کتابونه یو ځای په

پښتو او انګلیسي د چاپ په ګاڼه سمبالیږي.

دا کتاب دوه برخې لري:
۱- په لومړۍ برخه کې د «خان عبدالغفار خان، د نه تاوتریخوالي لاروی» کتاب، چې په نوي ډهلي کې «د مهاتماګاندي د خپرونو مرکز» له خوا په انګلیسي ژبه په کال ۱۹۹۸ خپور شوی دی.
۲- په دوهمه برخه کې «دوه خدایي خدمتګاران، دمهاتما ګاندي له خوا د یوې سریزې په ملتیا» کتاب، چې په نوي ډهلي کې «د هندوستان ټایمز مطبعه» له خوا په ۱۹۳۵ کال کې خپور شوی دی. دواړه کتابګوتي په وروستیو کلونو کې په هامبورک ښار کې زما د پلار زیړګل وردک لخوا پښتو ته اړول شوي دي. له ده څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په لوړ عمر کې یې (سږ کال ۸۵ کلن) دغه کارونه په ورین تندي ومنل او عملي یې کړل. زه ورته دعا کوم چې کلونه کلونه زموږ سره ژوندی او روغ پاتې شي.
په افغانستان کې د آلمان د ملکي سولې د ټولنې او د هغه هڅاند مشر اندریاس سلماچي څخه ډیره مننه کوم، چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی. د یادولو وړ ده، چې د همدغې موسسې په مرسته تیر کال د باچا خان اتوبیوګرافي (زما ژوند او مبارزه) په پښتو او دري ژبو په کابل کې هم چاپ شوه.
موږ هیله من یو، چې د باچاخان په هکله نور کتابونه هم وژباړل شي او موږ ته راولیږل شي، چې په دې توګه چاپ او خپاره شي.

په همدې هیله!
یحیی وردک، د افغانیک مشر
کابل، ۲۰۱۷ز کال

لومړی کتاب

# خان عبدالغفار خان

## د نه تاوتريخوالي لاروی


**ليکوال اين رادها کرشنان**

ژباړن زبېر ګل وردک



۱۳۹۶ل کال

# د ژباړونکي يادونه

ګرانو لوستونکو ته يوه مهمه موضوع په ګوته کوم، هغه دا چې په دې وروستيو کې ما درې- څلور هندي ليکوالان او شاعران مطالعه کړل.

دوی هر يوه کوښښ کړی چې د عبدالغفار خان په ژوند او سياسي مبارزې فکر وکړي، تشريحات او توضيحات ورکړي او حقايق بربنډ کړي، چې د ستاينې او کور ودانۍ وړ دي.

خو ما ته څرګند ېږي چې تقريباً ټولو کوښښ کړی، چې د فخر افغان (خان عبدالغفار خان) رول په عدم تشدد (Non Violence) کې دويم وښيي.

ولې دغه راز ارزونه Objective او بېطرفانه نښکاري، دا ځکه چې فخر افغان په خپله پر دې موضوع باندې فکر کړی او د عدم تشدد اصلي مبتکر او په کار اچوونکی يې حضرت محمد رسول الله (ص) ښودلی دی.

د ده جناب ۱۳ کلنه مبارزه په مکه معظمه کې د عدم تشدد پر بنسټ ولاړه او هغه څه د پاسه (۱۴) سوه کلن قدامت لري.

د هندي ليکوالو په اشارو کې دا هم څو ځلې ويل شوي دي، چې د خان عبدالغفار خان په نظر هغه څوک د تأييد وړ و، چې په قطعي وجې سره به الله تعالی (ج) ته تسليم و. ګاندي جي به ويل چې دی (غفار خان) د الله تعالی سړی دی: He is the man of God

په زيات درناوي او ادب

زېړګل وردک

هامبورګ ښار، ۱۹ جولای ۲۰۱۳ ز کال

# لومړی برخه

«په دې کې خو کومه د حیرانتیا خبره نشته چې کوم مسلمان یا پښتون دې د نه تاوتریخوالي په طریقه کې سهیم وي، دغه طریقه نوې نه ده.
دغه خو څوارلس سوه کاله پخوا د پیغمبر (ص) له طرفه د تل لپاره تعقیب شوې وه، دوي په مکه کې تل د خپلو لارویانو پر ګډون غوښتل چې د زور زیاتي جغ د انسانانو له اوږو څخه لرې کړي، خو موږ تر ننه دغه هېره کړې وه چې یو وار مهاتما جي زموږ مخې ته بیا دغه لار کېښودله او د دغې سپېڅلې عقیدې ملاتړ یې وکړ. دي خو زموږ په منځ کې لومړی کس دی، چې دغه طریقه یې درک او د دغه غمځپلي ملت مخې ته یې کېښودله.»
آیا پوهېږې چې دا چا وویل؟ پلار مې وپوښتلم: «خان عبد الغفار خان» بې له کوم ځنډ څخه ده ته په خپله ځواب ووې، دغه خو د یکشنبې عادي ورځ د نورو په شان وه چې موږ به په جلسو (مرکو) کې د خپلو پلرونو د ازادۍ په هکله د خاطرو او کارنامو یادونه او څېړنه کوله.
که څه هم دغه کیسې تکراري وې، خو په داسې شکل یې یادونه کېدله چې حتی د ډېرو وړو ېېښو په هکله به یې د اورېدونکو فکر د دغو مبارزو قربانیو، ننګونو، امیدواریو او انګېرنو په لور اړولو. د دغو حکایتونو او روایتونو په ترڅ کې به په پېښو رڼا اچول کېدله چې څرنګه زموږ پلرونو زیار ایستلو، ترڅو د خپلو قربانیو لپاره د سراسري هندوستان میلیونونه خلک یوازې د ملک د آزادۍ پر لور وهڅوي.
ګاندي جي ته پنډت نهرو، سوبهاس چندرابوس، سردار پټېل او عبد الغفار خان د تحسین او آفرینۍ وړ وو. د دوی په منځ کې عبد الغفار خان حتی لا زیات د شاباسۍ، آفرینۍ او ستاینې ځای درلود.
زما د پوښتنې په اړوند د ده ځواب په دې خاطر دا ډول و، چې پاچا خان د قربانۍ سمبول او د ډېرو عالي او سپېڅلو فضایلو انسان و، چې د تل لپاره د

آزادۍ په خاطر د نه تاوتریخوالي مبارز پاتې شوی دی»
عبدالغفار خان چې د سرحد د ګاندي یا په پاچا خان په نامه مشهور دی، په داسې ولس کې زېږېدلی چې ډېر نظامي قابلیتونه یې لرل، خو د مهاتما ګاندي د نه تاوتریخوالي د جریان او طریقې یو نه ماتېدونکي پیرو وګرځېد، چې هېڅکله یې له هغې مستقیمې لارې څخه انحراف ونه کړ. ګاندي ته یې آغا ویل او خوښېدلو یې، نوموړي د انګرېزانو پر وړاندې مبارزه کوله، پرته له دې چې له هغوی څخه کرکه ولري (البته د یوه انسان په توګه- ژباړن) ده په هند او پاکستان کې زجرونه، تعقیبونه او بندونه وګالل، خو چا ته تسلیم نه شو.
په شل کلنۍ یې خپل ځان عامه کار او ښېګڼو ته وقف کړ، دوه دېرش کاله یې په جېلخانو کې تېر کړل، چې ټولټال یې اووه لس کاله په برتانوي جېلونو او پاتې یې په پاکستاني جېلخانو کې تېر کړل، د دې په خاطر چې عقیده یې وه، هغه یې غوښتل. زما د پلار په شان زه د دغه خارق العاده او غیر قابل باور انسان آفرین ویونکي وګرځېدلم او ومې غوښتل ترڅو د ده په هکله لا زیات مطالعه وکړم، خو زموږ په کلي کې نه کوم کتابتون و چې د ده په باب کتاب ترې واخلم او معلومات لاسته راوړم او نه څوک و، چې د هغه څه په اړوند راته معلومات راکړي، چې څه مې له خپل پلاره اورېدلي وو.
کله چې د ګاندي ګرام په کلیوالي پوهنتون کې شامل شوم، ډاکټر راما چندرام چې زما له غوښتنې څخه خبر و، نو د «سولې د سفر» په نامه د پیاري لال په لیکنه یو کتاب یې راکړ او زه یې وهڅولم ترڅو پر پاچا خان د ګاندي د اغېزو څېړنه وکړم.
دغه وخت ۱۹۲۸ ز کال و، هر څومره چې مې په دې کې مطالعه زیاتېدله، زما مینه او علاقه د دغه افسانوي او بې ساري مبارز په اړوند ډېرېدله او کله چې په دې پوه شوم چې په ۱۹۲۹ ز کال کې د ګاندي د سل کلنۍ ځانګړي پروګرام په خاطر ډهلي ته راځي، چې د جواهر نهرو د سولې جایزه

ورکړل شي، په بې ساري توګه په خوشحالۍ او هیجان کې ډوب شوم.
د سپټمبر په وروستۍ اوونۍ کې چې ډهلي ته د پاچا خان د راتګ لا څو ورځې پاتې وې، ما خپل ځان ډهلي ته راورساوه.
هر کله چې پاچا خان ته بلنه ورکړل شوه چې د ګاندي د سلمې کلیزې په مناسبت په مراسمو کې ګډون وکړي، چې ده ته د جواهر لال نهرو د سولې جایزه وړاندې شي، ده په ورین تندي ومنله.
ځینو ورته وړاندیز کړی و چې دی باید دغه بلنه ونه مني او رد یې کړي. دا ځکه چې لا اوس هم د هندوستان په ځینو شمالي ولایتونو کې تاوتریخوالي شتون درلود خو ده وویل: «که زه دغه رد کړم، له هند او پاکستان سره به څه مرسته وکړي؟ خو که زه هندوستان ته ولاړ شم، زه به قادر وم چې د هندوستان له خلکو سره مشوره وکړم.»
د نوموړي د ښه راغلاست په موخه زرګونو خلک په هوایي ډګر کې ټول شول، هغه ځانګړې الوتکه چې دی یې لېږدولو ،له ټاکلي وخت څخه شل دقیقې وروسته را ښکته شوه.
زه لا اوس هم د هغه له ولولو ډکې نارې زما په سترګو کې ګرځي، چې آغلې مېرمن اندرا ګاندي د هندوستان لومړۍ وزیره الوتکې ته ور پورته شوله چې له دغه پیاوړي او ځانګړي مېلمه سره روغبړ وکړي او هغه ته ښه راغلاست ووایي. دغه په ټولو ځانګړتیاوو سره د سرې قالینې ښه راغلاست و.
پاچا خان چې یو اوږد کمیس اغوستی و او د خپلو جامو بکس یې په خپله وړلو، د ښه راغلاست ویلو په ځواب کې د احساساتو په ډکه فضاء کې په لړزېدلي غږ دا پوښتنه وکړه: «هغه څوک چې ګاندي ته غوږ نه نیسي، دوی به څرنګه وکولای شي چې ما ته غوږ ونیسي؟ زه خو یوازې د هغه یو عاجز همکار یم.»
نوموړي دغو خلکو ته وویل چې ماته دا پوره ښکاره ده چې د هندوستان اوسنۍ وضعه او حالات وینم، ده وویل: «تاسو هغه څه هېر کړي دي چې

ګانـدي درتــه ويلــي وو ، زه تاسـې تــه راغلــې يــم چــې تاســو ټولــو هنـدوانو ، مسلمانانو ، سکانو ، پارسيانو او مسيحيانو سره خبرې وکړم. يو بل سره درک کړو او تاسو ته خدمت وکړم، شعارونه معنی نه لري، څه شي چې مهم دي هغه دادي چې د ګاندي لاربښوونې تعقيب شي.»
لږ څه وروسته چې په ټاکلي کور کې يې استوګنه ونيوله، دا يې وويل چې دی پر دې باندې دردمن دی، چې په هندوستان کې نن سبا جمعيت غوښتنه (محل پرستي) ، نفرت او ځانځاني مخ پر زياتېدو ده، د هندوستان د بدبختيو د محوه کولو لپاره په کار دي، چې خپلمنځي دوستي، ملګرتيا ، متقابل باور او نه تاوتريخوالي ته وده ورکړل شي چې ملک وکولای شي وده وکړي.
هغه ملکونه چې له ټولنيزو خير ښېګڼو سره يې وګړي اخته نه وي، فساد او نه باور ته لمن وهي، د علم او صنعت سره دښمني کوي، نړيوال په ښه سترګه ورته نه ګوري او دا خلک د خپل وطن نوم او شهرت له منځه وړي او دغه کسان د مدنيت لپاره ګواښ بلل کېږي.
«ګاندي تل د نه تاوتريخوالي او محبت طرفدار و ، ما په خپله دغه شيان له ده څخه زده کړي دي، خو نن زه په دې خپه يم چې د ګاندي په ملک کې لا اوس هم زيات تاوتريخوالی مشاهده کوم.»
دلته د ده د استوګنې د ځای مخکې ليکې، ليکې خلک انتظار باسي چې فرصت پيدا کړي او له ده سره ملاقات وکړي، راتلونکې درې ورځې بوخت او لګيا و. زما زحمت خو بې ګټې و چې صرف د يو څو دقيقو لپاره ورسره وګورم، خو کوربه وو يې ډاډ راکاوه چې کله ګاندي ګرام ته درشي، هغه وخت به ورسره مرکه وکړې.
پاچا خان د ګاندي د زېږېدنې د سلمې کليزې د لمانځلو په ورځ په مراسمو کې يو ناڅاپي اعلان وکړ، څنګه چې دلته تاوتريخوالی، د خلکو بدبينۍ او ذاتي کرکه او د جمعيت پرستۍ (محل پرستۍ) احساسات راپارېدلي دي، نو دی غواړي چې درې ورځې روژه ونيسي.

له دغې عامه غونډې څخه وروسته سمدلاسه د کانګرس مشر او صدر اعظمې اندرا ګاندي له ده سره خبرې وکړې او د ده د روغتیايي حالت په هکله يې خپلې اندېښنې ورته څرګندې کړې.
صدر اعظمې اندرا ګاندي وويل: «زه خو هېڅ شي نه لرم چې ستاسو د تصمیم او پرېکړې په اړوند يې درته ووایم، خو مورږ امید لرو چې ستاسو روغتیايي وضعیت لا زيات خراب نه شي.»
د اکتوبر په دريیمه نېټه د لمانځه له اداء کولو وروسته د سهار په اوه (۷) بجو يې خپله روژه په داسې حال کې پيل کړله چې حتی د يوه ټيم ډاکټرانو مشوره يې هم ونه منله.
په غولي کې يو اين دهبار، ډاکټر ار، ار ديوالر، پياري لال او ډاکټر دوشيلانير او څو نور ورته ناست وو. پر مقابل دېوال د ګاندي انځور او تر هغه ښکته څو تنه خواخوږي پيروان ليدل کېدل. د پاچا خان د روژې نيولو ټول ملت په هيجان کې واچاوه، ځکه چې دا واقعيت ښاغلي وي. وي ګيري د هند ولسمشر په ډاګه کړ، د کوربه رهبرانو پر مکررو غوښتنو برسېره چې هلته د ده په استوګنځي کې مؤظف و، په سلګونو ملاقات کوونکي هلته ور روان وو. په دغو ورځو کې ډاکټرانو شپه او ورځ د ده روغتيايي حالت ته پاملرنه کوله. ده به يوازې او يوازې عادي اوبه څښلې. که څه هم ډاکټرانو به ويل، د ده وضع په پرلپسې توګه سره د ډاډ وړ وه، خو په ټول ملت کې اندېښنه خپره وه، په ټول هند کې د ده د روغتيا لپاره د ټولو اديانو د پيروانو له خوا ځانګړې دعاګانې او لمونځونه وشول چې دغه روژه نيونه په کاميابۍ او موفقيت سره سرته ورسېږي.
دوکتور راماچندران وويل؛ چې احتمالاً عمومي وضعه داسې ښکارېدله چې په دې وخت کې د دې کار لپاره له پاچا خان پرته هېڅوک نه و، چې د مهاتما په غياب کې داسې کار ترسره کړي.
د اکتوبر په شپږمه يې روژه ماته کړله چې د جايا پراکاش له خوا يو ګيلاس د مالټې اوبه ورته ورکړل شوې، ولې د مالټو د اوبو څښلو څخه تر مخه

پاچا خان خپل لاسونه پورته کړل او دا دعا یې وکړه:
«یا پاکه ربه ته خپله لورېینه او رحم زموږ پر خلکو نازل کړه، د دوی کموالی او ضعفونه عفوه کړه، خوشحالي، نېکمرغي او سعادت یې په برخه کړې، چې دوی وکولای شي په سمه لار روان او نه تاوتریخوالي ته مخه کړي»
کله چې دغه امتحان ختم شو، نو هرې خواته د خوشحالۍ آوازونه او هلهلې ښکاره شوې. زه خو بېرته په ګاندي ګرام کې ډاکټر راما چندران مؤظف کړم چې د پاچا خان د کوربه توب چارې سنبال کړو، ځکه چې داسې پرېکړه شوې او پروګرام نیول شوی و، چې درې اوونۍ وروسته به پاچا خان ګاندي ګرام (د ګاندي کلیوال پوهنتون) ته تشریف راوړي.
هغه وخت چې ډاکټر راما چندران د ځانګړیو دعاګانو لپاره او همدارنګه د پاچا خان د کوربه توب، د اوسېدلو اسانتیاوو، خوراک او داسې نورو کارونو د تنظیم لپاره د دوه نورو ملګرو او سرې وي اېم چندراسخر په ګډون وګومارلم زړه مې باغ، باغ کېدلو.
بالاخره هغه لویه او مبارکه ورځ وه چې هغه ګاډی را ښکاره او راورسېدلو، چې پاچا خان پکې ناست و. نوموړی ګاندي ګرام ته راغی، کله چې یو د لوړې ونې انسان له ګاډي څخه راووت، یوازې یوه جامې یې په خپل بغل کې نیولې وې. موږ ته داسې ښکارېده چې عیناً ګاندي دی، چې په خپله موږ ته دلته راغلی دی چې پر موږ مهرباني وکړي، موږ په خپلو کارونو کې وهڅوي او زموږ غوږونه راتاو کړي.
د ځانګړو دعاګانو په ترخ کې کله، چې موږ یې ملتیا کوله، ما ترې واورېدل چې له ډاکټر راما چندران څخه یې څو پوښتنې وکړې. هغه د ځوانانو، نارینه «هلکانو» او ځوانو ښځو یعنې نجونو ته د نه تاوتریخوالي په اړوند وویل، د ځانګړیو دعاګانو په مراسمو کې د ده پیغام خورا ډېر مختصر او لنډ و.
ده وویل: «زه خوشحاله یم چې د دوکتور راما چندران پر لارښوونه د شان تي سینا (ځانګړې دعاګانې) مشق او تمرینونه محصلینو ته ورزده کېږي، تاسو

زما خدايي خدمتګار ياست، ستاسو نسل ګاندي هېر کړی دی، موږ يو بل انقلاب ته اړتيا لرو، رب مو لاربنود اوسه، د ګاندي روح دې خوشحاله وي»
د شپې له خوا ناوخته د ګاندي ګرام د کليوال پوهنتون منسوبينو او کار کوونکو ته يې په خطاب کې وويل، چې دی غواړي د ګاندي د کار يوه برخه تکميل کړي چې موږ ته راپاتې ده، هغه خو ساده و، ساده يې خوراک و او ساده جامې يې اغوستلې، خو خبرو يې زموږ زړونو ته لار موندله او ژورتيا په کې پاتې کېدله.
سبا سهار کله چې مې مرکه ورسره کوله، داسې ښکارېده چې ډېر د تحمل وړ انسان دی، چې ملګرتيا او محبت د ده په شان کې نغښتي دي. موږ يو ځاي تقريباً نيمه ګړۍ خبرې وکړې او زما تر اوسه هم په ياد دي چې ده په څومره د محبت او دوستۍ په طريقه زما پوښتنو ته ځوابونه ويل:
پاچا خان: ستاسې دعاګانې ما ته اغېزمنې جوتې شوې، ستاسو ملګري د هند په دغه برخه کې هغه څه کوي چې ګاندي به له خپلو اکۍ وروسته له موږ ټولو غوښتل. دا محل پرستي، عظمت غوښتنه او وېشنه به نه وای راغلې، که چېرې موږ ټولو د ګاندي مشوره منلې وای او کليوالي خدمت مو تل ترسره کړی وای. خبرې خو لا اوس هم جريان لري چې کليوالي کار کوونکي په جلا ګروپونو کې په دغه مخ په وده او ځوانه ډيموکراسۍ کې خدمتونه ترسره کړي. اوس خو کليوالي ژوند او کليو بانډو ته صرف د عامه ټولټاکنو پر وخت پام اړول کېږي.
يوازې ښاغلي وينوباجي او د ده د پيروانو ټاکلي ګروپونه دي، چې د کليو په هکله فکر کوي. د بې ځمکو لپاره ځمکه د ګاندي له ايديالو څخه و، چې نن سبا وينوباجي له ډېرو سختو ستونزو سره هڅه کوي چې دغه پيغام د کليو پرګنو ته ورسوي. زه په شک او ترديد کې يم چې څومره خلک به وينوباجي جدي ونيسي، د دې وخت غوښتنه خو دا ده چې له ده سره ټول يو ځاي شي او لاسونه يې قوي کړي. زه خبر يم چې وينوباجي چې د دعاګانو ګروپونه يې راغونډ او بنسټ يې ايښودی و، هغه تيت و پرک شوي دي.

تاسې باید د شانتي سینا ټولې دعاګانې او ګروپونه راغونډ ، تنظیم او عملي بڼه ورکړئ، چې په تدریجي توګه ملت پوه شي چې دغه یونیټونه یو وخت په راتلونکي کې د پولیسو او اردو ځای نیولای شي.
این راډها کرشنان: آیا تاسې په دې فکر نه کوئ چې په تېرو دوه لسیزو کې ملي او نړیوالې وضعې او سناریو دومره زیات بدلون موندلی دی، چې د عسکرو غیر مسلح ګروپونه وکولای شي لا زیاته هماهنګي او موازنه راولي؟ آیا ستاسو په فکر څه شی غلط شول چې هغه د «نړیوالې سولې د پول» مفکوره د هغو ښو کوښښونو سره عملي نه شوه؟
پاچا خان: د نړیوالې سناریو په اړه ولې فکر کوئ؟ آیا په آزاد هند کې مو د ګاندي د مفکورو مناسبه آزموینه کړې ده؟ زه خو فکر نه کوم چې د غسې به شوي وای، قصور او کمښت خو دلته دی، نه په مفکوره یا موډل کې، دا ښایي د باور یا جرأت د کمښت له امله وي. یوه ونه خو په یوه شپه کې د نهال یا تخم څخه ونه، نه شي کېدلای.
داسې ښکاري چې موږ دغه بنسټیز واقعیت هېر کړی دی، که یوازې مهاتماجي زموږ له منځ څخه دومره ژر نه وای تللی، زه باور لرم چې د ده ناڅاپي مړینې ټول دغه تو پیرونه منځته راوړل، که چېرې ژوندی وای، د نیمې قارې تاریخ به بل رنګ و ، هند او پاکستان به په اوسنۍ خطرناکه موضعګیرۍ کې نه وو.
این راډها کرشنان: آیا په یاد مو ده، چې د لومړي ځل لپاره مو څه وخت د باپو سره لیدنه وشوه؟
پاچا خان: په ډهلي کې په ۱۹۲۰ز کال د خلافت په کانفرانس کې، ما یوازې دی له لرې څخه ولید.
این راډها کرشنان: څرنګه د ګاندي پیرو وګرځېدلئ، څه وخت؟
پاچا خان: دویم ځل چې مې ولید ، هغه وروسته له اتو کالو ، په ۱۹۲۸ز کې و ، کله چې په کلکته کې، د کانګرس او خلافت کنفرانسونه دواړه په جلسه کې وو.
این راډها کرشنان: آیا کوم مفصل بحث دې ورسره وکړ؟

پاچا خان: نه، خو څه شي چې پر ما ډېر اغېز وکړ، هغه د ده لويي او متانت و. د ګاندي جي د بيان ورکولو په ترڅ کې يو ځوان او قهرجن سړی پورته شو، ناريې يې وهلې چې ګاندي يو ډارن او نامرد انسان دی، موږ يې ټول واپس کړلو، ګاندي جي صرف خندل او بې له دې نه چې کوم غبرګون ښکاره کړي، خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ.

اين راډها کرشنان: ستاسو د وفادارۍ بنسټ د ګاندي جي سره څه و؟ د ګاندي جي سره خو ډېر نږدې ملګري هم وو چې ورڅخه ولاړل، په ځانګړي ډول لکه شوکت علي او محمد علي «د علي ورونه».

پاچا خان: هو! دا خبره خو د هر انسان په خوي او ځانګړتيا پورې اړه لري. زه احساس کوم چې د يوه کس او بل ترمنځ اړيکه په دې پورې اړه لري، چې د دوی رغبت او ميلان ژوند ته څرنګه دی. ما ته داسې ښکارېدله چې د ګاندي د موخو او زما په منځ کې کوم واټن نشته، څه چې ګاندي جي لټول، ما هم کوښښ کاوه چې هغه تعقيب کړم، زموږ هدف د خلکو خدمت و او بل مودل يا کس به بې له ګاندي جي څخه را پيدا نه شي چې د يو ملت يا ټولنې دومره عالي فضايل ښکاره کړي، يا داسې نمونه اوسي.

زما او د ده خبرې او مرکه خو به يو څو دقيقې نوره هم غزېدلې وای، خو په دې ترڅ کې ډاکټر راما چندران داسې اشاره وکړله چې د بلې غونډې وخت دی. پاچا خان خپه غونډې ښکارېده، ده ويل چې دی اوس دلته هند ته د دې لپاره نه دی راغلی چې کوم چا ته دې د کارونو د کولو ښې لارښوونې وکړي.

د سلمې کليزې په ترڅ کې هم، ده د ګاندي تصور را ژوندی او د ګورو په هغو ځانګړيو دعاګانو يې ټينګار کاوه، هغه خو هم چې ده دا نه غوښتل چې دا ډرامه يې برپا کړې وای، نو لږ ناهيلی ښکارېده، څه ته چې يې د خپل راتګ په لومړني پيغام کې اشاره کړې وه، هغه يې وکړل په هماغه لهجه؛ «تاسو ګاندي هېر کړی دی، زه څوک يا څه کاره يم چې تاسو ته پيغام درکړم؟ چېرته چې ما محبت ليدلی و، اوس کرکه وينم، چېرته چې مې آرامي ليدلې وه، نن سبا هلته زورزياتی «تاوتريخوالی» دی. د خدمت کولو د روحيې پرځای چور، چپاول،

غارتګيري او وژنه راغلې ده. خلکو به په جوماتونو او معابدو کې لمونځونه اداء کول، اوس يې هېر دي چې دين څه شی دی.»

«دا د خلکو محبت، جذبه او له ګاندي سره زما علاقه وه چې دلته راغلم، دا زما غوښتنه وه چې زه ووينم چې دا خلک څومره د ګاندي جي پر لاره تللي دي، دا خو دردونکې ده چې هغه ايډيال چې ګاندي د هغو لپاره ژوند کاوه، کار يې کاوه او په کې مړ شو، په پوره توګه هېر او له منځ څخه وتلي دي او حقيقي ګاندېزم تخميناً د هند څخه کډه شوی دی. سوسيالېزم خو په پلازمېنه ډهلي کې آسمان ته جګې ماڼۍ نه جوړوي آزادي، ډيموکراسي او سوسيالېزم بايد له خلکو سره په دې کې مرسته وکړي چې امين Honest، ځان ژغورن Self-Restrained، او قانع Contend واوسي.»

نوموړي خو د ځينو په دښمن ډوله غبرګونونو پوهېدلو چې د ده د لوڅ پوڅ ويلو په باب يې لرل، همدا عامل و چې د عزيمت او ببرته تګ پر وخت يې وويل: «د ځينو ملګرو زما بې پروا خبرې «د لهجې صراحت» نه خوښېدې او دوی زما پر مشاهداتو نيوکې لرلې، خو زه به په خپله دنده کې ناکام پاتې شوی وای، که ما د دوی نيمګړتياوې په صراحت لامل او بې وجه پردې او بې له کومه ډاره سره نه وای په ګوته کړې؛ دا ځکه چې زه د دوی ملګري او هغه څوک يم چې د هندوستان د آزادۍ په مبارزو کې همغږې او همکار او ان همدا اوس هم زما په زړه او خوبونو کې د يوه پرمختللي «معناً او مادتًا» لوی هند احساسات شتون لري.»

رښتيا ! څه چې پاچا خان وويل، چاروا کي، د ګاندي د نظرياتو پلي کوونکي کارګران او هغه موسسې چې د ګاندي نظريات يې خپرول لړ څه پرېشانه او وشرمول، اما په عادي خلکو يې کومه اغېزه وا نه چولای شوه. عادي خلکو ته د پاچا خان له خبرو څخه بنسټيز ارزښتونه او کيفيتونه درک او له ورايه ښکاره کېدل.

***

# دویمه برخه

«آیا ستاسو منظور دادی چې وواياست چې یو پټهان (پښتون) په نه تاوتریخوالي باندې عقیده لري؟
نا ممکنه ده هېڅ پښتون دا نه کوي، که داسې وي، نو دوی خو دروغ وايي، ته باید د سرحد ایالت ته ولاړ شې، دا به درته څرګنده شي چې پښتانه څومره د زور زیاتي (تاوتریخوالي) څښتنان دي! دا خبرې لارد اروین (Lord Irwin) هغه وخت ګاندي ته وکړې چې هغه غوښتل د برېتانيې د وخت وایسرای (نایب السلطنت) په هند کې دې ته وهڅوي ترڅو پاچا خان له بند څخه خوشې کړي؛ دا ځکه چې په هغه وخت کې په ۱۹۳۱ ز کال کې (د ګاندي- اروین) د پکټ (تړون) په اړوند ټول سیاسي بندیان له جېلونو څخه خوشې شوي وو، خو پاچا خان لا اوس هم بندي و.
په ټولیزه توګه یا په اکثر ډول دوی یاغي، سرکش، جګړه ماران او ټوپکسالاران دي، چې ټوپک ورته تر مور او پلار هم نږدې دی، دغه خو د ټولو په اړوند او په ټولو وختونو کې حقیقت نه لري، اروین خو د غفار خان په اړوند ډېر لږ پوهېدلو، هغه چا ته چې د پاچا خان شخصیت او کلتوري شالید ورته جوت وي، له هغه وخت څخه را په دېخوا چې د ګاندي د لارې لاروی او د ګاندیزم د نه تاوتریخوالي مفکورې ته په ګروهه، ستراتېژي او عمل کې ځای پیدا کړو، نو د دا ډول بدلون په مناسبت یې د تعجب ځای هېڅوک نه شي موندلای.
حتی که چېرې د پاچا خان د ژوند هینداري ته یوه سر سري کتنه وشي چې دی په څه ډول د پښتنو په دې سیمه کې را لوی شوی، دا به صریحاً او په روښانه ډول ورته څرګنده شي چې د ده ټولې کړنې له هر ډول تاوتریخوالي او زور زیاتي څخه نفرت لري. پښتانه خو د راجپوتیانو غوندې په نړۍ کې په کلکې سر ښندنې پېژندل کېږي. پښتانه له اصلاً آرين دي. په تېرو زمانو

کې يې د دوی خاورې ته آريانا «آرين ويجي» ويل، ډېر زيات دلايل شته چې د آرين نژاد د لومړي ځل لپاره د ورځې رڼا په خپل ملک کې وليدله او د دوی ژبه پښتو د سانسکريت سره نږدې ورته والی لري، چې ګمان کېږي نسبتاً له هغو څخه را بېله شوې ده.
نننی (عصري او اوسني) پېښور ته يې په هغو تېرو زمانو کې «پارا سوراما» ويل، دغې سيمې د ګندهارا په نوم يو بل نوم هم درلود، چې د دغې سيمې يو اوسېدونکی ګندهاري ته منسوب و، چې داسې باور دی چې د دغې سيمې اصلي اوسېدونکی دی. اندوس، سندهي، هندو دا ټول هغه الفاظ دي چې د پښتنو له يوې کلمې څخه راوتلي دي، چې د سند کلمه ده، يعنې رود (River)، زردشت (زرتشت) دلته د پټان په خاوره کې زېږېدلي دي. دغه د پښتنو وطن د کلتورونو د راوتلو او متلاقي کېدلو خاوره ګڼل کېږي، بوديزم هم خپله لار دلته پيدا کړه، ګوتما بودا دلته د يو وخت لپاره ژوند کړی دی. دوه لويې مجسمې د بودا چې احتمالاً په نړۍ کې بېسارې وې، چې دلته وې. پېښور يو وخت د کنشکا د امپراطورۍ پلازمېنه و، دلته د پښتون پر ځمکه د ټيکسلا "Taxila" پوهنتون خپل شهرت ته رسېدلی دی.
ځوان خان د خپل عامه ژوند دوره په ۱۹۱۴ ز کال پيل کړې ده. دا خو يو کال د هغه د مخه و، چې ګاندي له جنوبي افريقا څخه بېرته هند ته راستون شي. دی ۲۴ کلن او ګاندي شپږ څلوېښت ۴۲ کلن و. ګاندي له خپلو خدمتونو څخه په سوېلي افريقا کې د هند په اړوند ځينې تصورات او خيالات له ځان سره را نغښتي وو. ده خو خپل دغه باغي پيدا ايښت خلکو ته ثابت کړ، هند ته د ده بېرته راتګ د خلکو، په ځانګړې توګه د بزګرانو په منځ کې نوې هيلې را ژوندۍ کړې.
د ګاندي تر لاربښوونو لاندې ژر تر ژره د هند ملي کانګرس د هندوستان د آزادۍ يو ازيني عنصر او وسيله د هندوستان آزادي وګرځېده. نوي، نوي اشخاص ځانګړي د هندوستان له بېلا بېلو سيمو څخه د يوه ملي تحريک

سره د ملت د را ویښولو او سیاسي آزادۍ په خاطر یو ځای شول.
د رولټ د قانون (Rowlett Act) د لمسون په نتیجه کې «چې یو شمېر محدودیتونه یې لا نور هم تأمینول» مختلفې برخې یې د خلکو سره راغونډې کړې.
د خلافت جریان یو بل تحریک و، چې د هندوستان مسلمانان یې د دغه ملي غوښتنو لپاره سره یو ځای کړل. پښتانه چې لا دمخه د پاڅون په انتظار وو، مناسبه فرصت په لاس ورغله. غفار خان چې یوازې ۲۲ کلن زلمی و، د خپلو خلکو په منځ کې د ښه کرکټر او بې له زور څخه د زېړو پښتنو په خوښه او اراده د فخر افغان په صفت راووت. ده د خلکو په زړونو کې په واقعي شکل ځای درلود. د فخر افغان لقب هغه وخت ورکړل شو، چې په ۱۹۲۴ز کال کې دی له درې کلن بند څخه را خوشې شوی و. په دغې مرحله کې، ده یوازې دوه اختیارات درلودل؛ یا به حسب یا د وخت موافق د وخت د خلکو په اصولي او قانوني هڅونو سره د بېدارۍ او آزادۍ په مقصد لګیا وای او یا به یې د تروریستي لارې ته مخه کړې وای. د ده میراثي پیوستون له نه تاوتریخوالي سره اجازه نه ورکوله چې ځان د ترهګرو جریانونو سره وتړي.
دا هغه څه دي چې د نه تاوتریخوالي تخنیک ګاندي جي چې وعظ ورکاوه، له ده څخه یې غوښتنه وکړه، ده خو په پوره علاقمندۍ سره هغه مطالعه او ولوست. دا هغه څه وو، چې ګاندي په ۱۹۲۰ز کال کې د نه تاوتریخوالي د تخنیک د تعمیل په باب ویلي وو.
«د نه تاوتریخوالي عمل» په اړوند ګاندي داسې لیکلي: «نه تاوتریخوالی دا معنی نه لري چې انسان له یو ضعیف موقف څخه د شریرو او بدکارو ارادې ته ځان تسلیم کړي، بلکې دا معنی لري چې یو څوک ټول ځان، حواس او روح د یوه ظالم د غوښتنې او ارادې په مقابل کې واچوي. نو دا خبره ده چې زه د نه تاوتریخوالي د عملي کولو په نامه ټول هند ته د یوه ضعیف موقف په خاطر کومه پلمه نه کوم، بلکې دا ترې غواړم چې له نه تاوتریخوالي څخه کار واخلي، ځکه وجداناً د دې ځای (هندوستان) له قدرت او قوت څخه احساس لرم.»

عبد الغفار د دغې مطالعې په استناد ګاندي چې يو انسان دوست او مهربان سړی تشخيص او بې له کومې انګېرنې څخه د هغه خوا ته ورجذب شو، هغه يې داسې وموند چې د نورو لپاره ژوند کوي، يو انسان دی، چې د خلکو او د هغوی له ژوند سره علاقه لري. حتی تر دې اندازې پورې چې د ټولو نېستمنو خلکو له ژوندونو سره هم علاقه لري. بناءً د دوی ترمنځ به يو ذاتي ورته والي شتون درلود. نو کله چې دواړو له يوبل سره ملاقات وکړ، دواړو په يو بل کې د عامه ژوند سره علاقمندي وموندله، دغه ورته والي او يوشانوالي غفار خان په دې پوره ډاډمن او متيقن کړ چې ګاندي هغه څوک دی چې دی يې په لټه کې و.

د مدني سرغړونې دويم تحريک په ۱۹۳۰ز کال کې د غفار خان لپاره د يوې آزموينې وخت و، ده خو په بريالېتوب سره وکولای شول، چې خپل وسايل، امکانات او جريانات داسې تنظيم کړي چې په خپلو خلکو کې د وطن پالنې ډېره قوي روحيه تشويق او بيداره کړی شي. څرنګه چې ده فکر کاوه چې بالاخره دغه کار به دوی په ملي تحريک کې مخکيني صف ته راولي، غبرګون خو ډېر لوړ او ښه و، د ده د خدايي خدمتګارانو د تحريک شهرت هرې خوا ته ولاړ. له مسلمانانو څخه ښېرته غبرګون د تأمل او پاملرنې وړ و، خو ټول جريانات د خان لپاره ښه نه وو، محلي شور او غوغا، هيجان انګېزه وضعه ورو ورو په خوټېدو شوه او خپله بد شکله قواره يې ښکاره کړه.

برتانويانو د خپلې همېشنۍ پاليسۍ پر بنسټ چې (ويې وېشه، بيا پرې حکومت وکړه) له دې وضعې څخه اعظمي ګټه پورته کړه، د څو تنو ژوند برباد شو. که د غفار خان د عالي شخصيت په خاطر نه وای، د دغه ويروس په ذريعه چې برتانويانو شيندلی و، دومره زياتو خلکو به ژوند له لاسه ورکړی و، چې چا به شمېرلی نه شو. ده پر پښتو يوه اوږده دوره ټولو سيمو، کليو او بانډو ته که لړې و که نږدې پيل کړه چې په دې توګه د محبت، آزاد خيالۍ او نه تاوتريخوالي او بې له وسلې څخه د سياسي مبارزې پيغام خلکو ته ورسوي. پښتني سيمو ته د نوموړي دغو دورو او سفرونو ښې

پایلې درلودې. د ده وعظونو او خبرو هغه وبره چې د پښتنو په زړونو کې له برتانوي حکومت څخه وه، محوه کړه او د وېرې پر ځای یې نوې هیلې، جرئت او زړورتوب په کې را ژوندی کړ.
د ټولو پېښو او جریانونو له جملې څخه چې هغه وخت په هند کې پېښ و، ښاغلي نهرو په خپل أثر کې «د هند کشف» تر نامه لاندې لیکلي: «لا په اوسنیو وختونو کې هېڅ شی دومره د حیرانتیا وړ نه دي، لکه چې عبدالغفار خان خپل زیږه، سرتمبه توب او طبیعي سرتېرۍ سره دې ته وهڅوو، چې سوله ییز مېتودونه او لارې چارې د سیاسي غبرګون لپاره قبول کړي او ده په دې کې ډېر زیات ربړونه وګالل.»
د ۱۹۳۰-۱۹۳۳ز کلونو په ترځ کې او د مدني سرغړونې په وخت کې د پښتونخوا ایالت (Frontier Province) په حقیقت کې تر ډېر شدید او سپنیز فشار لاندې و. دلته حکومت ډېر سخت ظالمانه مقررات او موازین په کار واچول، په ټول ایالت کې یې بندیز واچاوه او هېچا ته اجازه نه وه چې له هغې څخه بهر ووځي، حتی هېچا ته اجازه نه وه چې هلته د حالت د څېړنې په خاطر ورشي او د خلکو ژوند وګوري.
سره کمیس لرونکي چې د خدایي خدمتګارانو غړي وو، تر ځارنې لاندې وو، بې شمېره یې مړه کړل او کورونه یې هم ور وسوځول. څرنګه چې ښاغلي نهرو وایي:
«په واقعیت کې دغه یو همېشنی رنځ او ډېر دردناک حالت و، چې زښتې زیاتې ترخې خاطرې ترې پاتې دي، تر دې اندازې پورې چې د پښتنو څخه لږ حرکت او عمل د قواوو په مقابل کې او له نورو سره باید ښکاره نه وای چې د شدت تاپه یې پرې لګولې وای، دومره ځان ساتنه او ځاني ډسپلین یې له پښتنو څخه غوښتلو چې له معجزې څخه لږ راکم ورته ویلی شو.»
د ګاندي لپاره دغه یو ډېر ښه خبر و، نوموړي غفار خان او د هغه خدایي خدمتګارانو تحریک ته د مبارکۍ لیک واستاوه، غفار خان خو د یوه عامه لاریون پر وخت، له یوه بند څخه وروسته د خوشې کېدو پر وخت (د سرحد

ګاندي) ونومول شو، خو غفار خان په خپله دا چې ده ته (د سرحد ګاندي) وویل شي نه خوښولو او په دې یې نیوکې کولې. د ده له دې کار څخه چې خلکو به د سرحد ګاندي ورته ویل بد به یې ترې راتلل.
د ۱۹۳۴ز کال د اکتوبر پر دویمه نېټه غفار خان د محصلینو یوې لویې غونډې ته د خطاب پر وخت وویل:
«زه له تاسو څخه دا غوښتنه لرم چې ما ته د سرحد ګاندي مه وایاست، دا خو د دې لپاره چې اصلاً خو باید یوازې یو ګاندي وي، که دوه وي نو حتماً به شخړه رامنځته شي. مهاتما ګاندي زموږ جنرال دی او دلته خو باید صرف یو جنرال وي، نو د ګاندي نوم زما له نامه سره مه یو ځای کوئ.»
پاچا خان او ورور دواړو ته یې اجازه نه وه چې د سرحد او پنجاب ایالت ته داخل شي. نو دوی دواړو ګاندي ته (Wardha) وردها ته ورغلل؛ ان په همدې وخت کې ګاندي ډېر په کامله او پوره تلوسه او اشتیاق سره غوښتل چې له پاچا خان سره وګوري.
((نو ما یو ځانګړي امتیاز په دې کې لرلو»، ګاندي دغه خبره د مهادیو دیسای د کتاب په مقدمه کې، چې (دوه خدايي خدمتګاران) تر عنوان لاندې دی، کړې ده، لیکي:
«کله چې راشو دغو دوه ورونو ته هر څومره چې مې زیات وپېژندل، زیات د دوی خوا ته جذب شوم، زه د دوی خلوص، ښه نیت، صداقت او ښکاره ویلو ته حیران وم، ځکه د دوی خبرې سپینې، لوڅې پوڅې، ښکاره او ساده وې. همدا راته جوته شوه چې بالکل دوی په واقعي توګه سره په نه تاوتریخوالي او رښتیا باندې د پالیسۍ په ډول نه دي ولاړ، بلکې په هغې باندې عقیده لري. کشر ورور خو یې دا سې راته ښکاره شو چې له دیني مسایلو سره ژوره مینه لري او ژور فکر کوي، د ده عقیده (د ځان پر چا پېره) نه وه، ما ته جهان بین یعنې عالمګیر یا یونیورسالیست (Universalist) وځلېد. د ده د سیاست په اړوند شالید ما ته دا سې راڅرګند شو چې دی له مذهبي مطالعې، څېړنې او عقیدې څخه راوتلی وي.»

دغه فرصت خو د پاچا خان په ژوند کې د ده د تشکل لپاره ډېر اړین و، ده له مهاتما ګاندي سره د زړه- په -زړه خبرې په واردها کې د او سېدو پر وخت لرلې، د دوی لنډ توقف په اشرام کې له یو بل سره لا زیات نږدې کړل او په دې یې برلاسي کړل، چې یو بل ښه وپېژني. د ګاندي د خوشحالۍ او تفریح وخت به هغه و چې باچا خان سره به په خبرو او یا قدم وهلو لګیا و، ګاندي ته دا پوره جوته شوه چې غفار خان په واقعي او مکمله معنی او مفهوم د قرآن شریف یو پیرو فقیر انسان دی او غفار ته هم دا سې څرګنده شوه، چې مهاتما ګاندي هغه څوک دی، چې ځان یې خدای (ج) ته تسلیم کړی دی. ده له ګاندي څخه دا زده کړل چې نه تاوتریخوالی یو متحرک حالت دی، چې وجداني رنځ او زیار ترې افاده کېږي او همدا معنی لري. هغه ریاضت چې دوی د نه تاوتریخوالي قانون د تاوتریخوالي له زړه څخه کشف کړي، عملي کوي او همدارنګه په ډېره تازه او نوې طریقه سره یې توضیح او تشریح کوي.

د تنفر او دښمنۍ له منځه وړل د دغې موخې لپاره لومړی قدم دی، کوم چېرته چې دښمني وي، هلته خو په طبیعي توګه تاوتریخوالی زرغونېږي، بد ګماني هم کولای شي خبیثه یا منفي رول ولري. نو انسان باید له کرکې، تاوتریخوالي او بدګمانۍ څخه خپل ځان آزاد وساتي. انسان یوازې په دې صورت کې کولای شي چې خپل دماغ او روح پاک او سپېڅلی وساتي، چې د حق او حقیقت لار ونیسي. د اواتار (یو مذهبي ګروپ) خلکو به هم دغه شان تدریس ورکاوه، خو په بله ژبه، په عمومي ډول سره د ټولو ادیانو د پیغمبرانو اصلي موخه دغه ده.

له ګاندي سره د پاچا خان دغه لنډ مهاله او سېدنه دا ښکاره او په ډاګه کړه، چې دوی یو بل سره جذب او اغېزمن کړي دي. ګاندي ته دا سې معلومه شوه چې دوی له یو بل سره مشابه ایډیال (Ideal) څرګندونه او همدارنګه د ژوند یو شان لارې لري. ګاندي ته دا پوره جوته شوه چې پاچا خان یو خدایي (Man of God) یا روحاني کس دی.

د ۱۹۳۷ ز کال د اګست په میاشت کې پاچا خان د واردها (Wardha) څخه ولاړ، هغه کلی چې د ګاندي کور په کې و، د «ځوان هندوستان» په نامه یوه

اخبار کې دا مطلب د ده له اړخه لیکل شوی و، چې د ده په باور د ګاندي د نه تاوتریخوالي د تخنیک یوه مسئله د باور ده چې ده پکې ولیدله. غفار خان خو لا د مخه غوښتل چې له ګاندي سره له نږدې وګوري، ده په خپله هم په نه تاوتریخوالي باور درلود او همدغه خبره وه چې دی یې په خپل ایالت کې خلکو ته یو اتل ور په ګوته کړی و او تل به یې ویل، چې د نه تاوتریخوالي په هکله هېڅ شی د ده باور نه شي زیانمنولی او په هغه حساس وخت کې یې د خپلو ګرانو خلکو لپاره د یوې اړتیا په توګه ورته کتل.

په ۱۹۳۸ ز کال کې ګاندي د پاچا خان په بلنه د ځلورو اوونیو لپاره د سرحد ایالت ته ولاړ، له ګاندي سره سرې پیاري لال، ډاکټر سوشیلانایار او کنو ګاندي ملګري وو. دا خو د دواړو (ګاندي او پاچا خان) لپاره یوه له هیجانه ډکه تجربه وه. په حقیقت کې ګاندي ډېره زیاته مینه لرله چې دا سې فرصت ورته پیدا شي چې د دغې سیمې خلک ووینې، ویې پېژني او خبرې ور سره وکړي چې له دوی څخه په زرګونو میله لرې او دلته ګوښه او سېږي.

ګاندي ته خو دلته په عمومي توګه یو نوی نژاد څرګند شو، دوی خو د ماشوم په څېر عادات لري، پښتانه خو جګه ونه، ډنګر اندام او د سیم په شان کلک او ډېر کم پرته له وسلې له کوره د باندې وځي. همدارنګه پښتنو ته هم د ګاندي لیدنه د دوی لپاره یوه نوې تجربه وه.

په معمولي توګه به ګاندي هره ورځ خپل لمونځونه (دعاګانې) د جمعې په شکل ترسره کول. په هغو کې دا په ګوته کېدل، چې الله رحیم او یو دی، دغو پښتنو ته خو هېڅکله دا نه وه څرګنده، نو په دې اړوند د ګاندي جې لمونځونو او دعاګانو وکولای شول چې د مسلمانانو، هندوانو او سکهانو پر باور یو بل مثبت اغېز وکړي او دوی د یو والي خوا ته بوځي.

ګاندي خو دا موقع مساعده کړه چې د یوه مذهب خلک د بل مذهب پیروانو ته په درنه سترګه وګوري، د ده خطبو او ویناګانو د پښتنو په زړونو او مغزونو ژور اغېزه وکړه، د ده دغه سفر او ویناوې د دواړو پښتنو او خدايي خدمتګارانو پرګنو په ژوند هیلو کې نوې ساه پوه کړه او تازه روح یې په

کې پیدا کړ. نو موړي دغه زده کړه پښتنو پرګنو ته ورکړه چې یوازې د وسلې بد ګڼل، دغه مفهوم او معنی نه لري چې په دوی کې دې د نه تاوتریخوالي روحیه کاملاً شتون لري. اصلاً خو په زړونو کې زیات تاوتریخوالی شتون لري. دا به زیات وخت وغواړي چې وپوهېږو چې نه تاوتریخوالی پوره عملي شوی او په کار اچول شوی دی.
څه شي ته چې اړتیا ده، لومړی خو دا چې هغو ته رښتیني تمایل منځته راشي او هغه آزموینه خو خدایي خدمتګارانو په بریالیتوب تر سره کړې ده، دوی خو دا ښکاره کړې ده چې د هغوی له غړ سره ملګري او همغږي شي، د سرو کمیسونو اغوستل یا منظم مشق او تمرین کول خو خدایي خدمتګار نه جوړوي، بلکې خدایي خدمتګار هغه څوک دی چې په دې وتوانېږي چې د الله تعالی قدرت، چې د وسلې له قدرت سره ضد دی، وپېژني، یوازې د یوه سیستماتیک ټرېننګ او زده کړې له لارې دغه کار کېدلی شي.
د دې لپاره چې کوم څوک د تحریک غړیتوب حاصل کړي، دا حتمي و، چې قسم وخوري چې دی به هېڅکله له تاوتریخوالي (زور زیاتي) څخه کار نه اخلي، هېڅکله به انتقام نه اخلي او هېڅکله به د ظالم ملګرتیا نه کوي، که چا پر ده تېری وکړ، دی به بخښنه کوي. ټول پښتانه به ورته د ورور په شان وي او د ګاندي د لارو چارو د رغوونکي پروګرام له مخې به د خپلو خلکو د هوساینې لپاره کار کوي.
د دغو لارښوونو پر بنسټ چې د پاچا خان او د هغوی د خدایي خدمتګارانو له خوا پښتنو ته وشوې، دوی په بې ساري سرعت او همت سره د ګاندي د آزادۍ غوښتنې په مبارزه کې ګډون وموند او په شمال غربي سرحدي ایالت کې د یوې سیاسي قوې په شکل را څرګند شول.
ګاندي د خدایي خدمتګارانو له افسرانو سره په نوښار کې لید نه درلوده، خدایي خدمتګارانو له ده څخه له دې امله مننه وکړه چې دوی ته یې داسې قوي وسله ورکړې ده، چې د فولادو او ژېړو له وسلو څخه لا زیاته قوي ده. ګاندي هم دوی ته له دې کبله، چې د نه تاوتریخوالي لاریې نیولې ده، خپله مبارکي

ورکړه او دا يې هم ورته په ګوته کړل چې د يوه خدايي خدمتګار او يوه عادي عسکر ترمنځ څه توپير شتون لري.
خدايي خدمتګار بايد په دې پوه شي چې د کارونو بنسټ يې په تاوتريخوالي نه، بلکې په نه تاوتريخوالي ولاړ دی. په داسې حال کې چې يو عادي عسکر د دې لپاره روزل شوی دی چې وژنه وکړي، عسکر ته خو وژنه يوازينی فن دی، اما خدايي خدمتګار خو يوازې د پټې خولې خدمت لپاره روزل شوی دی.
خدايي خدمتګار بايد يو ملګری وي او په خپل کلي کې د ټولو باور او اعتماد لاسته راوړي، دی بايد په خپلو خبرو، کړو وړو او عادتونو کې يو نجيب، د ښې تربيې څښتن او لطيف انسان وي. ګاندي په ټينګار سره دوی ته وويل، که چېرې تر دې چې محض يو انسان له ستاسو څخه وويرېږي، تاسو په رښتيا خدمتګار نه ياست.
که چېرې له ګاندي سره د پاچا خان ليدنو له هغه وروسته پايلو ته او همدارنګه د هغوی د تحول په اړه نه تاوتريخوالي او د ده د باور او عقيدې په اړوند يو ژور انتقادي نظر واچول شي، د ده د ژوند د ډېر ژور بدلون ټکي د هغه غير عادي آزموينې مختـه راتـګ و، دی د هندوستان د وېش له مسئلې سره مخ شو.
ګاندي مولانا آزاد ته وويل: "که چېرې کانګرس وغواړي چې د هندوستان وېش ومني دا به زما وژنه وي. ترڅو چې زه ژوندی يم، زه به د هندوستان وېش ونه منم او په دې کې به هېڅ مرسته ونه کړم چې کانګرس ته د هندوستان د وېش اجازه ورکړم او دا وېش ومني." مسلم ليګ خو د بېته تيار نه و، چې يو انچ هم له خپلې غوښتنې څخه د پاکستان لپاره تېر شي، يوه زياته پيمانه وژنه او مصيبتونه او تاوتريخوالی د دغې غوښتنې لپاره وشو.
پټېل او نهرو (Patel and Nehru) د هندوستان د وېش لپاره جوړ جاړي ته ورسېدل، ګاندي وويل: دی (Jawaharlal) زموږ شاه (King) دی، خو موږ بايد داسې تر اغېز لاندې رانشو چې څه شاه کوي او يا يې نه کوي، که چېرې ده کوم ښه څه جوړ کړي وي، موږ يې بايد ستاينه وکړو او که چېرې

داسې نه وي موږ هم داسې وو ایو.»
د مونټ بټن پلان (The Mountbatten Plan) په دې وخت کې په سرحد کې عجیب و غریب حالات منځته راوړي وو ، د خان ورونو او پارټۍ یې تل د کانګرس ملاتړ کاوه. د ۱۹۴۶ ز کال په ټاکنو کې یې ماتې وخوړه او د خان ورونه په دې وتوانېدل چې په سرحد کې د کانګرس حکومت جوړ کړي، دا نو یوازینی د کانګرس حکومت و ، چې په یوه سیمه کې جوړ شوی و ، چې زیاتره خلک یې مسلمانان وو.
وېش او تقسیم د خان ورونه او د دوی حکومت د ډېر سختو تنګونو او مشکل حالت سره مخ کړي وو. کله چې د وېش د کار کمېټې خپله پرېکړه په ډاګه کړه او د هندوستان د وېش په هکله یې مثبته رایه ورکړه ، پاچا خان د څو دقیقو لپاره چوپ او حیران پاتې و ، حتی یوه خبره یې هم ونه شوای کړای «ما احساس کړه چې دوی د ټولو پښتنو د مرګ جزا صادره کړه.» «زه په هغه ځای کېناستلم، لاس او ګرېوان، مغشوش او پرېشان» بیا غفار خان کمېټې ته وویل: «موږ پښتانه ستاسو سره د آزادۍ په دې مبارزه کې څنګ په څنګ ولاړ وو او د هغې لپاره مو لویه قرباني ورکړې ده.»
اوس چې کانګرس دغه کار مناسب بولي چې ورسره ویې کړو ، نو هغه به د سرحد په ایالت کې پر ملي تحریک منفي اغېزې ولري، له پښتنو سره خو نه د وېش مسئله او نه هم د ریفرنډم طرحه د لیګ له خوا تر بحث او خبرو لاندې نیول شوې وه. اوس چې کانګرس د وېش مسئلې ته د خپل اپوزېسیون یا رقیب پر ګټه په داسې حالت کې ورتېر شو چې حتی د سرحد له لارښوونکو (لیډرانو ) سره یې په دې هکله کومه مشوره هم نه ده کړې.
ده (پاچا خان) دوی ته (The Congress Working Committee) اخطار ورکړ، چې پښتانه خو به ستاسې دغه عمل جنایت ګڼي چې دوی مو لېوانو ته واچول:
«موږ خو دغه مسئله د هند یا پاکستان ټاکنو ته واچوله او موږ خو په پوره پیمانه سره په ډېر لوي اکثریت دغه وګټل، آیا د هغه څه په اړه چې پاکستانیانو

وغوښتل څه شک شته؟ دغه خبره خو ټولې نړۍ ته ښکاره وه، دغه خو يو دليل و، چې موږ ريفرنډم نه غواړو او بل علت يې دا و، چې هند موږ ته وويل، تاسو په خپله تصميم ونيسئ، چې (هند يا پاکستان؟)»
ده وويل: که چېرې ريفرنډم هم شوی وای، د تل په شان به يې کانګرس ملاتړ کړی وای او که چېرې موږ په خپله کانګرس پرېښودی وای، نو پرنګيانو به هغه څه راکړي وای، چې موږ غوښتل، خو موږ ونه غوښتل چې له کانګرس نه تري ولاړ شو. زه په دې باور لرم، که چېرې کانګرس په دغې مسئلې ټينګار کړی وای او په کلکه يې لکه د ګوردسپور (Gurdaspur) په شان په ټينګار غوښتنه کړې وای، پرنګيان «The British» به ورته غوږ شوي وو.
نو موږ ي خو څو څو ځلي کانګرس ته وويل، که چېرې يې اوس ګانګرس دوی خپل ورونه ګڼي نه دښمنان، ورباندې وبه خاندي، حتی الله تعالی به هم د کانګرس دغه غداري او خيانت، چې دوی د خدايي خدمتګارانو سره وکړ او هغه کسان يې ورته په ګوته کړل چې د هندوستان وېش يې قبول کړ، هېڅکله ونه بخښي.
ګاندي خو د غوښتنو په ترڅ کې په دې کې موافقه وکړه چې دغه موضوع به د «لارډ مونټ بټن» (Lord Mountbatten) سره مطرح کړي. ګاندي جي له همدې امله دغه مسئله له لارډ مونټ بټن سره تر څېړنې لاندې ونيوله، ده ورته وويل چې دی به د وېش له پلان څخه طرفداري ونه کړي، چې په دغه پوره ډاډمن شوی نه وي چې «Muslim League» مسلم ليګيان له خدايي خدمتګارانو سره يوه مناسبه معامله ونه کړي؛ دا ځکه چې خدايي خدمتګاران اوږه پر اوږه د ده تر څنګ په ډېر صداقت، مېړانه او رښتينولۍ سره په ډېرو سختو وختونو کې ولاړ وو.
د لارډ مونټ بټن په نوښت جناح او غفار خان په ډهلي کې سره وليدل، جناح خو يو څه خواخوږي درلوده، غفار خان ته يې وويل، کله چې د کانګرس او مسلم ليګ جوړ جاړی وشو، هغه ولايتونه چې مسلمانان په کې زيات دي، هغوي به ځانته او په جدا شکل دولت جوړوي. د سرحد په ولايت کې مسلمانان زيات

دي، نو داده چې دوی به په پاکستان کې شاملېږي.
بیا خو غفار خان په دې مسئله ډېر ټینګار وکړ، ویې ویل چې که چېرې رېفرنډم وشي، پښتانه به د سرحد په ایالت کې دا حق ولري، چې باید یو مورنی وطن (پښتونستان) ولري. نه جناح او نه هم لارډ مونټ بېټن دغه خبره ومنله. مونټ بېټن وویل چې د سرحد ایالت باید یو جلا او مستقل دولت و نه لري، بلکې باید په هند یا پاکستان کې شامل شي.
د غفار خان او د ده د مشرورور ډاکټر خان صاحب په نظر خو د دوی دا ډول انګېرنه پوره توهین او بې عدالتي وه. ضمناً په هندوستان کې به هر چېرې چې غونډې وې استازیو به ورڅخه پوښتنه کوله چې آیا غواړې په هند کې پاتې شي او که غواړي له پاکستان سره ولاړ شي، زما د سرحد د ایالت اسامبلۍ ته خو دا حق نه و راکړل شوی چې ویې ټاکي.
پښتنو خو دغه شکل معامله ګري د خپل ځان لپاره سپکاوی او تحقیر ګڼلو. هماغه و چې تصمیم و نیول شو چې له ریفرنډم سره یې بایکاټ وکړ، چې په دې توګه نړیوال له دې ډول یوې عمومي بې عدالتۍ څخه خبر شي چې په دغو خلکو تپل کېږي.
د وایسرای فرمان، خو د ریفرنډم لپاره تبعیض لرونکې بڼه درلوده، په وروسته وختو کې خان دا په ډاګه کړې وه چې د پرنګیانو د وتلو ډالۍ دا وه، مونږ ونه منله. غفار خان ته دا وضعیت یو خوب او خیال و، ده به تل د یوه موټي واحد هند لپاره مبارزه کوله، ده به ویل چې یو «وېشلی» هند به داسې وي، لکه یوه زړه پرېښودلې کوډله (کور)، دی به تل په دې هیله کې اوسېده او ځان به یې ورباندې خوشحاله کاوه، تر وروستیو شېبو پورې چې د لارډ مونټ بېټن پلان د کانګرس او مسلم لیګ له خوا ومنل شو، د دغه پلان منل د کانګرس او لیګ له طرفه د خان په وروڼو او خدایي خدمتګارو ژورې اغېزې وکړې. دوی ته دا ښکاره وه، په داسې حال کې چې دغه سیمه زیاتره د مسلم سیمه ګڼي، نو باید په پاکستان کې وي، دا مفهوم لري چې پښتانه او خدایي خدمتګاران به د مسلم لیګ تر حکم لاندې ژوند

کوي، د سرحد په ایالت کې د خان ورو‌ڼو او د دوی د خدایي خدمتګارانو ګوند پاکستان ته وژونکي دښمنان وو.

د مسلم لیګیانو په سترګو کې د خان ورو‌ڼه هندوان وو او د دوی د خدایي خدمت کوونکي (Servants of God) یوازې د هندوانو خدمت کوونکي وو. دغه غیر انساني او غیر اسلامي کړه وړه، زور زیاتی چې مسلم لیګیانو د دین او مذهب تر نامه لاندې کاوه، د خان ورو‌ڼه او مسلم لیګ یې لا نور هم یو له بله لرې کړل. د دوی ترمنځ د دوستۍ، مینې او محبت پرځای یوازې بدبینۍ او دښمنۍ دوام پیدا کړ.

د خان ورو‌ڼو د دارنګه ارزونې او انګېرنې په منطق نه پوهېدل او نه یې غوښتل یا یې نه شوای کولای چې د دارنګه متخاصمو تر سیوري لاندې ژوند وکړي. نو د داسې شالید په شتون کې دوی دا غوښتنه لرله چې د «هند یا پاکستان» د ټاکنې پرځای به ښه دا وي، چې باید پر یوه دریم الترناتیف (متبادل) فکر وشي، یو مستقل «پښتونستان» یعنې د پښتنو وطن (مېنه) ومنل شي.

غفار خان به ویل: «ما په ټول ژوند کې د پښتونستان د تأسیس لپاره کار کړی، د دې لپاره د پښتنو یووالي په کار و، نو ځکه مو د خدایي خدمتګار موسسه په ۱۹۲۹ ز کال کې پیل کړه، پر هغو اصولو حتی نن هم ولاړ یم، نو زما د ژوند د حرکت مسیر پوره ښکاره دی، زه به دغه هېڅکله تر شا نه کړم حتی په نړۍ کې به‌یخي په دغه کې یوازې وم، لکه د یو یونټ پلان سره مې له دې امله مخالفت وکړ، چې په غربي پاکستان کې زما د محبوب سرحد له ادغام کولو څخه ځان ساتنه وشي.»

دی په ټول پاکستان کې وګرځېد «اما هېڅ‌چا ماته غوږ ونه نیوو او ریفرنډم په زور وتپل شو، هر کله چې موږ د مسلم لیګیانو په خاطر په هغې کې برخه وانه خیسته، دوی خو چل او ول نه کار واخیست، چې په زور سره به دا کار وکړي.»

د مسلم لیګیانو شعار دا و: آیا خپله رایه جومات ته ورکوئ، که ټمپل

(Temple) - د هندوانو عبادت ځای- ته؟ پرنګیان (British) هم په ریفرنډم کې بېطرفه پاتې نه شول.
هندوستان ټایمز د ۱۹۴۷ ز کال د جولای د میاشتې د دریېمې ورځې په ګڼه کې د لیګ له یوه فعال غړي څخه د یوه محلي کس چې ملا جلال الدین نومېده راپور نشر کړی و، چې هغې د هزاره ضلعې (هزاره ولسوالۍ) په یوه جلوس کې دا غوښتنه کړې وه، چې له پاکستان څخه ملاتړ وکړي، حتی له هزاره نه تر مخه هندوان او سکهان باید په واضح شکل سره خپله طرفداري د پاکستان له تأسیس څخه وکړي او د دغه اعلان یوه نقل یې د لیګ دفتر ته هم لېږلی دی، چې دلته په دغه ولسوالۍ کې خلک له سولې څخه په ډکه فضاء کې ژوند وکړي.
څرنګه چې خدايي خدمتګارانو په ریفرنډم کې برخه وانه خیستله، داسې ادعاوې کېدې چې د ناسمو رای (Vote) پاڼو په غلطو نومونو سره د مسلم لیګیانو له خوا په کار اچول شوې وې. پاچا خان وایې «هماغسې چې ما ګمان درلود، حتی د (خان امیر محمد خان) په نامه هم ناسمه (تقلبي- ساختګي) رایه (Vote) ثبت شوې وه.»
دوی وکولای شول چې په بریالیتوب سره یو لړ کارونه چې اصلاً ناسم (ساختګي) وو تر سره کړي، مسلمانان له نورو برخو یا ځایو څخه هم په آزاد شکل سره په کې شامل شوي وو، پاچا خان خو یوازې دا کولای شوای، چې دغه جریانونه ګاندي جي ته انتقال کړي، د هغو مونټ بټن ته: «پاچا خان له ما څخه غواړي چې پام دې ته را واړوم چې پنجابي مسلمانان په آزادانه شکل سره لګیا دي چې د سرحد پر ریفرنډم د دوی په ګټه اغېز واچوي، دغه لاسوهنه د وینو تویونې خطر ببخې ډېر خلې زیات کړی دی.
همدارنګه دی راته وایي چې غیر مسلمان مهاجر چې شمېر یې زرګونو ته رسېږي وېرول کېږي، که چېرې مو په ریفرنډم کې برخه وانه خیستله، نو درنې خرابې جزاګانې به درکړل شي.
دا په ننني ورځپاڼه کې زه لولم چې له جناح د خولې یې لیکلي دي، چې که

پښتانه له رايې اچونې څخه ډډه وکړي، دغه انکار به د ريفرنډم د شرايطو ماتونه منځته را نه وړي، زه خو دغه راز توان په چا کې نه وينم.»
کله چې د شمال غربي سرحد ايالت د پاکستان يوه برخه اعلان شوه، نو په دې خاطر وو چې دغه وېش ونه مني او احتجاج وکړي، پاچا خان او د ده ملګرو او ملاتړ کوونکو له ريفرنډم څخه ډډه وکړه. اما پاچا خان او وروريې ډاکټر خان دا نه ويل چې دوى ماتې خوړلې ده، دوى داسې انګېرله چې دغه وضعه يوه نوې ننګونه ده، چې د دوى مخې ته اچول شوې ده. دوى داسې ګمان کاوه چې دوى يوه بله نوې مبارزه پيل کړې ده، دوى د دې لپاره چې پښتنو ته يو وطن او تاټوبى تحقق ومومي، خپلو هڅو ته د عامه روزنې، وينښولو او يو ځاى کولو په برخو کې دوام ورکړ.
د پاچا خان د ارادت او عقيدې اصلي منظور دا و، چې خپل خلک محض او محض دې ته راوبولي، چې د نويو پاکستانيو واکدارانو په مقابل کې ژور او له دښمنۍ څخه ډکو نيوکو ته دوام ورکړي. د ده سرکښه، آزادي غوښتونکې روح هېڅکله ماتې نه ده منلې، د ده ډېر ټينګ باور پر دې و، چې د هندوستان په نيمه وچه کې د يوه جلا مسلمان هېواد نقشه کول، چې د ملي حاکميت خاوند وي، د هېڅ يوه مملکت پر ګټه نه دى. د يوه داسې مملکت له جوړېدو څخه لکه هند چې مختلط او مرکبه ځېره او د يوه پخواني تمدن زانګو وي، له مذهبي پلوه د يوه دولت د تأسيس او منځته راتلو لپاره، دغه هڅې او ټول کوښښونه به هسې بېځايه وي، کوم مشکل به حل نه کړي، حتى نوې ستونزې به رامنځته کړي، ملي ګټو ته به تاوان ولري.
ده د هند وېش د دې لپاره چې د (مسلمان - هندو) وحدت او يووالى تأمين شي، دا خبره يې له دې سره پرتله کوله چې د يوه لبوني سړي نسخه د يوه ناروغ لپاره چې سر يې خوږېږي، داده چې د هغو سر غوڅ کړي چې درد يې ورک شي.
د ده وړاندوينه د يوه شعور، روحانيت، رښتينولۍ او دقت پر بنسټ او تهداب بناء شوې وه، چې بيا به د دغو ممالکو راتلونکې وضعه څنګه وي.
دغه مملکتونه به په طبيعي شکل سره يو د بل په مقابل کې د شخړو

تمایلات ولري، نو دا مفکوره چې مذهبي نږدېوالي هغه سیمې چې په جغرافیاوي، اقتصادي، ژبني او کلتوري ملحوظاتو سره ګوښې وي، یو له بل سره یو ځاي کولای شي، ناسمه ثرګنده شوه، حتی تر دې حده چې د وېش طرحه ومنل شي، دغه یعنی وېش د یوه ډېر بد زېری او تهدید طوفان و، چې دغه وخت نازل شو او ځنګه چې مولانا آزاد هم ورته اشاره کړې ده، د یوه جلا دولت منځته راتلل، د پښتنو لپاره خو یوازیني الترناتیف (متبادل) و.

د خان له ورونو سره او دغه خبره خو د لاهور تاریخي پرېکړې سره چې مسلم لیګ په خپله منلې وه موافقه وه. جناح او پاچا خان یو تربله متفاوت کلتوري شالیدونه لرل، د دې لپاره چې یو ګوښي پاکستان رامنځته شي، جناح د هېڅ ډول تاوتریخوالي نه له ډکو اعمالو څخه پر حکومت د فشار اچولو لپاره ډډه ونه کړه، غفار خان خو له ورځنیو شرایطو او ایجاباتو سره سم خپلې غوښتنې عیارې کړې، دا خو هغه وخت دی چې د هند په وېش سره سلا شوي دي.

دی (پاچا خان) وایي:

«اوس نو د پاکستان شتون په یوه حقیقت اوښتی و، او کانګرس او مسلم لیګ دواړو دغه حقیقت قبول کړی و، ما خو یوازې دا غوښتل چې خپل مملکت او خپلو خلکو ته خدمت وکړم، بې له دې چې کومه برخه پکې وغواړم، اوس نو زما خلک د پاکستان وفاداره اتباع (Citizens) دي او موږ به خپله هڅه د ښېرته جوړولو او د مملکت په پرمختګ کې ترسره کوو.»

د اتحاد په منظور یې سوګند وکړ چې پاکستان زما مورنی ځمکه ده، د خان ورونو دا خبره په ډاګه کړه چې د پاکستان د ګټو لپاره به خپلې هلې ځلې او کوښښونه او خدمتونه وکړي، پاچا خان د موسسانو په غونډه کې حاضر و، ده د پښتونستان په اړه پاکستاني واکدارانو ته توضیحات ورکړل، ده ویل چې د پنجاب، بنګال، سند او بلوچستان په ډول چې د پاکستان د ولایتونو نمونې دي، پښتونستان به هم د پاکستان په چوکاټ کې د پښتو ویونکو خلکو

ولایت وي، ده د پرنګي (British) د حکومتدارۍ په څېر د پارلماني شکل او حکومت څخه طرفداري کوله، چې اعظمي ایالتي (محلي) اختیارات پکې وي، بې له دې چې مرکزي قواوې له حد او حصر څخه په محلي چارو کې مداخله وکړي، البته په دې نوع کې هم موافقه وشوه او آیین قبول شو.
د پاچا خان مخالفین (مسلم لیګ) چې د داسې یوې موقع لپاره منتظر وو، د ده د خبرو او توضېحاتو په رڼا کې له فرصت څخه استفاده وکړه، دی یې د پاکستان دښمن او د هند او افغانستان ایجنټ وباله. مخالفینو به ویل، چې د پاکستان په چوکاټ کې په پاکستان کې د یوه آزاد پښتون ایالت جوړېدل یوه ناسمه مفکوره ده، ځکه چې زیات په دې نظر دي چې د کلتوري تاریخي اړیکو او نږدېوالي پر بنسټ چې پښتانه یې له افغانستان سره لري، په راتلونکي وخت کې کېدای شي د کوم کوښښ په ترڅ کې له افغانستان سره یو ځای شي، نو هماغه و چې دی یې د افغانستان د لاس د آلې په توګه تورن کړ او تور یې پرې ولګاوه.
ګاندي په دې هکله لیکلي دي:
«د پښتونستان مسئله، خو نوې داړل (مخ شکول) وه، چې د پاچا خان پر مخ بهانه ګیري شوه، حتی د دې د مخه چې د کانګرس د حکومت (وزارتونه) منځته راشي، زما په یاد دي او ماته معلومه وه، چې پاچا خان په خپل فکر کې د پښتنو لپاره داخلي استقلال درلوده، ده نه غوښتل چې یو نوی اضافي دولت ایجاد شي، ده غوښتل چې نهایت د یوه محلي آیین په چوکاټ کې د غه کار ترسره شي، خو زیاته جدي ادعا چې د ده پر خلاف کېده، هغه یې د افغانستان لاسپوڅی باله. ماته داسې ښکاره کېده چې دلته کومه پټه لاسوهنه نه وه، ده نه غوښتل چې د سرحد ایالت دې افغانستان جذب کړي»
خو ګاندي ته د چا غوږ نه و، د غفار خان دغې غوښتنې ته چې د پښتنو لپاره دې د یوه نیمه مستقله ځمکه «وطن» وي، په ډېر سپکاوي او حقارت کتل کېدل، حتی دا به یې ویل چې په راتلونکي کې له هند سره یو ځای شي، خو هغو کسانو چې غفار خان ورته معلوم و، پرې پوهېدل چې غفار خان داسې

ستړه نه ده چې تيوري له چا څخه واخلي.
داسې نو هېڅکله نه وه، د ده کس ذاتي حرمت، صداقت او وفاداري قابل د بحث او پوښتنې نه وه، يو وخت خو جناح د ده په حرمت پوه او کوښښ يې کاوه چې د مسلم ليګ په طرفدارۍ يې راواړوي، خو زياتو بندونو او د قدرت لېونيانو په تېره هغه څوک چې جناح ته نږدې وو، د جناح موقف يې د ده په هکله منفي کړی و، غفار خان خو دغه خبره په ډاګه کړې وه چې ده هېڅکله او هېڅ وخت نه دي غوښتي چې دی له پاکستان څخه د کامل جدا والي پلوی دی، پښتانه د پاکستان د نورو مېشتو قومونو لکه سنديانو، بلوچانو، پنجابيانو او بنګاليانو په څېر يوازې د يوې محلي حوزه يي آزادۍ غوښتنه لري، څنګه چې دغه نور عناصر به دلته ژوند کوي، يو تر بله به د سولې په فضاء کې او سېږي، پښتانه هم دا غوښتنه لري چې په سوله کې ژوند ولري، بې له دې چې مرکزي مقامات په کې يو لوی لاس ولري.

# درییمه برخه

پاچا خان خپل عام ژوند په ۱۹۱۰ز کال کې، کله چې شل کلن ځوان و پیل کړ. له خپل شپېته کلن عامه ژوند څخه یې نږدې دوه دېرش کلونه په پرنګیي او پاکستاني جېلونو کې تېر کړل. له ۱۹۴۷ ز کال څخه د مخه کلونه د هندوستان د آزادۍ اخیستلو لپاره وو، خو له ۱۹۴۷ ز کال وروسته کلونو څخه د څه لپاره؟

د عبدالغفار خان د بندیتوب په اړوند په مستقل پاکستان کې داسې تبصرې کېږي، چې عبدالغفار خان غوښتل چې سرحد ایالت د هند یوه برخه وګرځوي. دا هسې یوه سرکاري انګېرنه وه، په دې غوښتنه کې ناکام شو، غوښتل یې چې په پاکستان کې دغه ولایت یو جلا ولایت وي چې دی وکولای شي د سرحد منطقه د افغانستان یوه برخه وي. دغه خبره پرته د پاکستان له ولسمشر ایوب خان څخه بل چا نه کوله.

هغه څه چې ولسمشر ویل که هغه سم وي، له هېچا څخه باید شکایت ونه شي، ځکه چې دا د یوه مستقل حکومت دنده ده چې د خپلو ملي ګټو ضد عناصر د میلو تر شا واچوي، خو دغه راز ادعا کله داسې د یوه لیډر په باب نفې شي، لکه غفار خان غوندې، بیا خو نو د حکومتي مقامونو وظیفه ده چې هغه ثابته کړي. خو بدبختانه پاکستان په دې کې ناکام شو، چې د خپلو ادعاوو په اړوند کوم د تلامل وړ ثبوت عوامو ته وړاندې کړي. اوس خو د «پښتونستان» کلیمه په دې دومره مشهوره نه ده، چې له جدایۍ یعنې جلاتوب سره تړلې وه.

حقایق خو حقایق دي، هر هغه کوښښ چې د غفار خان په باب وشي چې د خپلو خلکو په راوېښولو کې یې یو بې ساري او ډېر مهم رول نه دی لوبولی، دا به د تاریخ مسخ کول او له تاریخ سره جفا وي. دا باید ومنل شي چې همدا غفار خان و، چې د ملت غوښتنې د روحیې څراغ یې هلته ولګاوه چې سرتېري غوندې

پښتانه يې د هندوستان د نيمې لويې وچې د آزادۍ په مبارزه کې مخکښان ودرول، ده د يوه آزاد هندوستان په خاطر او د ګاندي جي د خوبونو د تحقق لپاره مبارزه وکړه. ده له مسلم ليګ سره کومه اړيکه نه درلوده، ده باور لرلو چې د ليګ اصلي بنياد و نورو اديانو ته په کرکې باندې ايښودل شوی دی او په واقعيت کې د هندوتوب ضد دی.
د باچا خان خو جناح خوښېده، خو ده ورسره په سياسي ملحوظاتو هوکړه نه شوای کولای، ده به ويل چې دا خبره سمه نه ده چې د نژاد له مخې هندوان او مسلمانان سره جلا دي، زيات مسلمانان خو د مغلو د يرغل په وخت کې مسلمان شوي دي. د جناح نيکه هم هندو و. په هند کې هغه وخت کوم داسې ځای نه و، چې يوازې د هندوانو يا مسلمانانو وي، دلته خو د تاريخ په اوږدو کې مسلمانانو او غير مسلمانانو يو تر بله نفوذ کړی او سره ګډ او سبدلي دي.
د دې لپاره چې د جناح غوښتنه د پاکستان لپاره د دې خبرې قبلول دي چې مسلمانان د يو بل نژاد غړي دي چې له نورو سره يې هېڅ ډول اړيکې او نږدېوالی نه درلود.
دی (غفار خان) باوري و، چې دغه ټولې نارې چې د پاکستان د منځته راتلو لپاره رواني دي، دا ټولې مصنوعي دي چې د جناح په لاس اچول شوي دي چې د قدرت لېونی دی او غواړي چې له کانګرس څخه انتقام واخلي. جناح له کانګرس نه استعفاء وکړه او د مسلمانانو او هندوانو په تيت او پرک کېدو يې پيل وکړ، د هندو موهاسبها (Hindu Mahasbha) او (ار، اِس، اِس- RSS) چې د هندوانو تفوق (Hindus Supermacy) يې موخه وه، د ټول هندوستان لپاره يې د هندو راج - Hindu Raj- غوښتنه درلوده.
جناح په پوره برياليتوب سره د کانګرس پر ضد د League موسسه ايجاد کړه، په ملي کانګرس کې د مسلمانانو غړيتوب په پرلپسې توګه مخ په کمېدو شو. مسلمانانو ته ويل شوي وو، که هر سيستم د حکومت د معمولي ټاکنو پر بنياد رامنځته شي، مسلمانان به هېڅکله له خپلو حقوقو

ځخه دفاع ونه کړای شي او يو غير منصفانه عدالت به د هندو په تلپاتې ډول سره دوام ولري.
پرنګي زمامدارانو او ځواکمنو دوه مخي کوله، يا په بله وينا ډبل رول Double Role يې درلود، ډېرو يې نه غوښتل چې دلته د پرنګي استعمار امپراطوري بيا ووينې او هغه وزغمي، نو د جوړ جاړي په هڅو کې يې ناغېړي کوله، دا خو يو ښکاره واقعيت دی چې د جناح ډېر نږدې ځانګړي مشاوران پرنګيان وو.
د يوه مهم ولايت برتانوي حاکم له لاسه يو ځلې په سمله کې يو کنفرانس چې په هغه کې مسلمانان او هندوان راغونډ شوي وو، ماتې وخوړه. يوه بله برخه له ډېر لويو پرنګي ځواکمنو ځخه صرف د احساساتو پر بنسټ مسلمان پلوه (Pro-Muslim) وه او په دې لټه کې وو چې ځرنګه د (هندو - مسلمان) د دښمنيو اور ته لمن ووهي چې خپل ځان برحق وښيي.
جناح پوره ځيرک او فرصت لټوونکی و، چې د غريبو مسلمانانو له مذهبي احساساتو ځخه يې ګټه پورته کوله. ده به ويل چې اقليت مسلمانان به د هندو زيات قوي اکثريتو له خوا تر پښو لاندې کېږي او تل به زجر او ظلم ورسره کېږي، يوازينی د حل لاره يې داده چې بايد مسلمانانو ته يو ګوښې ملت ايجاد شي،دا د دوه ملتونو تيوري مسلمانانو ته د يوه مورني وطن وړانديز او منل ښکارېدل.
د ۱۹۴۰ز کال د مارچ په مياشت کې ليګ په لاهور کې سره غونډ او خپل رول يې په پاکستان کې تعريف کړ، چې مسلمانان ځرنګه وکولای شي خپلې موخې او سرنوشت په هغو کې وټاکي؟ دين به يې خوندي او خالص وي.
د خپلو سياستوالو لازمي قدرت وخېږي، په اداره او دفتر کې د کارګرانو لپاره چې په لټه کې دی تنخوا ګانې برابرې کړي. د دغه کنفرانس په پايله کې جناح په هندوستان کې د مسلمانانو د وياند په صفت وځلېد، مذهبي دښمني بنده شوه او د يوه خونړي طوفان په څېر ښکاره شوه، کليوالي يا محلي چور او چپاول په ډېرې چټکۍ سره د ملک هرې سيمې ته خپور شو،

دغه ټول غیر انساني فعالیتونه پېښېدل، خو عبدالغفار خان ځان په یوه څنډه کې لرې نیولی و.
لیګ خو خان عبدالغفار خان او د ده ورور ډاکټر خان صاحب ته د سر د دښمنانو په څېر کتل، زیاتره د پښتنو مسلمانان وو، خو دوی ته اجازه نه وه ورکړل شوې چې د مذهبي تعصباتو له خوا ناسمه لارښوونه ورته وشي.
کانګرس له پرنګیانو څخه وغوښتل چې هند پرېږدي، خو لیګ ترې وغوښتل چې هند وویشي، بیا یې پرېږدي.
غفار خان کوښښ وکړ چې لیګ دې ته وهڅوي چې د کانګرس ترڅنګ ودرېږي او ده له لیګ څخه غوښتنه وکړه، چې له کانګرس سره همکاري او مرسته وکړي چې هند یو ولسواک (دیموکراتیک) جمهوریت شي.
باچا خان دا خبره لیګ ته وکړه:
«که هندوان یې ومني، موږ به له فدریشن سره یوځای شو او که دوي یې قبوله نه کړي، زموږ ولایتونه به فدراسیون پرېږدي، بیا به زه په دې لټه او هڅه کې وم چې د فدریشن له غړیتوب څخه تېر شم او زموږ ولایت یو د حاکمیت څښتن دولت شي.»
«ته هندو شوی یې»، دغه یو لنډ غیر مؤدب او له بې شرمۍ څخه ډک ځواب هغه چا پاچا خان ته ورکړ چې د دوه ملتونو د تیورۍ اتلان بلل کېږي.
عمومي ټاکنې چې په ۱۹۴۶ ز کال کې ترسره شوې، یوازینۍ پایله یې دا وه چې د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ مذهبي دښمني لا زیاته کړي. د شمال غربي سرحد ایالت (پښتونخوا) په غوڅ ډول کانګرس ته بیا راغی، د کانګرس په داسې یوه ولایت کې چې ټول وګړي یې مسلمانان وو، دا د کانګرس لویه بریا او لاسته راوړنه وه او دغه خو جناح ته یو لوی ګوزار و.
جناح خپل غږ د پاکستان مستقیم اقدام لپاره اوچت کړ، ترڅو یې وایسرا دې ته اړ کړ، چې د دوه ملتونو تیوري ومني او په دې کې جناح بریالی هم شو. پرنګیانو به داسې استدلال کاوه:
«څرنګه موږ کولای شو چې هند ته آزادي ورکړو، په داسې حال کې چې

هندیان نه شي کولای تصمیم ونیسي، څرنګه او څه ډول آزادي ولري؟ که مونږ د کانګرس نظر ومنو او ټول هند ورته وسپارو، مسلمانان به پاڅون وکړي، داخلي شخړه به پیل شي، که چېرې مونږ پاکستان ومنو، کانګرس به خپلې قواوې مارش او د وېش په شخړه به پیل شي.»
دغه راز انګېرنې او ملاحظات په ښکاره توګه د هغو پرنګیانو چلونه راسپړي چې په ډېر فعال شکل سره په دې لټه کې وو: «وېش وکړه بیا حکومت پرې وکړه» او «ویې وېشه او بیا یې پرېږده».
(“divide and rule” and “divide and quit”)
جناح له مسلمانانو څخه وغوښتل چې د اګسټ ۱۲مه د «مستقیم عمل ورځ» (Direct Action Day) و لمانځي چې په خپله غوښتنه زور واچوي، څنګه چې جناح دغه په ډاګه کړه، نو دا ورځ د اګسټ ۱۲مه د هند په تاریخ کې په یوه توره ورځ بدله شوه. دواړو خواوو، هندوانو او مسلمانانو په ډېر وحشیانه او بېرحمانه ډول غبرګون وښود او د جناح نارې ته یې ځواب ورکړ.
کلکته د ترسناکې وینې تویونې او قصابیو شاهده وه، د مذهب (Relegion) په نامه پوره درې ورځې د ټول ښار دواړه لوري- هندوان او مسلمانان- له یو بل سره لاس و ګرېوان وو. له شپږ زرو ۲۰۰۰ ډېرو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ، یا یې یو بل سره وویشتل او مړه یې کړل، له شلو زرو ۲۰۰۰۰ اضافه د بې ګناهو او معصومو انسانانو په شمول په ښځو او ماشومانو جنسي تېري وشول، په کرورونو روپۍ لوټ، تاراج او له منځه یوړل شوې. څنګه چې یو برتانوي لیکوال وايي: «ناپاکه وینه تویېدنه، له وېرې ډکه قصابي چې کلکته یې د ۱۹۴۶ ز کال د اګسټ په میاشت کې په ۷۲ ساعتونو کې په مسلخ واړوله، د دې څخه لا زیات اهمیت لري، نه دا چې بې ګناه انسانان په کې ووژل شول، بلکې د هغوی امیدونه هم ووژل شول، دغو پېښو د هند خېرې ته د تاریخ په اوږدو کې تغیر ورکړ.»
د کلکتې اړو دوړ د هند نورو برخو ته هم خپور شو، دا خو ښکاره وه چې

یوه ناپاکه اراده او خبیث لاس د دغو ناپاکه اعمالو تر شا و، چې دغې لوبې ته دوام ورکړي.
په دې اړه غفار خان لیکي:
«آیا د دغو کرکجنو او ناپاکه پلانونو تر شا مسلم لیګ د کومې د سیسې یا توطئې په لټه کې و؟ آیا دغه د نفرت او انتقام له اورونو څخه چې په ملک کې یې بل کړی و، منظور او موخه څه وه؟ ولې یې خپل لاسونه د وطن د خلکو په وینو سره وو، د دغو ټولو ناخوالو مفهوم او معنی داده چې مسلم لیګ غوښتل چې یا یو مطلق قدرت ولري او یا هم دوی غوښتل چې دغه ملک ټوټه ټوټه کړي.
پرنګیان پر دې خوشحاله وو چې مسلم لیګ د دوی د لاس آله ده، د دې عامل دا و، چې په لندن کې د کارګرو حکومت په دې باوري کړي ترڅو د هند خلک په پوره ډول نه شي کولای چې د آزادۍ مسئولیت په غاړه واخلي.»
د دغه کلیوالي تاوتریخوالي او ترهګرۍ لمبې په ډېرې چټکۍ سره د ملک نورو سیمو ته خپرې شوې، تر اکتوبر پورې د دغه توپان لوی مرکز ډاکه (Decca) وه، خو په منډه منډه نوخالي (Naokhali)، چټه ګانګ (Chittagong) او هوره (Howrah) ته هم وغځېد.
هندوان به ګاونډ بهار (Bihar) ته راتلل، مطبوعاتو ته به یې کیسې به یې کیسې کولې، هندوانو او سکهانو د مسلم لیګ په شان د اکتوبر **۲۵**مه یې د نوخالي ورځ ونومولو، شعار به یې ورکاوه: «وینه د وینې پر ځای» (Blood for Blood).
دوی وروسته له انتقام اخیستلو څخه چې په هغه کې یې په پټه خوله د لېونتوب اعمال، لکه چور او چپاول او په زیاته پیمانه وژنه ترسره کړه، د دې اړو دوړ (Riots) پایله دا وه چې نږدې **۵۰۰۰** کسانو ژوند له لاسه ورکړ. غفار خان له دغه اړو دوړ څخه په ژوره توګه اغېزمن وو، په همدې وخت کې مسلم لیګ غوښتل چې د ده په ولایت کې د مسلمانانو په طرفدارۍ له هندوانو څخه هلته انتقام واخلي، خو په شمال غربي سرحدي ولایت کې د دغه غیر انساني

اعمال ګرد سره و نه شول، دا خو هلته د پاچا خان د شتون برکت و.
د ډاکټر خان صاحب صوبايي حکومت شپه او ورځ د وضعيت ثارنه کوله او په پرلپسې توګه يې پاملرنه کوله، چې د مسلم ليګ په لاس کومه ناخواله رامنځته نه شي، دوارو ورونو پر دې ټينګار کاوه چې د بېلابېلو جمعيتونو په منځ کې همغږي او يووالی ډېر ضروري دی.
ګاندي له نوخالي (Naokhali) څخه په ډېره بېړه بهار (Bihar) ته ولاړ چې د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ د سولې د سرو زرو پُل د غفار خان په ملتيا جوړ کړي، نو له غفار خان څخه يې هم غوښتنه وکړه، دوی لوټ شويو سيمو ته ولاړل، ګاندي په دې باب د خپلو سترګو ليدلی حال ليکي:
«د پسنا په ولسوالۍ کې مسلمانانو ته درونډ تاوان رسېدلی و، په ټول بهار کې کورونه لوټ، تالا، له منځه تللي او اور يې وراچولی و او محو شوي وو او زيات خلک وژل شوي وو. ما ټولو کليو ته سفر وکړ، هر چېرې ويجاړتيا او خرابۍ په سترګو ليدل کېدلې، زياتو خلکو کډه کړې وه، کوم څوک چې هلته پاتې او ژوندي وو، هغه کمپونو ته وړل شوي وو، خو له دغه ويجاړيو او خرابيو سره مسلم ليګ لا اوس هم له خپل تخريب څخه لاس نه و اخيستی، غوښتل يې چې له دې حالت نه نوره سياسي ګټه هم واخلي. په دغه دردونکي وخت کې يې غوښتل چې د دغو شخړو قربانيان وهڅوي چې بنګال ته کډه وکړي زه په دې فکر کې وم چې څرنګه به ممکن وي چې دوی په کور او کلي کې بيا ځای پر ځای او استوګنه غوره کړي؟... نننۍ هندوستان خو د لېونيانو په لاس دوزخ ګرځېدلی دی. زما زړه په دې ژاړي چې خپلو کورونو (مېنو) ته مو پر خپل لاس اور اچولی دی. په نننې هندوستان کې چې هرې خوا ته سترګې اړوم، توري تيارې او کنډوالې وينم، که يې کوم بل لور ته د رڼا لپاره اړوم، هم بې ګټې کار دی.»
مسلم ليګ په دوامداره توګه پر بېوزلو مسلمانانو زور واچاوه چې بنګال ته کډه شي، ده ترې غوښتنه وکړه چې و نه ډار شي او ترې ويې وغوښتل چې د مذهب په نامه نور ور څخه څوک ناوړه ګټه وانه خلي. ده ورته په ياد کړل چې

داسې ولایتونه شته دي، چې هلته هندوان په ناهیلې کوونکې اندازې سره په اقلیت کې دي، ځرنګه چې مسلمانان په ځینو ځایو کې په مشابه وضعیت سره دي. که چېرې هغه وضعه تکراربږي او زیاتره وغواړي چې نورو ته ضربه ورکړي او له منځه یې یوسي، دوی به تل غلامان وي.
غفار خان خپلو وطنوالو ته داور په ګوته کړه:
«زه هغه چاته وایم چې زموږ په عزیز وطن کې یې اور ولګاوه، په دې باید پوه شي چې په دغه اور کې به دوی هم سوځول کېږي، زه خو په دې نه پوهېږم چې ځرنګه به مسلماني ترسره کېږي چې هلته مذهبي ځایونو ته اور اچول کېږي، خلک وژل کېږي، بې ګناه او بېوزله خلک تالا کېږي.»
شمال غربي سرحدي ولایت خپل ځان د کلکتې له توپان څخه ونه شوای ساتلی. د کلکتې د پېښنو په لړ کې ژر تر ژره په هزاره ولسوالۍ کې چې د مسلمانانو قرارګاه یا مرکز و، د اړ و دوړ رټل شوې څپره ښکاره شوه، غفار خان په بېړه خپل ولایت ته ستون شو. د لیګ او پرنګي ملاتړو یې د مدني سرغړونې مبارزه پیل کړه، خو هزاره ولسوالۍ کې هم په اړ و دوړ کې را ښکېل شوه، لس زره خدایي خدمتګاران په پېښور کې ځای پر ځای شول او د دې مانع وګرځېدل او ویې غوښتل چې په دغه ولایت کې د داخلي جګړې مخه ونیسي.
د خدایي خدمتګارانو لپاره دغه یوه رښتینې آزموینه وه چې آیا دوی به له خپلې عقیدې سره مخه ښه وکړي او که یې پلې کړي، د ډېر تعجب او خوشحالۍ ځای خو دا و چې دوی یو انچ هم له خپلې منلې لارې څخه تېری او سرغړونه ونه کړه، څه چې ور څخه توقع کېده، هغه یې وکړل او په ډېر ښه او فعال ګډون سره یې له وینې تویېدنې او تویونې څخه په دغه ایالت کې مخنیوی وکړ.
پاچا خان د سرحد ولایت ټولو سیمو ته د خدایي خدمتګارانو له ټولګیو سره سفرونه وکړل او په دې توګه یې د ډاکټر خان صاحب له صوبايي حکومت سره د وضعیت تر کنټرول لاندې راوستلو لپاره مرسته وکړه.
په عین وخت کې مونټ بټن د مارچ په ۲۲ مه دلته راغی، سمدستي یې سیاسي

خبرې اترې پیل شوې، ده وویل: پرنګیانو The British د دواړو خواوو- کانګرس او مسلم لیګ- غوښتنې ومنلې، د دې لپاره چې «ولاړ شي» To Quit خو ووېشل شي او له منځه ولاړ شيTo Divide and quit.
دواړو -کانګرس او لیګ- هم موافقه وکړې چې هند په دوه همکتارو ملکونو هند او پاکستان ووېشي او ونوموي.
پاچا خان د پاکستان ټولو سیمو ته سفر وکړ، مسلم لیګ دا احساس کاوه چې دا هر څه د دوی په ګټه روان دي. د ۱۹۵۷ ز کال د سپتمبر په لومړۍ ورځ د غربي پاکستان اسامبلۍ په مطلق ډول پرېکړه وکړه چې غربي پاکستان دې په څلورو یا زیاتو ولایتونو سره ووېشل شي، دواړو (رییس او صدراعظم) دغه پرېکړه ونه منله، رد یې کړه.
قانون جوړوونکې غونډه وځنډېده او د رییس حکم په غربي پاکستان کې نافذ شو او ډاکټر خان صاحب چې هغه وخت د غربي پاکستان وزیر اعلی و، له دندې څخه هم وایستل شو. ډاکټر خان صاحب دا ابتکار وکړ چې مختلفې برخې او ګروپونه یې له اپوزېشن سره په یوه ګډ پلاټفورم یا خط مشي کې راغونډ کړل. د دې کار پایله دا شوه چې یو نوی دیموکراتیک ګوند منځته راغی.
مولانا بها شاني جي ام سید معین افتخارالدین سره یې ملي عوامي پارټي (The National Awami Party) تأسیس کړه، چې تر ۱۹۲۷ز کال د سهاراورتي د کابینې تر سقوط پورې یې د چارو واک په لاس کې و او لاربنود و.
ورپسې بیا د لنډې مودې کابینه منځته راغله، نو سړی په آسانۍ سره درک کولای شي چې سیاسي وضعه ثابته ده که نه. د همغړۍ نشتوالی یا نه توافق او یو د بل موقف نه منل او نه درک کول مخ پر زیاتېدو و. د هند طرف د ترقۍ او دیموکراتیک کېدو په لوري روان و. دغه ټول وضعیت د منفي جهتونو ښکاره کوونکی و او یو انسان کولای شوی، چې د سیاسي وضعیت نه استقرار ور څخه درک کړي او اضافه له دې څخه یې خلک

نشوای مجبورولی چې د دوی امرونه ومني. البته پر همدې وخت د پخوا په شان د شاګردانو، کارګرانو او بزګرانو په منځ کې روانې نا امیدۍ، مایوسۍ او ناکرارۍ (نه رضایت) مخ په زیاتېدو شوې.
ډاکټر خان صاحب «د جمهوریت د ګوند» مشر «لاربښود» د ۱۹۵۸ ز کال د مۍ په ۹ مه په شهادت ورسېد. دا لاندې خبرې له یوه پټ (سري یا ځانګړي) سند څخه چې نوم یې «یو یونټ پلان» و، له پاچا خان څخه چې په یوه نشریه کې یې په ۱۹۵۸ ز کال لیکلي وو، د پنډو کتابونو پرځای د یوې ځانګړې دوسیې په هکله د ده د ورور د وژلو په عامل اقتباس کوو:
د سند په دوه ویشتم مخ کې وایي: د سرحد په ایالت کې هر څه مخ په خرابېدو دي، که نه نو سردار عبدالرشید خان او هم مسلم لیګ به په یقیني توګه د یو یونټ لپاره د قیوم خان له راپرځېدو څخه سرته رسولي وو، ځکه چې د قیوم سقوط لاره روښانه کړې وه، د قیوم فاسد او شیطاني رول د پروپاګنډې په زور پرمخ روان و او د هغه راپرځېدل هلته د مسلم لیګ د نفوذ لپاره ډېر برابر وخت و، ولې دغه فرصت له لاسه ووت، ځکه چې د قیوم د ځای له خالي کېدو نه وروسته د سرو کمیسونو د ښتننانو په خبر لوی قوتونه راپیدا شول.
موږ یې هېڅکله هم له عبدالغفار خان څخه نه شو ګټلی او نه هم باور پرې کولای شو، دا به زموږ په ګټه وه چې ګوښه کړی مو نه وای. ځینې خلک په غلطۍ سره ډاکټر خان صاحب ته د خان عبدالغفار خان په پرتله زیات سیاسي اهمیت ورکوي، مګر دا به ژر ورته په ډاګه شي او دوی به په خپله دا واقعیت درک کړي چې دوی حماقت کوي.
که دوی دواړه ورونه یوځای وي، دا به قوت وي، ولې که دوی سره جلا وي، خان عبدالغفار خان به خپل موقف وساتي، خو د ډاکټر صاحب موقف به کمرنګه شي، ځکه چې په انفرادي توګه سره دی کوم موقف نه لري، په ډېره بېړه به په سرحد کې بدلونونه رامنځته شي.
موږ باید له رشید خان څخه په کامله توګه ملاتړ وکړو، ترڅو د سرو

کمیسونونو له نظر غورځولو او هېرولو ته چمتو او وهڅول شي او پخواني مسلم لیګیان سره را غونډ او تنظیم کړي.
په دې طریقې سره به وروسته د دوی له خوشې کېدو څخه د سره کمیسونو د څښتنانو دغه بې ساري اغېز چې د ټول ولایت په سیمو کې شتون لري، مخ پر ختمېدو شي او د دې کار لپاره باید چې په قربانعلي خان باور وشي، هغه کولای شي چې دغه کار په اغېزمنه توګه سرته ورسوي، د دې موخې په منظور د سرحد د ولایت حاکم وټاکل شي.
عبدالغفار خان خو باید مطلقاً له پامه وغورځول شي، زموږ کړنه له ده سره دا ده چې د ده سیاسي رول به تیاره یا کمرنګ او اغېز یې راکم کړو. په دې باید اعتراف وکړو چې موږ هېڅ یو له ده سره برابر نه یو او د باچا خان د سایکالوجیک (رواني) اغېز لرل، خو اوس زموږ له لاسه څخه وتلي دي»
په پوره عامه وینا کې پاچا خان دا په ګوته کړه چې د ده ورور د هماغو لاسونو په واسطه قرباني شو، چې د هغوی له امله سره یې خپله پارټي ترک او خپل سیاسي شالید او مسلک یې پرېښود. ده اخطار ورکړ چې د ده وژنه به د پښتنو او پنجابیانو ترمنځ نفرت او بدبیني لا نوره هم زیاته کړي، که چېرې دغه لړۍ وغځېږي او دوام ومومي، دا به دواړو خواوو ته ناممکنه وي چې په یوه ګډه عامه لار یو ځای سره ولاړ شي.
د ۱۹۵۹ ز کال د اپرېل په ۴ مه یو مطبوعاتي یادښت خپور شوی و چې پاچا خان له بند څخه مخ په خلاصېدو دی، عوامل یې د عمر زیاتوالی، روغتیایي ستونزې او د باور لرل و چې دی به نور اضافه له دې څخه کوم داسې فعالیت ونه کړي چې د پاکستان یووالي او أمنیت ته ګواښ وي.
بیا وروسته د یوې ځانګړې محکمې د حکم پر بنسټ چې د غیر ضروري سیاسې کسانو لپاره جوړه شوې وه، دی یې د عامه دندو لپاره چې ټاکنیزه بڼه ولري، تر ۱۹۶۲ ز کاله پورې بې اهلیته یا د غیر قابلیت څښتن بللی و. په بله وینا د دغې پرېکړې پر بنسټ ده ته اجازه نه وه چې په عامه خدمتونو کې ځان کاندید کړي.

ډېر «ښه راغلاست» د ده په تمه وو ، په یوه جومات کې باچا خان وویل: «نن به زه د خپل پیغمبر (ص) یو څو خبرې او افکار تاسو ته په یاد راولم... که چېرې موږ د پیغمبر (ص) لارښوونې تعقیب او عملي کړې وای، زموږ ژوند به د یوه ارزښت او خوشحالۍ څخه ډک و. همدارنګه پیغمبر (ص) په ډاګه کړې ده، که زما پیروان خپل ځانونه په ثروتونو (شتو) او شانداره ژوند کې ډوب کړي، دا دنیا او هغه بله دنیا به یې په لوی لاس کاملاً ویجاړه کړې وي.
د یوه وړوکي نفس لپاره موږ خپل دین او تولنه خرڅوو، زموږ ننني بدبختي، پیسو ته زموږ د حرص پایله ده. زموږ پیغمبر (ص) ویلي دي چې محبت او د خلکو او ملت خدمت زموږ له ګروهې څخه نه بېلېدونکې برخه ده، خو د دغو مغایر موږ یو تربله د دښمنیو، تېریو او بېځایه سیالیو څخه سر تر پښو پورې ډوب یو.»
د پاچا خان آزادي خو د لنډې مودې لپاره وه ژر یې نوموړی پر دې چې د دولت ضد اعمال او فعالیت یې کړی دی، بیا بندي کړ، ویل یې چې عامه ذهنیت کې یې د دولت پر اړوند کرکه او بدبیني او نه رضایت تبلیغ کړی.
د ۱۹۶۴ ز کال د جنوری په ۳۰ مه، کله یې چې روغتیایي وضعیت ډېر زیات خراب و، بیا یې خوشې کړ. پاکستاني واکمن پر دې پوهېدل چې اضافه یې په بند کې نه شي ساتلی او د دې کار پایلې هم ورته ښکاره وې. نوموړي شکایت کاوه چې په جېل کې د ده مناسبه درملنه نه کېږي، دی مجبور و چې خپله ډوډۍ خو واري په خپله پخه کړي. ده د درېیو ورځو په اوږدو کې د ډوډۍ نه خوړلو اعتصاب وکړ، یو ځل یې هم ناسم درمل ورکړي وو. د نړیوالې بخښنې موسسې د ایوب خان له رژیم څخه وغوښتل چې خوشې یې کړي، خو سره له دغې غوښتنې سپین ږیری په بند کې پاتې و. دغې موسسې په ګوته کړه چې د نه تاوتریخوالي د لارې پیروان شهیدان لري، چې یو له هغو څخه عبدالغفار خان دی، نوموړي امنستي انټرنیشنل د کال بندي «Prisoner of the year» ونوماوه.
دی په نړۍ کې د سلګونو میلیونو بندیانو څخه یوه نمونه وه چې د خپل وجدان

په غربۍ دا راز رېړونه ګالل. د ده په خوشې کېدلو ښکاره حقیقت دا و چې دوی فکر کاوه چې ژوندی به پاتې نه شي، دوی خو نه غوښتل چې په جېل کې د ده د مرګ له رسوایۍ او شرم سره مخ شي. ضمناً په هند کې ډېرو غوښتل او کوشش یې درلود چې له پاچا خان سره اړیکې ونیسي. په محبس کې د ده د روغتیایي حالت په اړه هند ته وخت پر وخت راپورونه رارسېدل، خو هېڅ یې نشوای کولای. نهرو باور درلود، «که موږ هر اقدام وکړو، نو دا به د پاچا خان په ستونزو نوره هم اضافه وکړي.»
د حسن نیت په خاطر جایا پراکاش نراین هڅه وکړه، له یوه پلاوي سره په کراچۍ کې له ده سره ووېني، خو دا هڅه هم بې ګټې وه.
د ۱۹۶۴ ز کال د سپتمبر په میاشت کې اجازه ورکړل شوې وه چې انګلستان ته د درملنې لپاره ولاړ شي، ده پیاري لال ته لیکلي وو: «احتمال لري چې تا موږ هېر کړي یو، خو موږ تاسو نه یاست هېر کړي. انسان د خپلې خوشحالۍ پر وخت ملګري هېروي، خو هغه څوک چې په زحمت کې وي هغه نه شي کولای دوی هېر کړي، برخلاف موږ ستاسو په هکله په فکر کې یو، که چېرې مهاتما جي ژوندی وای، پر دې پوره باور لرم چې د هغه به موږ په یاد وای او زموږ مرستې ته به راغلی وای، دا خو زموږ بد نصیبي ده چې هغه نشته او نورو هېر کړي یو، ته به پوهېږې چې زه انګلستان ته د دوا او درمل لپاره راغلی یم، دلته زما له راتګ سره زما روغتیا یو څه ښه شوې ده، خو دلته اوس د یخنۍ موسم په پیلېدو دی. ډاکټر مې وایي چې ساړه او سړه هوا زما روغتیا ته ښه نه دي، ډاکټر را ته وړاندیز کړی چې ښه به دا وي چې ژمی درې میاشتې امریکې ته لاړ شې او په یوه نسبتاً معتدله هوا کې یې تېر کړې. ما خو عالي کمیسارۍ ته د پاسپورت لپاره عریضه ورکړې ده، که چېرې مې هغه ترلاسه کړ، نو ښایي چې هغه لوري لاړ شم. په خپلو دعاګانو او لمونځونو کې موږ په یاد لره او له پاک الله (ج) څخه ما ته د هغه د مخلوق د خدمت لپاره د بشپړې روغتیا غوښتنه وکړه.»
د پاکستان حکومت ده ته اجازه ورنکړه چې امریکا ته لاړ شي، د

افغانستان سفارت په قاهره کې ده ته د کابل د تګ لپاره ویزه ورکړه. د کابل په نړیوال هوايي ډګر کې د صدر اعظم تر مشرۍ لاندې د افغان حکومت ټوله کابینه د ده د ښه راغلاست لپاره ورغلې وه، ده بیا پیاري لال ته لیکلي وو: «له دې څخه به هېڅ شی لا زیات خراب مو ړ ته متلامل نشي چې موږ تر نن پورې زغملي او لا یې تېروو او کړېږو. انفرادي انګېرنو خو چې څومره وځورولو هغه به هېڅکله اندازه نه شي، خو څه چې مې ډېر ځوروي هغه د کانګرس کړه دي، کله چې مو آزادي واخیسته، نو کانګرس پرېښودو. دوی خپلو ځانونو ته خوشحالي په برخه کړه، ولې موږ یې یوازې پرېښودو چې رنځ او محنت وګالو. موږ ته لا اوس هم د هندو خطاب کېږي.. دا د کانګرس غوښتنه نه وه، موږ مظلوم یو، له مظلوم سره مرسته په اصل کې د دین او مذهب واقعي غوښتنه ده.»

د ۱۹۶۵ز کال د اپرېل په ۵ مه وینو باجي (Vinobaji) پاچا خان ته ولیکل: «زه دومره اغېزمن او غمګین یم چې په کلمو او الفاظو کې ورته ځای نه وینم، دا باید قبوله کړو چې آزادي واخیستل شوه، خو تاسو سره ډېره زیاته بې عدالتي وشوه او زموږ ملګرو په عملي توګه تاسو هېر او ترک کړئ، خو تاسو په خپله حوصله مندۍ او صبر او برده بارۍ سره دغه منلې او زغملې ده، تاسو په خپلو دغه کړو وړو کې زموږ لپاره ډېره ښه بېلګه او زموږ د لارې مشعل او موږ ټولو ته د الهام منبع یاست. په دې ورځو کې ما ته یو د محکومیت احساس پیدا شوی دی، زه اوس داسې فکر کوم چې په د اتومي وسلو په دې عصر(پیر) کې هغه څه چې مو ورته سیاست ویل، د هغې خو وخت یا عمر تېر دی، ملي او نړیوال مسایل یوازې په «روحانیت» سره حل کېدلی شي او پر دې هم پوه یم چې تاسې اصلاً روحاني یا معنوي کس یاست چې له ډېرو ژورو او پخو مذهبي احساساتو سره مو کړه وړه دي، د دې پر ځای چې سیاست وچلوئ، تاسو تل د نه تاوتریخوالي یو ثابت قدمه معتقد او پیرو یاست او عملاً مو په دې لار کې ربړونه او ناخوالې او قربانۍ منلې، زه دعا کوم چې الله تعالی دې تاسې یوه وسیله وګرځوي چې د نړۍ ستونزه حل کړئ. وبشر الصابرین.»

يوه مياشت وروسته ده له پاچا خان څخه ځواب ترلاسه کړ:
«کله مې چې ستا د ۱۹۲۵ز کال د اپرېل د ۵ مې له محبت ډک ليک ترلاسه کړ، زيات خوشحاله شوم. دا خو په نهايت اندازې سره د لازياتې تقويې او هڅونې وسيله ګرځي. هر کله چې تاسو غونډې له يوې با ارزښته منبع څخه نوټ او يادونه ترلاسه کړې شي، هغه ځوک چې له يوه بايللي ميدان برسېره، نه يوازې د خپلو مخالفينو، بلکې له همکتارانو سره هم چې له داسې ظالم حکومت لکه د پاکستان په څېر ناهيلي او متنفروي. د دوی (زما د همکتارانو) باور پر نه تاوتريخوالي د بايللو په حال کې دي، چې ما په ځو مره زيار او زحمت ګاللو سره د دوی په زړونو کې راتلقين کړي وو، د دوی دليل دا دی چې پرنګيان يو باتهذيبه ملت دي «يعنې مدنيل دي». د خپل وطن دغه ديموکراتيک رسم او رواجونه دلته راوړل، غوښتل يې چې نه تاوتريخوالی به دلته څه اغېزه ولري، خو له پاکستان سره نه، ځکه چې دلته اخلاقي ارزښتونو ته اهميت نه ورکوي.»
«له هغه وخته را په دېخوا چې پاکستان منځته راغلی دی اته لس کاله کېږي، څرنګه چې تاسو هم خبر ياست، ټول تېر د دې وخت ما پنځه لس کاله د او سپنيزو ميلو تر شا تېر کړي دي، ډېر زيات وختونه «کوټه قلفي» په شان په يوازې کوټه کې- د زندان د منسوبينو د سرزنش، توبيخ، حتی ښکنځل او توهين کول ورسره مله وو. ټول هغه کسان چې خدايي خدمتګاران وو، زما په څېر يا له دې هم په بد شکل اخته و، په دې هم تاسو خبر ياست چې زموږ په ملک کې زياتره هم دوی وو. جايدادونه يې ضبط شول، کورنۍ او واړه يې اوس هېڅ نه لري، مړي ګټونکي يې په جېلخانو کې دي، که غواړې چې د دغو بدمرغيو ليست لا نور هم اوږد شي، نو د بلوچستان وحشيانه بمبار او همدارنګه د قبايلي سيمو تصويرونو ته پام وکړه چې ټول دردوونکي دي، په بلوچستان او بايان کې څه تېرېږي، دا ځايونه خو نن سبا د پاکستاني اُردو لپاره د پرلپسې عملياتو سيمې ګرځېدلي دي، دغو سيمو کې يې پراخه احاطه کړې ده، نظامي عمليات همدا اوس روان دي. زه نه غواړم چې اتفاقي يا عارضي ډب او ډوب او فيرونو ته اشاره وکړم چې زموږ سوله غوښتونکي

وطنوال ورسره مخامخ دي. بهرنۍ نړۍ ته هېڅوک دغه راپور نه ورکوي چې دلته څه ظلمونه روان دي. زموږ اخبارونه، ورځپاڼې منع دي، زموږ موسسه غیر قانوني بلل شوې او زموږ مرکزي دفتر له منځه تللي او تر خاورو لاندې شوي دي. موږ له ټولو بشري حقوقو څخه بې برخې یو، آن هغه څه چې پردیو (یعنې د پرنګیانو حکومت) موږ ته منلي وو. هر کله چې موږ خوله خلاصه کړو یا عام محضر ته لاړ شو، د پاکستان حکومت او خلک یې موږ هندوان بولي. ما غوښتل چې د پاکستان خلکو ته خدمت وکړم، خو دوی اجازه نه راکوي. د دې عامل دادی چې پخوا یا تېر وخت زه له کانګرس سره وم، پر ما هېڅ باور نه لري، موږ خو په یوه لویه بدبختۍ اخته یو.

ګرانه وینو جي ! دا ما ته په داسې حال کې پېښېږي چې آنحتی یوه ګوته مې هم د پاکستان په ضد نه ده خوځېدلې، یا مې کوم حرکت او مبارزه او عمل د کوم حکومت پر ضد دلته نه دي کړي؛ که څه هم دلته باید وشي. زه نه پوهېږم چې اوس څه وکړم؟ مهرباني وکړه، په دې باب لږ څه فکر وکړه او ما ته خپله مشوره راکړه، ځکه چې په ټوله نړۍ کې ستاسو مشورې ته زیات اهمیت ورکوم. آیا خپل خلک په دغه حال پرېږدم؟ دغه خو ممکنه نه ده، خو کوم څه کول هم راته ناممکن ښکاري، زما همفکره ملګري په هند کې چې همدا اوس په حکومت کې دي، زما په ستونزو نشي پوهېدلی، دا خو ځکه چې موږ اوس یوه بله ډله یو، دوی په دې کې کومه بدي نهویني، نن سبا زه د دوی په سترګو کې یو بل شان انسان او د بلې نړۍ څوک ښکارم... زه نه پوهېږم چې د دوی وجدان څه ورته وایي؟ که زه د دوی پرځای وای، ما به بل ډول چلند کړی و چې د دوی لپاره مې عدالت او انصاف تأمین کړی وای، که بل څه نه وای، محض د انسانیت (Humanity) په خاطر.»

پاچا خان تریخ او ترینګلی جوتېده چې څو مره په هند کې یې پخواني ملګري ورته ټیټ کتل او د ده ترینګلتوب خو د ده د عقیدې او فکر څخه او به خوري. اصلي خبره داده چې ده ته د هندوستان وېش مصنوعي ښکارېدو، په کلتوري، معنوي، نژادي او مزاجي ملحوظاتو له دې څخه انکار کوي چې په دې متیقن شي چې د دوی ملک دی چې نو موړی یې د آزادولو په منظور پنځه لس کاله په

جېل کې تېر کړل دغه زړه څوروونکې ناره د يوه شريف روح چې اصلاً مبارز زېږېدلې وي، ځينې بنستيزې پوښتنې را پيدا کوي.
آيا يو څوک چې مشترک او ګډ کلتور ورته په ميراث پاتې شوی وي او په پېړيو يې يو ځای ژوند کړی وي، د سياسي ملحوظاتو له امله له يو بله بېلېدلای شي؟ او تر کومه به يې زخمي اروا چې لسيزې لسيزې د خلکو د پوهېدلو او د ملک د آزادولو پر لور جد و جهد کړي، له استعماري رول څخه خلاص شي، له دغو نارو سورو څخه خلاصون ومومي، په سياسي لارويو د ده نيوکې که په هند يا پاکستان کې دي، په دې خاطر نه دي چې دی کوم بنستيز ايديولوژيک توپير له دوی سره لري، خو په واقعيت کې دغه توپيرونه له دې څخه دي چې له آزادۍ او خپلواکۍ څخه څه چې لازم و، په دواړو ملکونو کې د ميليونونو انسانانو په ګټه و او د خوارو او زارو پرګنو ژوند ورباندې ښه کېدلو چې داسې ونه شول او دغه حقيقتونه د ده له خبرو څخه چې په کابل کې يې د (Ved Mehta) «ود مهتا» سره وکړې څرګندېږي.
«په هند کې ګاندېزم مړ دی، ګاندي پوره هېر شوی دی، هلته هر چېرې بيا د بودا کيسه ده. په دې وروستيو کې چې زه په هند کې وم، ما په خپلو بيانيو کې دغه موضوع بيا بيا په ډاګه کړه، خو د خپلو پېشوايانو (پيام راوړونکو) درناوی نه کوئ؟ تاسو حکومت ټول هغه کارونه کوئ چې پرنګيانو کول او ګاندي ورسره مخالف و، لکه بې حده زياتې وسلې، د کليو او غريبانو اغماض او ترشا کول، د يوې غير ضروري او تېر وخته شوې بيوروکراسۍ څخه ملاتړ او ساتنه. د ګاندي د لارې پيروان له څو محدودو شريفو انسانانو نه پرته، ټول زور او قوت د تار کولو په څرخ اچوي، داسې فکر کوي چې د ګاندي ټول پيغام دغه و او يا هم دا چې د ده په نامه د شخصي لويوالي پر منظور تجارت کوي.
زه ستاسو ملګری يم، زه ستاسو کمزورتياوو ته ګوته نيسم او ورباندې ژاړم، که چېرې زه ستاسو دښمن وای ما به د ژړا پرځای استهزاء کولو او د پيغور په شکل خبرې کولې.

ګاندیزم خو ستاسو په پرتله پر موږ پښتنو کې لا ژوندب دب، نن سبا موږ مظلوم یو، تر فشار لاندې یو او له سیاسي اړخ څخه بې قدرته یو. همدا ده چې د ګاندي د ودانولو کوم پروګرام نشو تطبیقولای، خو په دې حال کې هم د نه تاو تریخوالي پرنسیپ پر ځانونو منو او تطبیقوو، سره له دې چې د خون ګرمو پښتنو وینې د پاکستاني جنرالانو تر متروکو لاندې په جوش هم راغلې وې»
باچا خان په دې باور درلود چې د ملک وېش به یو ازې ستونزې منځته راوړي، د آزادۍ او خپلواکۍ پنځوس کلونو دا خبره ثابته کړه. د ۱۹۲۹ز کال د اکتوبر په ۱۸ مه په احمد آباد کې یې په یوه بیانیه کې ویلي وو چې وېش مسلمانانو نه دی راوړی بلکې ځینو نورو راوړی دی. په حقیقت کې وېش خو د پرنګیانو له خوا وشو چې فکر یې کاوه هندوان او مسلمانان متحد او یو ځای پاتې وي دا به د دوی له ګټو سره سم نه وي، حتی هغه به تهدیدوي.
د هندوانو یا مسلمانانو د ټولنو عام خلک نه بلکې مشران یا رهبران د وېش مسئول و. هغه خلک چې په حقیقت کې د وېش مسئول و پاکستان ته ولاړل ترڅو قدرت ترلاسه کړي. دا خبره رښتیا ده چې دې کار ته ډېرو مسلمانانو لمن وو هله، خو دا خبره مو باید له خاطره ونه وځي چې مسلمانان د خپلو لیډرانو څخه نا سم رهبري شوي وو. د هندوانو طرف خو لوی سیاسي لیډران درلودل چې خلکو ته یې خدمت کاوه او جېلونه او قربانۍ یې د خپل ملت لپاره ګاللې، خو له بلې خوا څخه مسلمانانو دغه راز لیډران نه درلودل، د دوی لیډران خان بهادر (Khanbahadur) و چې د پرنګیانو ګټې یې ساتلې.
د مسلم لیګ لیډران پرنګیانو ته ورته وو او څه به چې د دوی په غوږو کې د هغوی له خوا ور پو شول، هغه به یې ترسره کول. جدي کوښښونه نه کېدل چې په مسلمانانو کې وطن پالنه را ژوندۍ او تقویه کړي. هغه څه چې له دوی سره وشول، دوی په واقعیت کې د هغوی مسئولیت په غاړه نه درلود. هندوانو رهبرانو د دوی په منځ کې کار نه کاوه، دوی د مسلمانانو لطف او مرحمت ته پرېښودل شوي وو. نوموړي ځوانان او د ټولنیز خیر ښېګڼې کار کوونکي

وهڅول چې د مسلمانانو په منځ کې هم کار وکړي، دی په دې باور و او ويل به يې چې که چېرې سره يوځای وای، وضعې به تغير موندلی و او محلي کليوالي ستونزې به په دې شکل سره نه وې غريبې پرګنې په دواړو خواوو، هندو او مسلمانو جمعيتونو کې يو له بل سره مينه، علاقه او زړه خوږي لري دوی له کشمکشونو نه چې يو بل اذيت کوي بېزاره دي. څه چې ضروري وو، هغه دادي چې له دوی سره سم کار وشي او سالمه لاربښوونه ورته وشي او په ښه توګه ترې مواظبت وشي.

ګاندي د پاچا خان په هکله ويل:

«دومره خو زه پوهېږم چې له ده سره تاوتريخوالي د کوم کسب يا زده کړې موضوع نه ده، بلکې يو ابتکاري باور دی، هېڅ شی يې ترې اخيستلی يا متزلزل کولی نه شي. د ده دغه تلقين، باور يا عقيده له قرآنکريم څخه الهام شوې ده. دی يو سوچه، واقعي او ديندار مسلمان دی. کله چې له يو کال نه زيات له ما سره اوسېده، هېڅکله ما نه دی ليدلی چې لمونځ يې قضا کړی وي او يا يې هم د رمضان په مبارکه مياشت کې روژه نه وي نيولي، له هغو ورځو پرته چې ناروغ و، خو د ده دومره دينداري او انعقاد اسلام ته، دا معنی او مفهوم نه لري چې د نورو عقيدو لرونکو ته درناوی نه لري...»

ګاندي د پاچا خان په باب يو رښتينی قضاوت کړی دی، د سولې دغه نوی پيغام ورکوونکی او د نه تاوتريخوالي ستر مبلغ چې د انسانيت لپاره يې جد و جهد کړي، ټول عمر يې د ننګونې او قربانۍ سره تېر کړي، دا يې په ډاګه کړې چې نه تاوتريخوالی عملاً محبت او انسان دوستي ده. په خپل عمر کې تل يو ديندار، ثابت او خير خواه مسلمان پاتې شوی دی، څه شی چې يې د خپل ځان په باب ويلي دي، ښېځايه به نه وي چې دلته ورسره اړيکې ونيسو:

«زه د نه تاوتريخوالي انسان يم، ځينې کسان په موږ کې وو، ويل به يې چې يوازې زور او تاوتريخوالي کولای شي چې يو څه سرته ورسوي، ما دغه خبره ردوله. زما هڅه دا وه چې خلکو ته خدمت وکړم او دغه يعنې خدمت کول يوازې او يوازې د نه تاوتريخوالي له لارې کېدلای شي. زه خو له هغه

چا سره چې غواړي په زور زياتي يا (Violence) کارونه ترسره کړي، څه نه لرم، خو زموږ لار بله ده حتی زه د دوی له مينې او محبت سره چې له مملکت سره يې لري احترام لرم، د دوی وطن پالنې ته درناوی لرم. تاوتريخوالی محبت نه دی، تاوتريخوالی نفرت دی، تاوتريخوالی هېڅکله ستونزې نه شي حل کولای او سوله نړۍ ته نه شي راوستلی، که نه نو له لومړي نړيوال جنګ وروسته به دويم نړيوال جنګ نه وای راغلی. آيا په هغې وخت کې کومه سوله راغله؟ نه، هېڅکله نه! حتی يو بل لا لوی به له تاوتريخوالي څخه ډک وي، هر يو وروستی به له مخکيني څخه لوی او خطرناک وي، راتلونکی بل جنګ به لا زيات ورانوونکی وي. يو شی واضيح دی، هغه دا چې که نړۍ وغواړي سوله به وشي، خو يوازې د نه تاوتريخوالي له لارې او که نه، بيا به نو يو بېساري نړيوال جنګ وي، چې د نړۍ په تاريخ کې به يې مثال نه وي، دا ولې؟ دا د دې له امله چې اوس خو خبره د اتومي وسلو ده او نړۍ به بالکل ويجاړه شي.»

د تېرې پېړۍ په دريمه لسيزه کې کله چې ده ته د هند د ملي کانګرس د رياست وړانديز وشو، ده انکار وکړ او ويې ويل: «زه يو زېږېدلی سرتېری يم، همدا شکل بايد ومرم» او سل په سلو کې دی د يوه سرتېري په څېر مړ شو. اته نوي کلن و، په روحاني قوت مجهز به يې ويل چې بشر تهول يو دب، کرکه بايد په کې نفوذ و نه کړي د عالي سپېڅلو خصوصياتو خاوند و. ده ته دا مناسبه نه ده چې په يوناني عبارت کې ورته Hero يا اتل خطاب کړو، دی د انسانيت عالي مقام ته رسېدلی و، خو د انسان د مينې او محبت په منظور يې بې اندازې رنځ او محنت ګاللی. د ده په کرکټر او اخلاقياتو کې د ننني، ورځې برياليتوب او يا ناکامۍ ډېر وړوکی مفهوم درلود.

دا يو ښکاره حقيقت دی چې د بشر تاريخ د نارينه وو او ښځينه وو له داسې مواردو څخه ډک دی چې هر څومره ورته مادي نعمتونه مخکې ايښودل شوي دي، دوی وربانديې نه دي غولېدلي، نه يې د هوساينې پروا ساتلې او نه يې هم مقام، چوکۍ او قدرت ته غاړه ايښودلې ده، خو د دې لپاره چې د

ژوند واقعي معنی او مفهوم درک کړي. د دغو ټولو پر ځای یې خپل تن او ځان ربړونو ، رنځونو او کړاوونو ته ورکړی دی. پاچا خان له دغه با شهامته او زړه ورو نارینه وو له کتګوری څخه دی. د خپل عمر په اوږدو کې ده دا ثابته کړه چې دی خپل وجدان ته څومره وفادار دی او هغه څومره نظر مادي زرق او برق او آرامۍ ورته عزیز دی.

د خپل ملګري آزمویل شوي او د باور وړ انسان په څېر (لکه ګاندي جي) هېڅکله د قدرت لپاره نه تطمیع شو او نه چا د غولېدلو په بندو را بند کړای شو، نو هغه و چې دی د زړورتیا او شهامت، وطن پالنې، له ځان څخه د تېرېدنې او نورو ته د خپل ځان او توان وقف کولو او انسانیت ته د خدمت کولو عالي مقام ته پورته شو، نو دا ویلې شو چې د ده ژوند د راتلونکو نسلونو لپاره په خپله یو خلاص اچول شوی کتاب او الهام بخښونکی دی.

دی په دې عقیده و چې دی یوازې د الله تعالی خدمت کوونکی دی، یو خدایي خدمتګار !یو خدایي خدمتګار د خپل خدمت پر ځای د کوم اجر او حق الزحمې توقع نه کوي. همدغه د ده د ژوند لارښوونکی اصل (تګلاره) و. ده دا وښووله او په ډاګه یې کړه، یعني مکرراً یې په اثبات ورسوله چې دی له هغو عناصرو څخه جوړ دی چې د حق د لارې شهیدان او اتلان ترې جوړ دي.

دا ضروري ده چې انسان باید سمه عقیده او باور ولري، پر سمه لاره رهي وي او سم خلک باید پرې مخکې شي چې پرګنې په خپل ځان پسې پر سمه لاره، سمه عقیده او باور راوبولي او پرګنې په یقین سره د هغو لار تعقیب کړي، ده په خپل ژوند کې دغه ترسره کړل. د ده په خدمت او کارکې ببخي لږ د ده له ځان له آرامۍ سره اړیکې نه لیدل کېدلې، دغه یې د ژوند پرنسیپ و.

پاچا خان ته د ګاندي غوندې په دې باب الهام کړی شوی وو چې ویل به یې: «د انسان وروستی یا نهایي موخه د الله تعالی تحقق دی او ټول اجتماعي، سیاسي، دیني (مذهبي) فعالیتونو کې وروستۍ موخه د خدای (ج) رویا، تصور او درک کول دي. په پیل کې د ټول مخلوق بشري خدمت کول لازمي برخه د دغو کوښښونو په لړ کې راځي. په ډېره ساده طریقه یې داسې افاده کولای شو: د

دي لپاره چې خدای (ج) وپېژنو، نو باید مخلوق يې ووينو او له هغوی سره و او دا کار هغه وخت ممکن دی چې ټولو ته خدمت وکړو. د پاچا خان شپږ لسيزې عامه او اجتماعي ژوند ټول د دغه راز کړاوونو هېنداره ده او همدا رنګه ده ښکاره کړه چې دی يې څومره په غير محدود عُمق سره له نه تاو تريخوالي سره تړلی دی.

د دي لپاره چې د پاچا خان ببخي زياته مرسته د آزادۍ او خپلواکۍ غوښتنې په باب په ګوته کړو، دلته د يوه شاعر شعر چې تول سبداس نومېږي را نقل کوو:

اې پاکه لويه ښتنه په خپل فضل سره
ما ته راوښيه هغه ټول ښه او خالص
چې راضي شي په وړو وړو شيانو
چې ونه وينم ملګري بې ارزښته لکه اهداف
چې په عزم او قوت سره يې په اند ښه
کلمه حقيقت خدمت وکړم
چې هېڅکله د کرکې او شرم خبره څرګنده نه کړم
د ځانځانۍ له ټولو شيانو څخه خلاصون او تکبر څخه مبرا
د نورو بد ونه وايم
په خاطر (دماغ) کې مې سوله ځای کړه
له غم او ستا د لارې له ګمراهۍ څخه خلاصون راکړه
نه په خوشحالۍ او نه په غم سره
ته مې پښې په دغه لاره کېږده
او ته مې په هغه ثابت پاتې کړه
نو زه به يو ازې له تا نه خوشحاله وم او د حق خدمت به وکړم

ګاندي چې نږدې څلور لسيزې د پاچا خان له مرګ څخه لا دمخه ستر ګې پټې کړې او د دغې بې ساري هم عقيدې او هم کتار مبارز (د خلکو خدمت، انسان

دوستي او نه تاوتريخوالي-مترجم) برياليتوبونه، کړاوونه او رنځونه.. يې ونه ليدل، خو لا دمخه يعنې څلوېښت کاله دمخه د ده له مرګ څخه يې د خدای بخښلي پاچا اتلولي په يوه لنډه جمله کې په ډاګه کړې وه:
"که غواړې چې د خدای نفر د بنيادم په شکل وګورې د ده د وجود هره برخه د خدايي انسان ده."
(He is a man of God, every inch of him, if you want to see one in flesh.)
ښکه د پاچا خان هلو ځلو (مبارزې) د انسان د بې حد او حصر شهامت، غيرت او ميړانې د حدودو يوه بې سارې نمونه ده، تر هغې پورې يې ادامه ورکړه چې دی يې وګټي او يا يې ځان ته دا غوره ګڼله چې په هغې کې محوه شي، خو د عمل، يقين او محبت، ځان تېرېدنې، عقيدې او دوستۍ په څه کې.

پای

*له غرمې نه وروسته درې بجې-د ۲۰۰۹ زکال د جون ۲۷ مه*

*د يکشنبې ورځ – هامبورګ، جرمني*

**نوټ**: په ژباړلو کې مې ډېر ډېر زيار ايستلی چې د ليکوال مدعا پوره واړوم. که دا نه وي شوي بخښنه غواړم.

زېړګل وردګ

دوهم کتاب

# دوه

# خدايي خدمتګاران

**مهاديو ديسای**

د مهاتما ګاندي په ليکنه د يوې سريزې په ملتيا

ژباړن: زېړګل وردک
۱۳۹۲ل کال

# دوه خدايي خدمتگاران


د خان عبدالغفار خان ليکنه.......................................... الف

سريزه د مهاتما ګاندي جي په قلم.................................... ب

لومړۍ برخه/د سرحد ولايت.......................................... ۱

دويمه برخه/زېږېدنه اصل او نسب.................................... ۴

درېيمه برخه/لومړي کلونه............................................ ۹

څلورمه برخه/د مذهب په هکله د دوی نظرونه........................ ۲۰

پنځمه برخه/ (خدايي خدمتګاران)..................................... ۲۸

شپږمه برخه/تومتونه او حقيقتونه..................................... ۳۳

اوومه برخه/انګرېزان بايد حقايق درک کړي............................ ۳۷

اتمه برخه/ټوله کورنۍ په جېل کې..................................... ۴۶

نهمه برخه/خويونه- عادتونه........................................... ۵۲

لسمه برخه/بېرته د کور په لوري...................................... ۵۸

«زما عدم تشدد، تخمینا زما باور او عقیده ګرځېدلې، ما د ګاندي جي په اهمسه څه باور درلود، خو زما کړو وړو، تجربو او آزموینو زموږ په ولایت کې دا ثابته کړله چې د عدم تشدد (د نه زور زیاتي او نه ترهګرۍ) قهرمان شوم. که خدای کول، زه هیله من یم چې هېڅکله تشدد په خپل ولایت کې ونه وینم. احتمالا که زه ناکام شوم او د تشدد موجونه-آوازې زموږ په ولایت کې خپرې شوې، بیا به نو زه د خپل سرنوشت (قسمت او یا تقدیر) په باب حکم وکړم، صرف په دې توګه به زه راضي شم، خو سره له دې هم دا کار (عدم بریالیتوب) به زما باور او عقیده د عدم تشدد په هکله ونه شي لړزولی؛ ځکه چې زموږ خلک تر هر څه نه زیات هغې ته اړ دي.»

خان عبدالغفار خان

# سریزه

# د مهاتما ګاندي جي په قلم

سږ کال مې غوښتل چې خان صاحب عبد الغفار خان داسې د يوه پوره وخت لپاره مخکې له دې چې دا آخرنۍ مياشتې نه وي تېرې ووينم، خو د پخوا په شان دا ممکن نه شو، خو دا خو ښه فرصت دی چې نه يوازې کشر ورور بلکې مشر ورور ډاکټر خان صيب ډېر زر چې د هزاري باغ له جېل څخه راخلاص شول سره وموليدل. داسې ښکارېږي چې دوی ته اجازه نه وه، چې د سرحد ولايت ته د دسمبر له ۲۸مې نه مخکې داخل شي. دوی تر دې انضباطي ممانعت لاندې وو، داسې نه چې يې هلته د ملکي عدم اطاعت غوښتنه هلته ونه کړي، نو دا يو علت او وجه وه چې په Wardha کې يې د ست جمنالعل بجاج د مېلمه توب غوښتنه يې ومنله، نو دا يو افتخار و چې ما د دغو ورونو سره تماس ونيو او ليدنه مې ورسره وشوه. هر څومره چې دوی زيات وپېژنم، هغومره زيات دوی ته د نږدېوالي احساس کوم، زه د دوی د اخلاص، صادقانه وضعيت، صراحت د لهجې، واضح او غير مرموزو کړو او وړو نهايت زيات جذب او حيران کړم، ماته داسې هم ښکاره شوه چې دوی ورونه په حقيقي معنی سره په «عدم تشدد» (Non-Violence) د سياست په توګه نه بلکې د عقيدې (مذهب، طريقه يا د ژوند لار) په توګه باور لري.

داسې راته څرګندېږي، چې کشر ورور نه يوازې په مذهبي مسايلو کې په ټول ژوند غرق او سېدلی، بلکې د ژورې حوصلې خاوند هم ښکاري، ماته داسې معلوم شو چې د عالمګيرې مفکورې صاحب او (Universalist)

دی، د ده سیاست؛ که څه ولري، د هغې د مذهب څخه را وتلی دی.
له ډاکتر خان سره سیاست نشته، زما تمې له دوی سره دا بربنډ کړله چې تر ډېره حده دغه ورونه په اشتباه کې تللي دي، نو دا وجه ده چې ما له مهادیو دیسای (Mahadev Desai) څخه وغوښتل چې د دوی ژوند، کارنامې، مفکورې، نظریې ورڅخه یادداشت کړي، بیا یې کټګوري او په برخو وویشي او په پای کې دغه سکچ (طرح، کاغذ) عامو ته د دوی د پېژندنې لپاره د انسان په توګه وړاندې کړي.
ده غوښتل چې سیاست پرېږدي او د حکومت نیو کې له ځان څخه لرې کړي، نو نتیجه دغه نقشه یعنې د خویونو او کرکټرونو کتاب ګی (وړه طرحه) شوه، دا خو د لوستونکي په قضاوت پورې اړه لري چې دغه ورونه دا ادعا کوي چې خدایي خدمتګاران (د خدای ج نوکران) دي، دا به راتلونکې پانې په ګوته کړي.
په دې هیله چې څه د مخه ورونه وایي ژوند او کړه وړه یې کټ مټ په واقعیت او حقیقي مفهوم سره له حوادثو او واقعاتو سره په سمه توګه د مهادیو دیسای له خوا ارایه کېږي.

ډهلي

مهاتما ګاندي

۱۹۳۵ز کال د جنوري ۱۴مه

M. K. GANDHI

«دوه خدايي خدمتگاران»

## لومړۍ برخه

# د سرحد ولایت

د هندوستان د آزادۍ مبارزه چې تېر پنځه لس کاله يې دوام درلود کېداى شي چې د ځينو ډېرو ملحوظاتو په خاطر يوې زلزلې ته ورته وي، ځنګه چې دغې مبارزې محض د عدم تشدد شکل درلود، نو د يوه آتش فشان مشخصات يې کاملاً نه لرل، خو زموږ د ملي شته والى بنسټونه يې ولړزول، لکه زلزله چې طبيعي څېرې ته بدلون ورپه برخه کوي.
شل کاله دمخه چې - ايليون والا باغ او باردولي او چورې چورا چا پېژندل؟ چيرالا پي رالا - ودران يم او نورساد ډنډۍ او درمنه او ود، لا خو چا ته معلوم نه وو. خو اوس هغه بېشماره انسانان چې هلته او سېدل را تلونکي نسلو مورخان (تاريخ ليکونکي) يې د دوى مبارزه او قرباني د هندوستان د آزادۍ لپاره له پامه نه شي غورځولى. ټولې دغه ساحې چې ما يې نوم واخيست او بې شمېره نور زموږ په سياسي نقش کې د اهميت وړ دي. په حقيقت کې د شمال غربي سرحدي ولايت ټولې برخې، په ځانګړې توګه هغه حوادث، چې د ۱۹۳۰ ز او له هغه مخکې هلته پېښ شول اکثرو پرې کامله خبرتيا نه لرله، خو هغه څوک چې ورځپاڼې يې لوستې، د د غو برخو له اهميت او اغېزې مطلع دي، خو ځينې مطلع هم دغه ته د شک او ترديد په سترګه ګوري او هغو ته د روسي لاسونو رنګ ورکوي. د انګرېزي بادرانو په لمسون سره خو که د تاريخ شاګردان خپلې سترګې و موښي، دوى به دا حقيقت درک کړي چې انګرېزانو د قبايلو ځينو پېرودل شويو عمالو ته پيسې ورکولې، ترڅو چې په ډېرو حساسو شېبو کې د دوى مشورې ته غوږ شي، ولې د يوې انګرېزې حاکمې طبقې پېغلې تښتونه چې مس ايلس Miss Ellis يې ورته ويل، دا په ډاګه کړه چې د قبايلو د خلکو خوى او کرکټر داسې نه دى چې دوى فکر کاوه. هغه وخت امپراطوري قوتونه په

حرکت شول، هغه نادان او بې سواده (نالوستي) کليوال په دې هم پوهېدل چې دلته د سرحد په نامه يو ملک شته، چې هلته سود خواره او سختګير پښتان پور ورکوونکي او سېدل کله چې دوی له هغه ځايه د مالي احتکار سره د علاقې يا د جرمونو له امله ولاړل، نور دوی هلته و نه ليدل شول. خو په ۱۹۳۰ز او متعاقبو کلونو کې دا په ډاګه شوه چې په شمال غربي سرحدي ولايت کې هم زموږ په شان په نورو ولايتونو د هندوستان کې د خپلو ورونو په شان د هندوستان د آزادۍ مبارزه يې پرمخ بيووله، حتی له نورو ولايتونو څخه يې په دې مبارزه کې لا زياتې قربانۍ ورکاللې.

هغو اشخاصو چې په ۱۹۳۱ز د کانګرس په جلسه کې چې په کراچۍ کې دايره شوه، د لومړي ځل لپاره د خان عبدالغفار خان صيب او د ده له ځينو پيروانو سره وليدل. دغه کاملا برښنډ شو، چې ساده او ښې جګې ونې پښتان په يوه تشکيل پورې تړلی (د عدم تشدد لاروي) او هم چې د عدم تشدد د فعاليتونه پرمخ بوځي. په شديده توګه او خطرناک تحريکات Violent – Activities چې موږ په کتابونو کې د ډېرو خلکو او ملکونو حکايتونه لولو، د پښتان باعزمه اراده د روم د قهرمان افساني او حکايتونه په ياد راولي. دوی به د خپلې وسلې په بريښ نازېدل، ترڅو به چې له کاره ووتلو، خو پښتان په خپل عزم او اراده وياړي. يو پښتان غل د چا کور ته ورغلی و، يو ځای د يوال يې سوری او لاس يې پکې ننويستی و، ترڅو ويې نړوي. د کور خاوند پرې راويښ شو، په سوري کې يې لاس کلک ونيو، په خپله يې خپل لاس په بند کې پرې کړ او د کور خاوند پر ښتې تکيه او غوڅ شوی لاس ورسره پاتې شو. عدم تشدد د دې په شان ښکاري چې په دې کې هم سوړ عزم او اراده او په يوه شريف ډول سره ثبات ورنغښتی دی.

حاجي شاه نواز خان د خان د ورونو د کاکا له زامنو څخه و. د امنيتي قانون له مخې په ۱۹۳۰ز په جېل کې و، خو محلي شرايط داسې شول چې په ضمانت د پيسو په ورکړې سره خوشې شي. خو وضعې داسې تغير وکړ چې دی بېرته جېل ته يوووړل شي. داسې اوازې دې چې ده له مقرراتو څخه سرغړونه کړې ده، نو ځکه

یې بیا جېل ته بېولی دی. ده په دې کې یو څه فکر وکړو ، بیا یې په پټه کې آرام ځان مړ او ځان وژنه یې وکړه. یو نوټ یې پرېښود ، ویل یې چې جېل ته بېرته تګ د ده په فکر خپلې کورنۍ ته دومره رسوایي او ننګ په برخه کړ ، چې بې له مرګ څخه یې جبران شونی نه و. مرګ به یو ازینی جبران وي.

سید عبدالودود باچا ، یو لوی مشهور متدین عالم او ستر زمیندار ، چې په برطانوي سرحد منطقې نه بلکې ملکنډ اجنسي پورې تړلی و ، درې کاله بندي و د امنیتي مقرراتو په استناد ، خو په ۱۹۳۱ز تبادله کې هم آزاد نه شو. پلار یې چې یو بوډا او مرګ ته نږدې و ، امنیتي پرسونل ته ورغی ، ترڅو چې زوی یې په ژوند ووینې ، دی د خوشې کېدو په حال کې و ، نژدې و چې را خلاص شي ، خو د ده د شرم حس دومره ژور او دی دومره ناکراره و ، چې آیا څرنګه بوډا پلار ته په بې مخۍ سره وګوري نو ځان یې وویشتلو او مړ شو.

کوم څوک نه غواړي چې د داسې سرکش او نه رامېدونکي قوم په هکله لا زیات ویوهېږي ، چې داسې اتلان یې پکې پیدا شوي وي؟ زه خو نېکمرغه وم ، چې دا رنګه صمیمي اشخاص د خان د وروڼو په شان کله چې د هزارې باغ له جېل څخه چې هلته د دولت State د بندیانو په صفت په جېل کې را خلاص شول ، ما ورسره لیده کاته وکړل. د دا رنګه صمیمي او شایسته وروڼو ملاقات پرما ژور تأثیر واچاوه. دوی په ورین تندي اجازه راکړه چې د ژوند په باب هر ډول پوښتنې ترې وکړم. د دوی کیسه او حکایت ډېر په زړه پورې دی ، چې باید یوه برخه یې عامو خلکو ته ولیکم. خلک پوهېږي چې دوی له جېل څخه را خلاص شول ، خو نه شي کولای چې سرحدي ولایت ته ننوزي او کله چې عام خلک په دې پوه شي ، چې دوی نه شي کولای سرحدي ولایت ته لاړ شي ، دوی پوښتنه کوي چې ولې خپل ولایت ته له داخلېدو څخه بې برخې دي؟

## دویمه برخه

# زېږېدنه اصل او نسب

د خان د ورونو ځوان (کشر) یې وویل «زه کولای شم چې د خپلې زېږېدنې کال درته ووایم، خو نېټه یې نه شم ویلی ځکه چې زه هغه د لمریز کال د جدي د میاشتې له مخې پېژنم خو د زېږدیزې نېټې له مخې نه پوهېږم.»
(جدي!) ما ورته په تعجب سره وویل چې موږ هم دغه شان میاشت لرو.
آه؟ هو کې ستاسو او موږ ډېر شیان مشابه دي، زموږ دودونه او عنعنات یو ډول دي او په پېړیو کې ځینې یې هېر شوي دي. څو پېړۍ د مخه زموږ او ستاسو د خلکو دین یو او بودېزم و. زموږ د ناحیې نوم له بودېزم څخه مشتق شوی او د ځینو ساحو نومونه بودایي یا هندويي ریښې لري. د پښتو ځینې لغتونه او کلمات له سانسکریت څخه ریښه اخلي.
خان عبدالغفار خان وویل: ډاکټر خان صیب (مشر ورور) په «۱۸۸۳» او خان عبدالغفار خان (کشر ورور) په «۱۸۹۰ز» کې پیدا شوی دی، دوی د خانانو له کورنۍ څخه دي او نسب یې د محمدزیو قبیلې سره تړلی دي. د زایي معنی «ورڅخه زېږېدلی» ده او د خان معنی «رییس» لوی مشر، د ټولو قبایلو نومونه د تېرو اسلافو له نومونو څخه سرچینه اخلي.
د ورونو پلار (خان صاحب بهرام خان) د اتمانزیو کلی د چارسدې د حوزې چې د پېښور ناحیه ده، خان و. چارسده له پېښور څخه شل میله لرې ده او د اتمانزیو کلی یو ښکلی کلی دی، چې د سوات د سیند له پاسه موقعیت لري او دوه میله له چارسدې څخه لرې دی او شل میله لوېدیځ پلو ته مومند قبایل مېشت دي، چې له هغې څخه سرې مخ په

افغانستان شېوه کېږي، دی هلته زېږېدلی او لوی شوی. په داسې پراخو ښکلو سیمو (یعنې چار اطرافو) کې دوی د طبیعت بچیان دي چې له ننني مدنیت سره چندان سر نه خوري. دا خو له ورایه معلومېږي او مونږ باید په یاد ولرو چې مشر ورور بېخي زیات تحصیل په انګلستان کې کړی او تخمینا یوولس کاله یې له هېواده بهر ژوند کړی دی، خو علی الاکثر د هغوی خبرې او افکار هغو ورشوګانو، تپو، سیندو او هغې وړوکې جزېره ګۍ ته پر شا ځي او په خیال کې یې راګرځي، چې یو وخت یې ګاندي جي هلته مېلمه و» هلته اشرم و، هلته مهاتما جي و. دوی وایي او مونږ داسې ښکلي په زړه پورې ګلالي او آرام چهار اطراف نه شو تصور کولای. د پېښور په ټول وادي کې هر راز مېوې غلې او دانې ډېرې دي، خوا ږه نیشکر (ګنې) پرېمانه او ارزانه، همدا رنګه ټینګ پېروی لرونکې غني شیدې د غواګانو او مېښو هم پرېمانه دي او دوی یې د هر مقصد لپاره استعمالوي. خو څوک خبر دي چې هلته نن سبا څه پېښېږي؟ دا خو انسان ځوروي او کور کلي څخه د لرېوالي او تبعید یوه طبیعي ناروغي ګڼل کېږي.
خو کله چې عزتمن پلار ته یې راشو، ورونو د پلار کیسه راته وکړه. ماته د پټېل Patel د ورونو کیسه را په یاد شوه. دواړه کیسې په کامله همرنګۍ سره د پام وړ دي، دواړه په زوړ پټېل او زوړ حال په ډېر ژور صورت مذهبي وو او دواړو تر بېخي زیات زوړوالي پورې ژوند کړی، اضافه له نوي ۹۰ کالو څخه د هر یوه عمر و. دواړو په مشابه وجې سره بچیان را لوی کړي دي او په برابر او همرنګۍ سره ختم شوي دي. کوم څوک به ځان ته اجازه ورکړي، چې وو وایي چې د پټېل ورونه له ځان سره ستر شوي وو، خو کوم څوک به احتمالا و نه وایي، چې د خان ورونه هغه رنګ لوی شوي دي. دا په دې وجې سره، چې د هغوی پلار د کلي لوی مشر او رئیس و، لوی زمیندار و چې وکولای یې شول خپل زوی د تحصیل لپاره انګلستان ته واستوي، خو د پټېل د ورونو پلار تر هغې

لا زیات عاید درلوده او زامنو یې وکولای شول چې ځانونه د پوره تحصیل څښتنان کړي.
زوړ پټهل خو تر زیاتره حد یو زاهد انسان و، داسې نه چې له دې نړۍ سره مینه او محبت ولري، خو خان خپل ځان داسې تثبیت کړی و او د وقار څښتن و. کله چې له اتیا وو ۸۰ کلونو اضافه عمر وروسته د کشر زوی له بندي کېدو څخه په ۱۹۱۹ ز کال کې دی هم بندي شوی و.
«دواړو، یعنې زما پلار او زما مور په واقعیت کې زموږ په خاطرو کې د عالي او بې ساري مثال په څېر مذهبي ژوند کړی» خان عبدالغفار خان راته وویل: «دواړه نالوستي وو، خو دواړو د معنویاتو په نړۍ کې ژوند کاوه، نه د دې نړۍ زرق او برق» زما مور به تل له لمانځه څخه وروسته د لمانځه پر غالۍ په پوره عجز سره پټه خوله ناسته وه، زه لا تر اوسه هغه دوه له الله تعالی څخه وېرېدونکې ارواګانې په یاد لرم.
«زما پلار د خپل عمر په اوږدو کې ډېر خلک دوستان کړل خو څوک یې ځان ته دښمنان نه کړل. په حقیقت کې بې له دې چې د تر ټولو ګرانو او عزیزو نومونه واخلم، خو دا هم باید یاد کړم چې ډېر دښمنان یې هم لرل، خو په وروستیو کلونو کې ټول پښېمانه او د ده له دښمنۍ څخه توبه ګار او خواږه دوستان وګرځېدل، حتی د ده په مقابل کې یې فداکارۍ ونه سپمولې. ده انتقام او پور نه پېژانده. له ده سره یو غیر مرئي قوت و، چې ده ته به یې ویل که څوک فرېبکاري درسره کوي دغه خو ستا بې عزتي نه ده. دی د ژبې او قول سړی و. هو یې هو وه نه یې نه. حتی دښمن یې دا جرئت نه درلود، چې د ده نظر رد کړي او یا د ده متضاد واقع شي. ډله، ډله خلک به ورته راغلل او خپلې سپماوې به یې ورسره په امانت کېښودلې، بې له دې چې کوم رسید په دغه معامله کې مطرح وي. دوی ډاډه وو چې دغه داسې بانک دی چې هېڅکله ناکامي او افلاس نه لري. نڅا او مجلس جوړول یې نه خوښېدل او لویو لویو انګرېزانو به ورته کاکا ویلو او خپله خبره به یې دوه واري څېړله، چې دی وربان‌دې خپه کېدلو.»

څومره يې ژوند وکړو؟« ما ترې پوښتنه وکړه، آيا زموږ د آزادۍ په مبارزه کې يې علاقه درلوده که نه؟»
«دی په ۱۹۲۲ ز کال په ۹۵ کلنۍ کې وفات شو. زه نه شم ويلی چې حتی دی په ضمني توګه زموږ په مبارزه پوهېده، خو دی په ټولو برخو کې د اصلاح طرفدار و. په هغو وختونو کې به ملايانو هغه چا ته چې هلکان به يې عصري ښوونځيو ته لېږل، د سترګو له کونجه کتل، خو دی په دغه نظر نه و، کله چې د رولټ د قانون Rowlatt Bill، آشوب ګرۍ او عدم اطاعتۍ شروع شولې، ما خان هغوی ته ور واچاوه، زه ژر تر ژره بندي شوم. د اپرېل په شپږمه په اتمانزيو کې غونډه وه، چې په سلګونو زره خلکو په کې ګډون درلود. زما پلار په دغې غونډه کې نه و، وروسته زما له بندي کولو نور هم دغسې وقايع وشوې. دوه اونۍ وروسته يې په ډاګه کړه، چې زه چېرې بندي يم. د پوليسو رييس د يوه هيئت نماينده (جرګې سره زما بوډا پلار ته راغلل او کوشش يې وکړ، چې هغوی وو بروي، ده ته يې ويل: دوی به پاچا وولي.»
«پاچا؟ ما په حيرانۍ سره وپوښتل» هو« خان عبد الغفار خان وويل او ويې خندل» زه پاچا وم، دوی عادت درلود چې په دغه نوم مې ياد کړي.
ما وويل « ماته دې د يهودو پاچا را په ياد کړ.»
«ښه دغه خو ستا ښېګڼه ده» دا ټول هغه څه دي چې دوی غوښتل زما پلار وو بروي، تهديد يې کړي او پرما درنه سزا کېږدي «نتيجه څه وه؟» نتيجه دا وه چې د کورنۍ له څو غړو سره زما پلار هم بندي شو» بنديتوب خو زاړه سړي ته ببخي ګران کار و، خو د دې پر ځای دی ډېر خوښ و، چې زما جېل ته راوستل شو «زه څومره خوشاله يم چې بندي شوم، ده اعلان وکړ. «مابه ته تر ورځو شپو حتی کلونو نه وي ليدلی، څوک ويلی شي؟» «او څومره يې د بند عذاب وګالی؟» په څه باندې دري مياشتې» د دې وجه دا وه چې سر جارج روز کېپل» پاليسي داسې وه چې پټان د ځان کړي، حتی زه يې له شپږو مياشتو ډېر هلته ونه ساتلم.» قدرمن بوډا په ۱۹۲۲ ز کال مړ شو. دی د خپلې زېږېدنې په کال نه پوهېده، زامنو يې تصور کاوه، چې څه کم يوه پېړۍ يې ژوند و. ده خپله نه

شوای ویلی، خو د ۵۷ اغتشاش «اړو دوړ» یې کاملا په یاد و، هغه وخت د ده د عمر لومړۍ برخه وه.
دی هېڅکله په دې مغرور نه و، چې په هغه حساس وخت کې د پښتون قوم د ریکارډ څخه و. د خان ورونه په یاد لري چې پلار به یې د مشر کاکا خبرې په څومره ښو الفاظو یاداوه، چې د چارصدې د پوځي ګارډ د خزانې قوماندان و.
«د شرم او خجالت ځای چېرته و؟» ما پوښتنه وکړه» زما په یاد دي، چې پنډت موتي لال جي راته ویل چې پلار او کاکا یې د اغتشاش، یعنې اړو دوړ په وخت د انګرېزانو په خدمت کې و. «کېدای شي همدغسې وي» مشر خان وویل: خو دا منا سب نه بولم، چې هغه برخه تل یاده کړو، چې د اړو دوړ په زمانه کې د سکهانو او پښتنو له خوا شوې دي.
هغه مختلف وختونه وو، دغه خو ښه نه برېښي چې دوه لویې کورنۍ د داسې تاریخي کړو وړو، یا عنعنې او دود په وجه د دوی ټولې قربانۍ چې د خپلواکۍ لپاره یې کړي، پو پنا او هېڅ شي. «دغه واقعیت دی» زه خو دغه برخه (فصل) نه شم ختمولی، ترڅو هغه ژور احساس چې له دغو ورونو سره و د خپل پلار په باب ورته اشاره ونه کړم. ورونو به یې پلار تل په بې حد و حصر سخاوت سره او همدارنګه د مینې او محبت په باب، چې له خلکو سره یې لرله او څومره ربړونه ګاللي یاد نه کړم.
دا هغه پلار دی چې زامنو یې ترې د عدم تش عالي صفات او مشخصات په میراث وړي دي.

# لومړي کلونه

اوس کیسه د ورونو د ژوند له لومړیو کلونو سره تماس نیسي، زه ډېر زیات په تلوسه کې وم، چې څرنګه دوی و کولای شو ای په دغه تور تم (تور ولایت) کې دوی تحصیل و کړي او څرنګه دوی د آزادۍ له تحریک سره یوځای شي.
«ما خو درته وویل» دا خبره کشر خان وکړه «چې زموږ په سیمو کې په ښوونځیو کې سبق ممنوع و. په جوماتونو کې مدرسې وې، هلته مولویانو قرآن کریم تدریساوه او د غیر دیني علومو په هکله یې هو مره علاقه نه لرله.
د انګرېزانو په نوبت سره هلته یو څو محدود ښوونځي پرانستل شول، خو د دغو ښوونځیو په مقابل کې یو ډېر قوي نفرت شتون درلود، خو زموږ پلار د دغې آزموینې او عمومي کرکې څخه په بریالیتوب سره راووت او موږ یې د مېڅن سکول «انګرېزي ښوونځی» ته په پېښور کې واستولو. زما ورور د پنجاب پوهنتون آزموینه تېره کړه، بیا د ممبۍ طبي کالج Bombay Medical College او له هغه ځای نه د لا زیاتو طبي تحصیلاتو لپاره انګلستان ته ولاړ. د دې کار آوازې چې زموږ په سیمه کې خپرې شوې چې زما ورور انګلستان ته استول شوی، په ټوله سیمه کې غوغا جوړه شوه. هلته یې د عیسویتوب وېرې شتون درلود، دا وېره هم وه چې هلته به مېشت شي او بیا به رانه شي. له یوې انګرېزي نجلۍ سره واده یې آوازې ربښتیا کړې، خو زما پلار په دې موضوع کې کامل وسعت لرلو ویل به یې چې دی نه غواړي چې د زوی د تحصیلاتو مانع شي.
متأسفانه زه پوهنتون ته د آزموینې په امتحان یعنې د Marticulation امتحان کې بریالی نه شوم. زما لېږل انګلستان ته د لوړو زده کړو لپاره هم په دې وخت کې تر بحث لاندې و. دا وخت زه باید هلته تللی وای، ولې په کورني دوه، درې مرکونه او د هغوی سره تړلي مزخرفات او همدارنګه زما

د وروړ واده له یوې انګرېزې سره زما د دوو کالو قیمتي هلې ځلې ټولې په اوبو کې لاهو کړې او انګلستان ته یې زما لېږل د تحصیل لپاره مهرولاک کړل او زما تحصیل په داخل کې هم له توقف سره مخ شو، خو هغه لنډه دوره دوا ړو ته په Mission School کې دومره ګټوره وه، چې د دواړو به ښوونځي د مشر ښاغلي ویګرام خاطرات په یاد وو.
د ده د فداکارۍ کرکټر او هڅې وې چې د شاګردانو خوښ و. ځوان خان د هغې په څېر په کومه روحیه چې د ښوونځي مشر یې د خپلې عقیدې په ارتباط خپلې دندې سر ته رسولې له ځان سره یې ژمنه کړې وه، چې هغسې به دی د خپلې سیمې خلکو ته دندې ترسره کړي. مخکې له دې چې خارج ته د تحصیل په باب خبرې پیدا شي، دی خیر ښېګنې په کارونو کې شامل و. یو ځل یې پرستاري کوله او یو ځل په خپله خوښه په داوطلبانه توګه په عسکرۍ کې شامل او ځان یې هم هلته تثبیت کړ. د یوه Pathan پښتون عسکر په توګه خو اصلا عسکر زېږېدلی دی او د ده غوښتنلیک عسکرۍ ته دا خبره په ډاګه کړه، چې دا دی یو ځوان له یوې بډایې ارستوکرات کورنۍ څخه حاضر دی، چې په عسکرۍ کې شامل شي. نو د ده غوښتنه ومنل شوه. کشر خان راته وویل چې په نظامي رتبو کې یو شان طلسم یا غیر مرئي لاس شتون لري. زه څو کسان پېژنم چې د لوړو رتبو خاوندان دي. زه چې خپل ځان وینم له هغو څخه کم نه یم، د انګرېز منصبدار سره برابري کوم، خو د الله تعالی خوښه بل ډول وه. هغه و چې د یوه ملګري لیدو ته ورغلم، په خپلو سترګو مې هغه نامطلوبه وضع ولیدله، چې هغه بېچاره په کومه اندازه د یوه انګرېز منصبدار له خوا؛ په داسې حال کې چې په خپله رتبه له ده څخه ټیټ و، توهین او سپک کېده، دغو زما تصمیم را بدل او زه یې و ژغورلم.
نو له عسکري صاحب منصبۍ څخه یې وساتلم، وروسته له دې تخمینا یو کال په «علیګړ» کې وم. دلته مې د اردو Urdo له مطالعې سره مینه پیدا شوه. دا وخت زه د مولانا ظفر علي خان زمیندار او مولانا ابو الکلام آزاد سره د اردو اونیزې د Al Hilal د (الهلال) په

نامه شاګرد شوم، چې بدبختانه د جنګ په دوران کې وتړل شوه، خو زما سیاسي تحصیل (Political Education) لا د مخه د ۱۹۱۱ ز کال په شاوخوا شروع شوی و، چې ډېر ښوونځي مو په ملي سویه په خپل ولایت کې تأسیس کړي وو او زه عملاً پکې سهیم وم. وروسته چې د رولټ بل Rowlatt Bill یا د رولت قانون زموږ مخې ته کېښودل شو، په عوض د دغو ملي خدماتو ژر تر ژره مخ په آشوبګرۍ او تحریکاتو شوم، هغه هم د مهاتما ګاندي غرمنۍ چې په سلګونو زرو خلکو پکې ګډون درلود او ثنګه چې د مخه مې درته وویل زما بوډا پلار هم پکې برخه اخیستې وه. دغه کار په ټول ولایت کې یو خوځښت رامنځته کړ دغه غونډه په اتمانزیو کې د اپریل له شپږمې سره برابره وه.

په دغې غونډه کې ظاهراً کوم مغشوش کوونکی حرکت و نه شو، خو د جلسې لویو الی او برم د مقاماتو لپاره کافي و، چې هغوی په اند ښنه کې واچوي. که څه هم چې زه بندي شوم، خو له کومې محاکمې یا Trial سره مخ نه شوم. له ما څخه پوښتنې وشوې، چې آیا زه د پښتنو پاچا یم؟ ما ورته وویل: زه په دې نه پوهېږم، خو دومره پوهېږم چې زه د خپلې ټولنې خادم servant یم او موږ په دې کار مقررات نه ماتوو. په جرګه کې چې زما په استازیتوب او وکالت جوړه شوې وه هر ډول تهدیدات نغښتي وو او هر ډول سوء ظن او بدګمانۍ دلایل ترې له ورایه استنباطېدلی شوای. دلته د مثال په توګه یوې مسئلې ته اشاره کوم، هغه دا دی چې د Frontier Crimes Regulation «د سرحد جزائي مقررات» دي، چې همدا اوس نافذ او د تطبیق وړ دي. په دې ولایت کې که چېرې پښتانه د هغو په مقابل کې شکایت یا نارضایتي نه لري، دا به ډېره مشکله وي چې په کوم Agitation یا آشوب او مظاهره کې د Rowlatt Bill پر اساس ګډون وکړي. برسېره پردې برتانوي هند خو خپله همدردي له پښتنو سره ښودلې وه. پښتانه به ولې په دې کې تشویش، د نارضایتۍ او خطر احساس وکړي. دوی باید د

هند له برتانوي وګړو څخه ناشکري ونه کړي، ولې دغه حتی زما په باب صدق کوي، خو زه په خپل هوډ کې کلک وم. هلته هیڅ شی نه و، نو زه له څو نورو سره بندي شوم «ما ترې وپوښتل چې» زه غوارم لطفا وو ایه چې څرنګه معامله او رویه درسره کېدله، دغه خو ستاسو ګومان کوم لومړی بندیتوب و.

«هو ! زه یو عادي محکوم او ګرم نه وم، بلکې د ډېر خطرناک محکوم په حیث یې راسره معامله کوله، زما لاس او سپنیز ولچک و او ټوله موده بند کې زنځیر بند وم. زما د جسم وزن د اوس دوه برابره ۲۲۰ پونډه و. دوی داسې زنځیري زولنې نه درلودې چې زما په پښو کې راشي چې کومې مخصوصې زولنې یې ماته جوړولی شوای، که نه، په هغې نه پوهېږم، خو یوه جوړه یې راوړې، هغه وخت په زور یوه یې راواچولې له بجلک څخه پورته ډېرې زیاتې وینې ولاړې.

په مقاماتو (واکدارانو) دې کار هیڅ تأثیر ونه کړ، راته ویې ویل، چې په کم وخت کې به ورسره عادت شم. دې منحوسې قوارې زه له خبث څخه ډکه رویه په ضمني وجې سره تهدید کړم. یو پښتون زموږ له کلي څخه د تلګراف د لین په خرابولو محکوم شوی و، ترې ویې وپوښتل که چېرې ما پېژني؟

د هغه ځواب مثبت و، دغه پښتانه وویل: چې دی زما د غوښتنې پر اساس زموږ تحریک سره یوځای شوی دی. بیا یې پوښتنه ترې وکړه، چې آیا ده له تا څخه ونه غوښتل چې د تلګراف سر قطع کړې، خو هغو په یوه قوي آواز او په زوره وویل: «نه»

خو هغه څه ته چې مشر ورور ته په همدې وخت کې پېښېدل زه په اند ښنه کې وم، ما ته وویل شول چې ده ام آر سي اس ډګري Degree په لندن کې واخیستله. د سنت جارج د روغتون له انستیټوت څخه او بیا د جنګ لومړۍ کربښې ته استول شوی وی. له جنګ څخه وروسته هغه وخت چې دلته اغتشاش او اړو دوړ و، ده په فرانسه کې کار کاوه، د هندوستان لیک (خط) نه شوای ور رسېدی. ده غوښتل او کوښښ یې وکړ چې راشي، خو نه

يې شوای کولای، تر څو چې شپږ میاشتې په لندن کې منتظر پاتې او وروسته په ۱۹۲۰ ز کې د تګ اجازه ورته برابره شوه. کله چې ده د انګرېزانو لپاره په فرانسه کې خدمت کاوه، پلار، ورور او د کورنۍ ځینې نور غړي په انګلیسي جېل کې وو، دی په لوی لاس بې خبره ساتل شوی و چې په کور کې څه پېښېږي، دلته چې راغی دی له لوی مشکل سره مخامخ و، هغه دا چې چا اجازه نه ورکوله چې استعفاء یې منظوره شي.
کله چې مشر ورور د طبابت کار شروع کړ، کشر لا زیاته علاقه د کانګرس Congress او هغو د مرام او هدف سره پیدا شوه. یوځلې چې یې له ګاندي جي سره خبرې کولې ورته ویې وویل: «انسان ستاسو په ښوونځي کې تر ډېره اندازه زیار باسي، زه هم کوښښ کوم په دې فکر وکړم چې په ما به څه پېښ شي، که ما مخکې یو سوکاله او آسانه ژوند درلودی، دا به مې په آسانۍ او خوند سره د جېل ناخوالې نه شوای منلی او دغه امتیاز به مې نه درلود.
بندیتوبونه یو پر بل پسې، لومړی او دویم، په خاصه توګه لویې لویې آزموینې او امتحانونه وو، خو له الله(ج) څخه ډېر د زړه نه شکر کوم چې ماته یې ډېر قوي دسپلین را په برخه کړ چې ټولې ناخوالې راته آسانه شوې.
خان صاحب په ۱۹۲۰ کال کې د نګپور (Nagpur کانګرس ته لاړ، هلته یې لوی کار پر غاړه واخیست او د خلافت په مظاهرو او شورش کې یې له مهاجرینو سره د خپل ولایت د تنظیم مشرتوب قبول کړ، خو وروسته یې له هغه څخه استعفا وکړه، بې شمېره (په زرګونو) مهاجرین افغانستان ته لاړل، خو بیا بېرته راستانه شول، «*دا د غازي امیر امان الله خان وخت و، مترجم د پښتو*» زما پلار چې په دې وخت کې یې عمر له ۹۰ کالو څخه اضافه و، وغوښتل پارټۍ ته راشي (مشر ورور راته وویل)، خو ما مداخله وکړه چې ستاسو روغتیا اجازه نه ورکوي! دا خو یو پلارګونه احساس و، خو د ده فزیکي حالت له موږ ټولو ښه و، کولای یې شوای، حتی په دغه عمر لریو لریو ځایونو ته په خپلو پښو لاړ شي. تر یوې اندازې پورې دا مشکله

ښکاربږده چې منصرف شي، زه دلته نه غواړم چې لوستونکي نور په دې کې منتظر وساتم او هغه ټولې مجراوې چې زیاتې ناخوالې ورسره وې له سره وشمېرم، خو هغه څه چې یوه قهرمانه کورنۍ (پلار او مور) د هغو وړ دی او څه چې کشر خان او مشر ورور یې خاصتا د مهاجرت په وخت وګالل ورته ځیر شوم.

په ۱۹۲۱ ز کال کې بیا خان عبدالغفار خان د (۴۰) سکشن د قدرت مطلقه موخه د سرحد د جزاء د مقرراتو په استناد مخ په جېل شو. دلته د واقعاتو ذکر کول اړین بولم. هرکله چې د نګپور Nagpur له کانفرانس څخه راغبرګ او ژر یې د اتمانزیو په کلي کې د یوه ملي ښوونځي بنسټ کېښود او غوښتل یې چې په ټول ولایت کې دغسې وکړي. د دغې ودانۍ په جوړولو کې کوم ملکي عدم اطاعت نغښتی نه و خو انګرېزانو دغه کار د انګرېز ضد حرکت احساساوه او دوی ته یوه کافي ګوتڅنډنه وه. دې خبرې چې ده د دې صوبې ټولو ناحیو او سیمو ته په سفر شروع کوله او مقاماتو ترې وغوښتل چې ساتونکي Security ورسره بوځي، خو دا یې هم ونه منل.

سرجان مافي Sir John Maffey (مشر کمېسار) کوښښ وکړ، ترڅو پلار یې له زوی څخه وغواړي چې دغه ښوونځي وتړي، پلار ته یې وویل چې هغه ضد انګرېزي دی.

خو ستاسو زوی په یوازې ځان علاقه لري چې دغه ښوونځي تأسیس کړي، چېرې نور خلک په دې کې علاقه نه لري؟ بوډا خا ته دا د کمېسار وړاندیز و. بوډا خان په دې هکله له خپل زوی سره خبرې وکړې، کله چې زوی کور ته ننووت پلار ته یې په دې طریقه ځواب ورکړ: «پلاره !» فرض کړه چې ټول خلک له لمانځه څخه خپله علاقه قطع کړي، آیا ته به له ما څخه وغواړې چې یې پرېږدم، که را څخه وبه غواړې چې دوام ورکړم او دغه دیني کار خوار وګڼم؟«په یقین سره نه؟» پلار وویل: زه به هېڅکله له تا څخه ونه غواړم چې دیني وظایف پرېږده، بې له دې نه چې نور خلک څه کوي.

«ښه پلاره، چې خبره دا سې ده، دغه دنده د ملي تعلیم کټ مټ دا سې ده، که

چېرې زه لمونځ پر ېږدم دا به دا سې وي، لکه چې ښوونځی مو تړلی وي.»
«زه همدا شان وينم، پلار ځواب ورکړ» «ته رښتيا وايې» نو د سر جان کمپسار غوښتنه (د ښوونځي تړل) هېڅ شوه او په نتيجه کې په خان عبدالغفار خان باندي دري کاله قيد راغی؛ ځکه چې دی غواړي چې د پښتنو هلکان د ده په طريقه درس ورکړي. زحمتونه او ربړونه جسمي وو، هغه يې په ۱۹۱۹ ز کې تکميل او سپېڅلی او متعهد تري راووت. دغه بېخي ډېره تحرک کوونکې کيسه ده، زنځير او زولانه، په مياشتو په يوازې او تنهايۍ وړوکې کمره کې، د دانو او غلې مېچن کول چې د بندي رسمي مکلفيت و او څه نه و چې نه به يې پرې کول. دغو مشقاتو بېخي ډېر په فزيکي وجه کمزوری کړ، (۵۵) پنځه پنځوس پونډه وزن يې وبايلو، د ملا د تير او د پښو مزمن خوږ يې ورسره مل و، خو روحا تازه، سوکه ښکارېدو. سره د دغو آزموينو او دوامدارو محاکمو د راز تعقيباتو، اغواګريو او روحي فشارونو هم په متناوب صورت مخ، ترڅو چې روح يې مات کړي، خو دغو د ده روح ته تاوان ونه رساوه، يا دغه کوښښونه بېځايه وو.
سرجان مافي Sir John Maffey يو ځلې خان بهادر خان عبدالرحيم خان جېل ته ورواستاوه له يوه پيغام سره. پيغام خو دا و چې دی د اتمانزيو له ښوونځي سره کوم ممانعت نه لري، که خپل ورور خان صاحب ته ووايي چې د ده پر ځای له سفر سره د دې صوبې ناحيو، سيمو، کليو او بانډو ته لاړ نه شي، که دا ومني او تعهد وکړي، نو سمدستي به خوشې شي، ده ته دغه هم بې ځايه کار و او دغه وړانديز يې هم ونه مانه.
خو زه دلته غواړم چې د دې مسئلې په اخلاقي او روحاني طرف يا بُعد لږ څه رڼا واچوم. ما خو ځينې کيسې اوربدلي دي، د دې بنديتوب په باب برسېره د ده قوي روح، چې هر چا به ورته آفرين ويل، خو زه غواړم چې د ده د جېل ژوند له يو غښتلي منظور سره دلته راوسپړم.
دی يو Model موډل يا نمونه بندي و، ده به هېڅکله د جېل انضباتي

(دسپليني) مقررات او وظيفوي طرزالعملونه ماتول، د ده په اصولو کې د چا نه د ورې مرستې تمه نه وه، دلته بنديان وو چې په يوه يا بله بهانه به يې د مشقت بار دندو په جېل يوه خوا او بله خوا کاوه، خو په ده کې دا رويه اصلا نه وه. دلته خو د جېل مؤظفين وو، چې ډېره په خوشحالۍ يې د ده پر ځای وظيفه اجراء کوله، يا به يې دی معاف کاوه، ده ورسره نه منله، خو وخت و چې خوله خلاصه او وويل: «اجازه راکړئ ټولو ته واضحا ووايم» ډېر امکان لري چې زه درواغ ونه شم ويلی، دلته تر حده فساد په جېل کې مخ په زياتېدو دی، له وظيفو څخه استثناء کول او سترګې پټول او ناغېړي کول خو په آسانۍ سره ممکن وي، خو له دې څخه يې کرکه درلوده. هر چېرې به له دغه راز محکومو خوارو بنديانو سره مخ شو، دوی به دی له دې کارونو څخه منع کاوه، غريبو او خوارو مؤظفينو (پوليسو) ته به يې په دې باب نصيحت کاوه او دوی ته يې ويل چې خپل لاسونه په سوء دسيپلين مه ناپاکه کوئ. يوه سړي په ډېر غمجن (رقت بار) آواز ورته وويل: زه دا ناممکنه ګڼم چې دواړه موخې ترسره شي. «زه درته نه وايم چې څه وکړئ، خو دومره درته ويلی شم چې څه کوئ هغه غير اخلاقي دي.»

دغه خبره ده تر چاروا کو لا زياته پورته کړه او دلته له ده سره کوم سياسي استفاده په خپل طرف مطلقا نه وه. دغه خو د ده د مورالو نفوذ و، خو دوی فکر کاوه، چې دغه د بنديخانې له کارو بار څخه لري و! دی د خپل ولايت له زندان څخه د پنجاب يوه زندان ته، چې هلته سياسي بنديان ساتل کېدل انتقال شو. هغه دلته هم نمونه زنداني و او خپل د زندان ژوند يې په پوره دسپلين او انظباط کې تېر اوه. دا چې چاروا کو د ده د رويې او خبرو کافي زغم نه درلود، دلته مشکل و چې له ده څخه مننه وکړي خو ده هېڅ دليل نه درلود، چې خپلې رويې (Attitude) ته بېرته کتنه وکړي، کله چې ته يو ټاکلی اصل ومنې او ورسره توافق وکړې، ته يوازې د حقيقت په خاطر نه، بلکې د خپل ځان د درنښت (Self Respect) هم هغه ته دوام ورکوي.

ده ماته وويل: «هغه څوک چې د قاچاق مادي وربانديې تطبيق وي په لوی لاس دغه د ځان په باب بې غيرتي نه ګڼي او خپل ځان او عزت محوه کوي، اما په دغه پنجابي جېل کې هم ده ته روحاني استغنی او بډايي حاصله شوه.
دلته و چې ده د ټول ژوند «ټېکې، قرارداد ونه او موافقې» د هندو او سک مذهبه انسانانو سره شروع کړل، ترڅو چې د دوی اعتقادات (Faiths) او کلتورونه مطالعه کړي.
«زه زما په ژوند د لومړي ځل لپاره دلته ګيتا «Gita» لولم» ده ماته وويل: (او همدارنګه Saheb Granth ګرانت صاحب او Bible (انجيل)، ما فکر کاوه ترڅو چې ښايي ګران زندانيان ملګري او د دوی ملګريتوب ښه درک کړم، خو ډېره ضروري وه، د دوی اعتقادات وڅېړم او په منظم ډول يې مطالعه کړم. زه د دوی په کتابونو نه پوهېدم، دا بايد اعتراف وکړم چې Gita ماته ډېر مشکل و، ما څو څو ځلې تکرار کړ، ماته مغلق او احتمالا نه مې شو ای درک کولای. پنډت جګارام د Andamans اندامانز څخه و چې په ۱۹۳۰ ز کال کې يې ماته ګيتا را زده کړ. ده دې کار ته يو خاص احساس درلود، ده ماته را زده کړل چې د ده د روح په کالبد کې ځان واچوم. د «سرحد ګاندي» نوم په دې وجې په ډېر محبت د ده د علاقه مندانو او لارويانو او تر يوې اندازې د ده له غليمانو څخه وکارېده او له دې ځايه سرچينه اخلي.
ده د ګاندي ژوند په دقيق او انتقادي طريقه مطالعه او تل حاضر او دېته تيار و، چې د هغه له کتاب څخه يوه پاڼه واخلي (درک يې کړي).
په زندان کې يې په اونۍ کې يوه ورځ روژه نيوله ،خو په اونۍ کې يوه ورځ هم چوپ پاتې کېده. همدغه وجه وه چې د خپلو خلکو له خوا ورته د هندو خطاب کېده او د دغه لقب ټاپه يې پرې ولګوله.
د هندو - مسلمانانو په ګډ ژوند کې ۱۹۲۹-۱۹۲۴ ز دغه تياره تريني ورځې د وخت کشمکش و چې په دغو وختونو کې هم په ده باندې مطلقا ناوړه اغېزه

ونه کړه. ده خپل ځان د تېز جماعتۍ لور څخه مصئون او لرې وساته. اجازه راکړئ چې یو بل حقیقت درته ووایم، هغه دا چې خان عبدالغفار خان به ویل خو د زیات احساس او توقیر سره «زه د یوه مذهب قوت او قدرت د سرونو په تعداد نه اندازه کوم، څه ته چې عقیده وایو، د یوه انسان په ژوند کې ترې په عمل کې تبارز کوي؟
زما ټېنګه عقیده او باور دا دی چې اسلام ښه عمل، عقیدې او محبت ته وایي، بې له د ښه هغه چې ځان ته مسلمان وایي او چیغې وهي دا سې ښکاري لکه د برنجو سنج چې ډبوي، قرآن شریف په ښکاره وایي چې یقین او باور په یوه خدای (بې له دویم څخه) او سمه لار (ښه عمل) کافي دی، د یو انسان د نجات لپاره.
همدې وخت کې دی د یو مذهبي «اورتودوکس» مسلمان نه کم نه دی، زه دا سې فکر کوم چې ده به هېڅکله محض یو لمونځ هم نه وي قضا کړی او د ده حس دومره په ځان کې قوي دی، چې هېڅ مذهبي او اورتودوکس مسلمان به ورپسې ونه رسېږي. مشر ورور (د ډاکټر خان صاحب) څنګه چې ډېر کلونه یې په خارج کې تېر کړي دي، خو چې د مختلفو ملیتونو او عقایدو ملګري یې درلوده، لږ تر یوې کمې اندازې ظاهرا د هغو تر شعاع راغلی، خو له خپل پلار څخه یې کاملا د کشر ورور په څېر مذهبي شعایر په میراث وړي دي. ځینې وخت به یې په ټوکه ویل: زما په وکالت زما کشر ورور لمونځ کوي، خو کله چې به لیبرال خواهي د دوی او همدارنګه د اصلي مذهبي ارکانو او مشایرو تر منځ بحث و ده به عمیقا د نا آرامۍ احساس کاوه. ما یو وار یوه اونیزه چې د افراطي اورتودوکس مسلمان له خوا هم نشربدله، لیکونکي د ګاندي جي په روژه نیوکې کړې وې او ویل یې چې اصلي روژه خو مسلمان نیسي، چې د اورتودوکس طریقه شي.
ما ورته توضیح کړه چې اصلي روژه خو د سهار څرک (ورځې شروع) تر

شپې راتلو پورې د خوراک او څښاک څخه ځان ساتنه ده. «ما هم کله چې ګاندي جي په تېر اګست کې روژه نیولې وه او ورځې روژه و نیوله ماښام مې اوبه او مالګه څښل، دا به د اسلام د دین یو ه استهزاء وي، که اصلي روژه هغه ده چې ټول مسلمانان یې نیسي.[1]

پیغمبر به د ورځې او شپې کاملا روژه و، (دا واقعیت نه لري، مترجم)، ده اجازه ورکړه، د خوراک د عادي انسانانو د ضعف پر اساس پیغمبر خوړو ته اړتیا نه درلوده، څنګه چې ده ویلي الله تعالی ده ته روحاني خوراک ورلېږلو چې عادي فنا کېدونکو انسانانو ته نه پیدا کېده. همدغه او ونیزه وه چې پر ما یې د هندو تور ولګاوه؛ ځکه چې ما هره اونۍ خپله خاموشي نیوله او ګیتا مې لوستی و.»[2]

***

[1] «زه هم په عقیده یم، مترجم»

[2] نوټ: د دې پورته بحث په باب زه د قضاوت صلاحیت د قضاوت، مترجم.

ځلورمه برخه

# د مذهب په هکله د دوی نظرونه

دغه موضوع مې اړ باسي چې هغو مقالو او لیکنو ته چې د دوی په باب لیکل شوي متوجه شم. د دواړو خواوو لپاره ضروري ده، د هندوانو او مسلمانو چې دا را په ګوته کړي چې آیا د خان د وروڼو قدرت په څه کې دی، چې دوی د هندو - مسلمان په یووالي کې اتلان وګرځېدل.

یو ځلې خو په اتفاقي ډول ګاندي جي د انګریز توکمه مېرمن له ډاکټر خان صاحب څخه وغوښتل، چې آیا دا د اسلام دین ته اووښتې، تاسو به تعجب وکړئ چې په دې هکله کشر خان څه وویل: «په دغې موضوع کې زه نه شم ویلی چې آیا دا مسلمانه ده او که عیسوی، دا هېڅکله اووښتې نه ده... تر دې حده چې زه پوهېږم دا بالکل په کامل صورت آزادي او اختیار لري، چې خپله عقیده تعقیب کړي چې هر څه وي، ما خو تر اوسه هېڅکله نه ده پوښتلې، چې ولې زه ترې پوښتنه وکړم؟ ولې نه؟ مېړه او ښځه د یو بل عقایدو ته درناوی ونه لري، ولې واده د کوم طرف عقیدې ته تحول او تغیر ورکړي؟ ته به ډېر حیران شې چې په دې اړوند په لندن کې د خپل وراره په ارتباط ووایم. نوموړی په دې ورځو کې د پوهنتون په آزموینه کې بریالی شو، غواړي اکسفورډ ته لاړ شي، په یو وروستي لیک کې یې موږ ته لیکلي چې هلکان داسې هم وایي چې زه عیسوي یم، خو نه پوهېږم چې دوی ته څه ووایم!

«هو زه پوه شوم» ګاندي جي وویل، خو په زیاته حیرانتیا او تعجب سره، څه چې تا وویل، د خپل ورینداري «ورور مېرمن» په کامل توافق سره یې متعجب کړم، خو ډېر مسلمانان د غسې نه وایي؟

حتی ستا غوندې په دې باب دغسې فکر نه کوي؟

«نه، زه پوهېږم چې دوی به دغسې فکر نه کوي، خو خبره دا ده چې په سلګونو زرو مسلمانانو کې په حقیقي روحیه د اسلام څوک نه پوهېږي.

دغه مشکل د دوارو خواوو د داد او بېداد غوښتونکو اړخونو سره د کرکې او بدبینۍ په ډول د دوی په مغزونو کې شتون لري.

په دې برخه کې موږ بېخي وروسته پاتې شو، په همدغې موضوع کې په ۱۹۳۰ ز کال کې کله چې موږ د ګجرات په جېل کې وو، ومو غوښتل چې یو څه زیات وخت ورته تعین او د کفایت وړ کسان ورته مشخص کړو، چې قرآن او ګیتا ټاکلو ګروپونو تدریس کړي. د دغه پوهاوي صنفونو یو څه وخت ادامه درلوده، خو وروسته په ټپه ودرېد، چې له یوې خوا په خپله زما غوښتنه د ګیتا د صنف په هکله وه، خو د قرآن د صنف په باره کې دوه کسه نورو چې اوس زمونږ په یاد نه راځي غوښتنه وه او په حقیقت کې دا وجه وه، ما چې د ګیتا درس ورکاوه، په ما یې د هندو لقب کېښود او هغه بل طرف هم د مسلمان چې له دې څخه د کرکې او رسوایۍ څخه بل څه وي.

(خو ما د ګیتا لوستلو ته دوام ورکړ، درې ځلې مې ټول وویلو، زه فکر کوم چې زمونږ د جګړې، کشمکش تر څټ زمونږ غلطي او سهوه دا ده، چې په ټولو ادیانو کې د بشریت د پوهاوي لپاره ډېر الهامونه پټ دي، د هغو د پیروانو لپاره. قرآن کریم په څو ځایونو کې چې الله (ج) خپل استازي واستوی ترڅو چې خپل منسوبه بلل او ټول د هغو په ژبه لاربنوونه وکړي، هندو، یهود او عیسویان ټول د کتاب خاوندان دي.

(دغه خو د یوه روحاني یعنې مذهبي مسلمان نظر نه دی. (له نېکه مرغه زه هم په دې عقیده یم، نو مشرک څوک دی.«ژباړونکی»

(زه پوهېږم خو دوی وایي چې هندوان او کتاب یې په قرآن شریف کې نه دي ذکر شوي، د نمونو ذکر مکمل او همه جانبه محض یوه توضیح ده، قرآن په ډېر واضح صورت اصلا په کُلي صورت ذکر شوی، نو هغه څوک چې په کتاب

ورته الهام شوی، اهل کتاب ورته ویل شوي، زه دلته مطلقا واضح کوم او دا یو واقعیت دی چې هغه څوک چې ټاکلی کتاب ورته لېږل شوی، په هغو باندې ذیعلاقه کتاب حاکم دی. متباقي دیني اساسات یو له بل سره تغیر شوي دي، دلته یوه ډېره ساده او آسانه بېلګه راوړم؛ په دواړو یعنې اسلام او هندویېزم کې په نظافت او پاکۍ تأیید او تأکید شوي دي.
په دواړو کې یو له بل سره په دې مسئله کې کوم تفاوت نشته، خو عمل متفاوت دی، اسلام د یوه وچ مسواک استعمال وړاندیز کوي او هندویېزم د شنه لرګي د استعمال، هندویېزم د بدن ټول مینځل، یعنې ورځني او اکثر وخت غسل، خو اسلام په پوره ځان مینځلو «غسل» او نیز باندې تأکید کوي. دا څه معنی لري، هندویېزم د ګنګا او بو ته هڅه کوي، چې صافې او بې کثافته وي، حال دا دی چې اسلام په داسې دښتو کې دغه ضروري وګڼي چې ځینې وخت په ورځو ورځو یو څاڅکی او به هم نه وي.
دغه خو دا معنی نه لري چې اسلام یو څه وایي چې مسلمان ورځنې غسل وکړي، یا تازه مسواک استعمال نه کړي، تفاوت علی الاکثر په ورځنیو اعمالو کې د یوه ولس یا یوه جماعت په یوه ټاکلي ملک او ساحې پورې نغښتی دی. نو زه باید د کومې عقیدې خلک ونه ځوروم او داسې هم نه شم ویلی، چې یو وخت به راشي چې په ټوله نړۍ کې یو دین وي، هر ولس به ځان له جدا عقاید ولري او دا ضروري نه ده، چې خپل عقاید په بل ولس یا ملت تحمیل کړي او یا د بل ولس مذهبي دودونه سپک وګڼي.»
دا خبره خو دغه مفهوم نه په ګوته کوي چې د خان وروڼو په نظر د عربو په څېر د مختلفو عقیدو خاوندان سره بېل کړي. که څوک دغسې فکر وکړي، دا به لویه سهوه او تېروتنه وي. موږ هر کله د ربل په هر تمځای کې دا چغې اورو «هندي اوبه، اسلامي اوبه، هندوی چای، اسلامي چای، چې یو ځل ښه ورته په ځیر شو، د دغو له تکرار تکرار څخه سترې کېږي هم نه « خو باید یو هندو او یو مسلمان په خپلو کې کرکه ولري چې د څښلو پاکې اوبه یو د بل له لوښي څخه ونه څښي؟»

لېکن په همدې مسئله کې، لکه د نورو په شان کوم اجبار هم شتون نه لري او هېڅوک د خان عبدالغفار په شان په دې موضوع کې معلومات نه لري. په ۱۹۲۲ ز کې هغه وخت چې په ديره غازي خان جېل کې و، ما کوښښ وکړ چې د ځينو باريکو حساسيتونو په ارتباط د خان صاحب له خولې څخه واورم. ده له شپږو مياشتو ډېر وخت غوښه نه وه خوړلې، دا ځکه چې د نورو زندانيانو له خاطره چې هغوی وجيترين Vegetarian يا سابه خوښونکي وو، ده زيات وزن بايللی و او ډاکټر ورته لږ تر لږه ۵۰٪ د غوښې د خوړو توصيه کړې وه. د آشپز خانې مشر وويل چې بايد په عمومي پخلنځي کې پخه شي، خو د نورو بنديانو د حساسيتو په خاطر ده نه غوښتل او حتی زړه نازړه يې د ډاکټر توصيه ومنله. د پخلنځي مشر دې ته حاضر شو چې عليحده يې په خپل کور کې پخه کړي، خو بالاخره د نورو بنديانو د حساسيتو په خاطر خان صاحب صرف نظر وکړ او د بند ټوله موده يې له غوښې څخه ځان وساتلو. زه وايم چې موږ هم دغه مشکل د مسلمانانو دودونو او حساسيتو ته په درنښت وګورو.

په ۱۹۲۲ ز کال کې هر کله چې د طبي توصيې په استناد ورته غوښه حواله شوې وه، ځينو هندو او سک بنديانو دغه ونه شو زغملی چې دغه نه زغمل او عدم تحمل زموږ له خوا د هلاکت او بد بختۍ نښه ده. بې له يو د بله په خپلو کې يو د بل دودونه او حساسيتونه په درنښت نه کتلو. په دې صورت کې هېڅکله د هندو- مسلمان د يووالي او اتحاد هدف تحقق ونه مومي» ده دا خبره ډېر ځلې راته وکړه.

خو څه چې او سني شرايط حاکم دي، نن سبا وضعيت توره تياره ښکاربږي، خو د خان د ورونو نظر د هندو- مسلمان د اتحاد په باب هيله بخښونکی دی. دوی په دې کې هېڅکله شک نه ده کړی، وايي چې د دواړو خواوو رهبران بايد نهايت زيات د دغه اتحاد په لاره کې قرباني وکړي.

کشر ورور راته وويل: «کله چې موږ لاړو ما له يوه مولوي سره ملاقات وکړ، چې د يوه جومات مسئول و. ده په ډېر جدي صورت له ما څخه وغوښتل، چې د

هندو - مسلمان په ارتباط څه وو ایي. ده وویل: «دغه بې فایدې کوښښ دی، دوی ټول بُت پرستان دي، څرنګه موږ وکولای شو چې له دوی سره کومه معامله وکړو؟ ته غواړې چې د اسلامي تعلیماتو په ضد کوښښ او کار وکړې» ماد ده خبره رد کړه او ورته و مې ویل: «که چېرې دوی بت پرستان دي، موږ څه یو !د قبرونو (زیارتونو ) عبادت څه دی؟ دوی خو د خدای (ج) فدایان او هوا خوا دي، زه په یقین درته وایم چې دوی په واحد خدای (ج) عقیده لري !ته ولې د هندو -مسلمان د اتحاد په ارتباط داسې مأیوس کوونکی نظر وړاندې کوې؟ ریښتیني کوښښونه بېځایه نه دي. فصلونو ته وګوره، د تخم دانې و پاشل شي، یوه ټاکلې موده باید په ځمکه پاتې شي، بیا را وسپړېږي او بالاخره د خپل ځان (تخم) په څېر په زرګونو حاصل ترې لاس ته راځي. دلته د اتحاد موضوع او کوښښونه په همدې شکل دي، چې هر کوښښ به ښه نتیجه ولري. په یوه بل ځای په بل وخت همدا راز یو بل مسلمان د مولوي په شان پوښتنې او اندېښنې راپورته کړې، دغه مسلمان د یوې نشریې چلوونکی و ، خو په بله وینا: دغه ناشر ویل «ولې په رېګزارکې قلبه زغلوې، دغه هندوان هېڅکله د اعتماد وړ نه دي، آیا شواجي نه پېژنې؟» دغه پوښتنې یې وکړې.

مشر وروربې له ځنډه او مهلت څخه په آسانۍ سره ورته لو «نو داسې ښکارېږي چې ته شواجي ښه پېژنې !؟ که چېرې یو هندو ورته راشي، تا ته اورنګ ووایي او ټول دا نومونه دربانديې کېږدي او درته ووایي چې ټول مسلمانان، هندوانو ته د اعتماد وړ نه دي؟ ښه، ښه زما ملګریه، دواړه شواجي او اورنګزېب مړه دي، موږ او تاسې د هغو په هکله اندېښنه او تشویش و نه لرو. د مهاتما ګاندي په باره کې څه وایې؟ داسې ښکاري او څنګه چې ته هم دغسې فکر کوې، هغه د اعتماد او باور وړ دی، نو ټول ښه دي. تر کومه ځایه چې ورونه د اعتماد او باور وړ یاستو، موږ له هندوانو څخه دا غوښتنه کولای شو ، چې پر موږ اعتماد وکړي، یو ولس یو واري پر هغو کسانو قضاوت مه کوئ، چې تنها ته یې پېژنې چې شاید خراب استازی وي، خو پر غوره خلکو قضاوت پر ځای دی.

«مور د هاريجان د تحريک په هکله ځيني انګېرني (نيوکې او تشويشونه) اورېدلي دي او همدارنګه مهاتما ګاندي هم» دا خبره کشرورور يو وارې وکړه «حتی د يراودا موافقې» (Yeravda Pact) او د ۲۱ ورځو روژې په ارتباط هم ځيني غلط پوهېدلي او مور ته ويل شوي چې دی د (کالم ليکونکي) وظيفه پر غاړه لري. مور په کاملې مېړانې او متين عزم سره دغه راز اتهام او نيوکه رد کړه. ستاسو کامل يو بشري تحريک دی او هغه کسان چې په يوه عقيده او مذهبي جريان پورې تړلي، هغه مطلقا د دوی کار نه دی چې «د نورو ورونو او کسانو د عقيدې او مذهب په باب څه ووايي، مور تاسو ته له جېل څخه تلګرام درولېږو چې مبارکي درته ووايو او ستاسو به هم په ياد وي، البته ستاسو يو څو ورځې نيسي، چې مور ته راورسېږي !» او دواړو له زړه نه وخندل.
نه يوازې خپلې روژې يې په ډېره خوشحالۍ سره ونيولې، بلکې په ټينګ عزم او متانت سره څه موده چې په جېل کې وو، غوښه يې په خوله کېنښودله، حتی له جېل نه باندې هم، خو کله به په ناڅاپي ډول د ځينو کورنيو مېلمانه وو په هغه صورت مجبور وو چې له خلکو سره همغږي وکړي. ځوان کشر ورور نه يوازې چې تېره مياشت يې له ګاندي جي سره روژه ونيوله، بلکې خپل ځان يې له يو بل شي نه هم منع کړ هغه دا چې چای يې پرېښود چې بېخي ډېر يې خوښېدلو «کله چې زما څخه چای قضاء شي، د سر خوږ راته پيدا کېږي او کله چې يې څښم، نو بېخي ډېر يې اخلم، خو دا د حيرانتيا خبره ده، کله چې روژه وم، هېڅ پروا مې ورباندې نه وي او حتی چای مې په خاطر کې نه راځي او په کلي وجې سره مې هېر وي او په دې کې زړه نازړه هم نه يم، چې پرې يې ږدم» يوه ورځ يې دغه پورته خبرې راته وکړې.
خو مشر ورور په يو څه اندېښنه کې د کشر ورور د روغتيا په ارتباط او اکثرا خپل ځان نه مني او پر ضد يې حرکت او اقدام کوي، چې دا د هغو لپاره پوره طبيعي خبره ده. په ۱۹۱۹ ز کال کې يې ۲۲۰ پونډه وزن لرلو، اوس

تخمینا ۱۷۰ پونډه دی، دغه ارقام د زندان له خوا تائید شوي دي.
خو دغو کړو او خبرو زه په ځُرت او حیرانتیا کې واچولم، د دوی په اند اسلام یو تنګ نظره دین نه دی، ضمنا دوی په دې نظر دي چې سرې به بېخي وقف شوی او فدایي مسلمان وي. همدا رنګه بل لور ته نو عادي کارګر له یووالي څخه ملاتړ کوي او د کانګرس غړی دی، یعنې د Indian National Congress «زه تعجب کوم چې ده یوې غونډې ته په ۱۹۳۱ ز کې وویل«اصلا په خپله نوم د کانګرس ځینې زیات زموږ مسلمان ورونه په وېره کې اچوي. دوی فکر کوي چې کانګرس یوه هندي موسسه ده، نو دی په دې هکله څه نه غواړي چې وکړي، دغه د ملي کرکټر خاونده موسسه یو غلط او ناسم تعبیر و له هغو څخه کوم ښه نه و شوي.
زه له خپلو مسلمان ورونو څخه غوښتنه کوم چې اهداف، مرام، مقررات او نهایتاد کانګرس اساسي اصول مطالعه کړي او ځانونه پرې پوه کړي. په ډېر مختصر ډول د کانګرس هدف او مرام دا دی، چې د هند خلک له غلامۍ او استثمار څخه وژغوري. یا په بله وینا هند په دې قادر کړي چې میلیونو وږیو خلکو ته خواړه ورکړي (ماړه یې کړي) او میلیونو بربنډ - لوڅو ته کالي ورکړي. زه له تاسو څخه غوړام چې د اسلام تاریخ ولولئ او تاسو ته وظیفه درکوم چې وګورئ او په ډاګه کړئ، چې د جناب پیغمبر حضرت محمد (ص) مرام او هدف څه و، زما په نزد دا و، چې مظلوم وژغوري، مسکین یا نېستمن ته خواړه برابر کړي او لوڅ ته کالي ورکړي. فلهذا د کانګرس کار او وظیفه د اسلام د پیغمبر (ص) له کار سره ورته وه، په همغږۍ او توافق کې و.
«دا خبره لکه لمر دومره ښکاره ده، زه په دې نه پوهېږم چې مسلمانان ولې د کانګرس په هکله زړه نازړه دي.
نو موږ د عدم تشدد عقیدې (طریقې) ته راځو. د یوه مسلمان یا پښتون په ارتباط هېڅ شی د حیرانتیا او تعجب وړ نه دی، چې زما په شان د عدم تشدد عقیدې د زړه له کومې د باور څښتن او هغه په عمل کې واچوي او

دغه کومه نوې لار او طریقه نه ده. زموږ لاربنود او د الله(ج) استازي ۱۴۰۰ کاله مخکې چې په مکه معظمه کې و، په دغه لار روان و او تل یې کوښښ کاوه چې د مظلوم له اوږو څخه د ظالم پښې لرې کړي.

خو موږ دغه لار هېره کړې وه، ترڅو ګاندي زموږ په مخ کې کېښودله موږ فکر کوو چې ده دغه تضمین کړې ده، نجیبه (عقیده یا طریقه او وسله) ده او کرېډټ یې ټول ده ته په ګوته کېداى شي، چې دغه هېره شوې طریقه یې بېرته راژوندۍ کړه او د یوه ملت په مخ کې یې کېښودله، چې د هغو په رڼا کې مظالم وڅېړي.

«مسلمانانو او هندوانو ته باید ووایم چې د آزادۍ دغه مبارزه ستاسو دواړو خواوو د نجات لپاره ده. هندوان باید په دغې مبارزه کې د خپل سهم اخیستلو په اړوند له چا څخه د منني په فکر کې نه وي او همدارنګه مسلمانان چې په دغې مبارزه کې په خپل اشتراک او سهم د منني غوښتنه له چا څخه وکړي. دلته کافي تأثیرات او تأئیدات شتون لري، چې موږ یې سره جدا کړي یو. د پټهان (افغان) غږ خو دلته د پوهېدو وړ دى، خو زه د یوه تعلیم یا فن او ملت پال له رول څخه د یوه لرې بېګانه اجنبي پر ځای جانبداري کوم.

***

**پنځمه برخه**

## (خدايي خدمتګاران)

خان عبد الغفار خان په ۱۹۲۴ ز کله چې له زندان څخه راووت، په پوره آرامۍ سره يې تصميم ونيوه، چې وروسته له دې د ټولنيزې اصلاح په ارتباط کارونه وکړي او ضمنا د کانګرس په څو متعددو غونډو کې حاضر و، خو د ده ساده بې تظاهره رويې په پوره فروتنۍ او ساختګي غټوالي د ده چغو او نارو د کانګرس په غونډو کې څومره چې لازمه وه د خلکو پام يې ځان ته جلب نه شو کړی. يا په بله وينا په صحنه کې يې د ځراغونو کافي رڼا ځانته رانه وړای شو، خو په خپل ولايت کې يې څنګه چې مخکې له مخکې خبر يو، دغه وضع د دې پر عکس وه، دومره د پاملرنې وړ وه چې ستايل يې ناممکن دي. مور وليده چې په ۱۹۲۱ ز کې د اتمانزيو په کلي کې څرنګه د يوه ښوونځي بنسټ کېښود او هغو ته يې په خپله سيمه کې وده او پراختيا ورکړه، د بر استادان او شاګردان په دې جريان لګيا وو، خو له بده مرغه دوی ته هماغسې زيان ورسېد. کله چې په ۱۹۳۲ ز کال کې ګجرات و بديا پېټ په احمدآباد کې و، دغه خلک کار کوونکي وو چې اصلي (مرکزي هسته) د يو لوی تشکيل يې منځته راوړله، چې کلونه وروسته هغو ته خدايي خدمتګاران وايي. څوک چې د خدای ښه ورته وويل شي، خان صاحب پرته له دغو داوطلب کار ګرانو (داوطلب غړو) له خپلې اتحادېې څخه بل څوک تصور نه شي کولای او لا زيات پر ځای بې له خدايي خدمتګار Servants of GOD بل نوم مناسب نه ښکاري.

دغه داوطلب کارګران لومړی له دوی څخه منظور دا و چې د اجتماعي اصلاح کارونه ترسره کړي. د مثال په توګه له غير قانوني

اعمالو، غلا او غدۍ څخه د پښتنو منع کول، د واده لپاره ښه پوهاوی او سمه لار لکه په لږو مصارفو او همدارنګه نور. دا خو په ۱۹۲۹ ز کال کې و، چې ډاکټر خان صاحب تصمیم ونیو، چې د یوه واړه ګروپ، د دغو کارګرانو څخه په کاملې ژمنې او مسئولیت سره یو منظم سیاسي تشکیل منځته راوړي، ترڅو چې د کانګرس یو کامل پروګرام پر مخ بوځي (سره کمیس والا) «Red Shirts»، یو داسې بد نوم و چې د هغه پاکول ډېر سخت و. دغه سیمه ییز نوم په ممکنه صورت سره ژامه ماتوونکی ښکاره کېده، خو ځینو واکدارانو له خوا چې هېڅ د هغې سیمې په کلیوالي لهجو او اصطلاحاتو نه پوهېدل، چې ژامه ماتوونکی څه معنی درلوده، دوی دې ته تیار وو چې سور رنګ په څه کې راغبرګ کړي.
د خان ورونو راته ویل، چې د دغو داوطلبو کارګرانو یونیفورم تک سپین خط دار وو. په ډېر وخت د اغوستلو کې دغه سپین کالي ډېر خیرنېدل، نو تصمیم ونیول شو چې د دوی یونیفورم د پخې خښتې رنګ ولري، ترڅو سم رنګ سوربخن او چرک وردار وي. دا د (The Brick Colour) رنګ شوروي اتحاد له سره رنګ سره کاملا متفاوت او غیر مرتبط و.
د کانګرس یو پروګرام د خدایي خدمتګارانو دا و، چې د خارجي لباس، شراب او دغه رنګ په خپلو سیمو کې پرېښږدي. دوی منظما نظامي تمرینات ترسره کول جمع نظام او مارشونه یې په نظامي رنګ او فیشن سره کول، خو له وسلې څخه منع وو. دوی تر ډېر سخت منظم او دوامداره دسپلین او انضباط لاندې وو او له اوامرو څخه یو وړوکې بې انضباطي او عدم اطاعت له کار څخه د شړلو (یعنې د وظیفې پرېښولو) معنی درلوده.
خدایي خدمتګاران مکلف وو، چې د استخدام په درشل کې یې دغه لاندې قسم (لوړه) او ژمنه کړې وای:

(۱). له څښتن تعالی، ولس او وطن سره به په صداقت کې وم.
(۲). تل د عدم تشدد لاروی اوسم.
(۳). هېڅکله د خپلو کارونو او خدمتونو عوض او أجر نه غواړم.
(۴). له بديو او دښمنيو څخه به پرهېزګار او قربانيو ته تيار اوسم.
(۵) ساده، خالص ژوند به کوم.[۳]

په ۱۹۳۰ ز کال د اپرېل په مياشت کې د خان صاحب د بندي کېدلو په وخت د خدايي خدمتګارانو شمېر تر ۵۰۰ کسانو ډېر نه وو، خو په دې وخت کې د هغې بندي کېدل د دغه تحريک تقويې ته په ګټه تمام شو، يعنې ويې پارول. د دغه مشهور شوي تحريک له منځه وړل ناممکن ښکارېدل. زه نه شم کولای چې د دغه تحريک پر ضد لمسونې، تومتونو په باب دلته په جزئياتو کې لګيا شم، حتی که دغه ټول شواهد مې په لاس کې هم وای، بايد نه مې وای غوښتلي چې ټول د انګرېز د مسلکي قانون د عدم اطاعت جريانونه چې دلته ټولو عامو خلکو ته بيان کړي وي؛ ځکه زه نه غواړم چې ببرته را ژوندی شي. دومره ويل غواړم چې ورونه په دې هکله ګوښی فصل او توضيحات لري، چې چاروا کو څرنګه په خلکو فشارونه واچول خاصتا په ورونو او خدايي خدمتګارانو باندې.

مشر ورور هغه حوادث او جرئيانونه په خپلو سترګو ليدلي وو، چې ماته يې بيان ټول ډېر خطرناک و، خو ټول د ورونو رضايت سره حادث شوي او دغه لمسونې او عدم اطاعت د انګرېز د ملکي مېتود پر ضد و، چې هغه بالاخره وځنډوې، زه دې ته ترجېح ورکوم چې په هغو غم لړلو او هول انګېزه جريانا تو، واقعاتو او وينه تويېدنې دلته پرده راکش کړم، خو يو شی نه شم تېرولی، هغه دا چې

---

۳. دغه پورتنی (قسم-لوړه) ليک ليکونکی منحصر کوي، مفصل فورم اته مادې لري، چې له My Life – My Struggle څخه مې اړولی ده. *زګ و- ژباړونکی*

د تشدد خوښوونکو پر ضد اتهامونه د تشدد د علايمو او شواهدو پر بناء رسما هوار شوي وو. په دغه دوره د ۱۹۳۳-۱۹۳۰ ز کلونو کې حتی يوه ثابته او واقعي دعوا د هېڅ يوه خدايي خدمتګار (سره کميسان وال) منځته نه وه راغلې.

د پېښور حادثو د ۱۹۳۰ ز په اپرېل کې د چارواکو پوښتنې او څېړنې په دوو برخو وېشلې وې؛ رسمي او غير رسمي. په دې دواړو برخو کې چې يوه يې د سليمان Suleiman کمېټه نومېده او بله يې د پټېل Patel Commitee وه. د وينې تويونې ځينې وېروونکو او ډېرو مخوفو دعواوو شتون درلود او هغه شواهد چې د خدايي خدمتګارانو پر ضد ښکاره په ګوته شوي وو. تر ټولو خرابه پېښه دا وه چې حکومت اعلام وکړ، د مشر کمېسار له ولايت څخه د ۱۹۳۰ ز کال د مۍ مياشت چې ولس بايد خپلو بانډو او کليو ته د کانګرس د داوطلبانو له ننوتلو څخه منع کړي چې سره جاکټونه يې اغوستي دي، دوی ځانونه خدايي خدمتګاران بولي.

خو په واقعيت کې دوی د ګاندي خدمتګاران دي، دوی د بلشويکانو جامې اغوندي. غواړي چې د بلشويکانو د سلطې، فضاء په خبر شرايط منځته راوړي. څرنګه چې تاسو به هم د هغو په هکله اورېدلي وي، که په دقيق صورت ورته ځير شو، دغه خبرتيا هېڅ معنی نه لري، بې له دې چې پر دوی باندې د بلشويکانو اطلاق وکړي. دغه خبرتيا له بې شمېر رسمي اعلاميو څخه چې د اپرېل له ۲۳ وروسته د تراژيدي کوښښ لړۍ وه، چې په ضمني توګه دوی په کې راونغاړي *(يعني خدايي خدمتګاران پکې متهم کړي، ژباړونکی).*

فادر ايلوين (Father Elwin) د دغو جريانو او واقعاتو څخه د پوليسو په شمول يې خبرونه، کتنه او ليدنه وکړه او د خدايي خدمتګارانو په مقابل يې دغه تورونه په ګوته کړل:

(۱). ځينې پوليس افسران په خپلو حوزو کې تحقير او توهين شوي وو.

(۲).د دوی موټرو ته تيرې او ښوره Dung غورځول شوې وه.

(۳). د تيږو او خښتو اچونې په کوهات Kohat کې ټک و ټوک منځته راوړ.

د دې دريېمې پېښې په ترځ په يوه شبېه يې ټول قدرت چې د عدم تشدد کېدلی شوای، په بل شکل استعمال شي، خو نه حتی المقدور د تېري او حملو څخه څنګه چې تعمد و وشول، خو دا خبره مو د هېره نه شي چې حکومت خپل أمنيتي ځواک سيمې ته ورلېږلو او مسئول رهبران (لارښودان او Leaders) بنديان کړل او د غه حملې خو ډېرې ناوړه ښکاري. کله چې له دغه زړور ولس سره څه وشول، په پرتله کې واچوو. دلته په کار دي چې د هغو متعددو معذرت غوښتنليکونو په هکله تماس ونيسم، چې د سره کميسو زندانيانو چارواکو ورکول، ترڅو له بند څخه خوشې کړل شي.

خو دا کيسه به مې په داسې يوه بحث کې واچوي، چې د دې کتاب له موضوع څخه به لرې وي. فرضا که دغه کيسه هم ووايو دا به د هغو دوه بنديانو په خير وي چې په لومړۍ برخه (لومړي فصل) کې مو بيان کړه او دلته به ښه کار نه وي بلکې بې اعتباره به وي، چې د هغوی رشوت ورکول د دوی په ژوند تمام شول او دغه عمل د شرم کار و، خو په يقين سره د بخښنې د عريضې له تقديمول د شرم کار نه برېښي، خو که کومه ورځ هغه واقعي مظالم، چې په جېلونو کې په دغه پټهان ولس شوي دي او هر راز شتمني منجمله د منقول او غير منقول څخه نيولي تاوانونه يې ور اړولي دا به د دغه زړور قوم په هکله لا زيات د ويار ځای وي.

***

# تومتونه او حقیقتونه

د خان د وروڼو سرغړونې څه دي؟ ټول سرکاري اسناد او اخبارونه د مشر ورور ډاکټر خان صاحب په هکله ګونګ دي، خو جرم او ګناه یې دا ده چې د حکومت په سترګو د یوه رسوا مشهور سړي ورور دی دلته د کشر ورور پر ضد یو څو تومتونه رانغاړم:
(۱). وروسته له دې چې ګاندي له ګردي مېز کنفرانس څخه ووت، بیا یې یو بې ساري سفر په ټولو سیمو، کلیو او باڼډو کې شروع او د کانګرس د کار د کمېټې په غوښتنه یې د کانګرس تحریک په باب خبرې وکړې.
(۲). ده له ممنوعیتي اوامرو څخه سرغړونه وکړه، په کلیو کې یې سیاسي تقریرونه او خطابې د دیني وعظ په پلمه په ډېر لوړ آواز په جوماتونو کې د ولسو غوږو ته ورسول.
(۳). ده د مالیې د نه ورکولو مسئله د اوبو په شمول تبلیغ کړله او خلک یې وهڅول چې د حکومت له کانال څخه اوبه وانه خلي.
(۴). سره کمیسوال (خدایي خدمتګاران) یو انقلابي تشکیل یا موسسه وه چې اصلي هدف یې په زور سره له هند څخه د انګرېزانو شړل و او دا چې ډاکټر خان صاحب له دوی سره و دا محض پروپاګند دی.
(۵). د مومندو سیمې په پېښور کې د کانګرس د پروپاګند او تبلیغاتو تر اغېزې لاندې راغلې.
(۶). د کانګرس ولایتي کمېټې د صدر اعلامیه رد کړه او مکررا یې د هندوستان د استقلال غوښتنه وکړه او د خان وروڼو د مشر کمیسار غوښتنه د ورتګ لپاره د ده دربار ته ونه منله.
(۷). شدید تأکید د عدم تشدد په مراعات واچول شو او خلک د بېته وهڅول شول، چې سره یو والی مراعات کړي او د ناوړه حوادثو مخنیوی وشي او

هغه څه ته چې حتی جګړه ورته ویل کېدلی شي تیار وي.
(۸). ډاکټر خان صاحب به تل دا ویل چې اوربند (متارکه –Truce) مؤقتي دی.
(۹). په میروت Meerut کې د یو کنفرانس په ترڅ کې یې وویل، چې دی له کانګرس سره یوځای شو، دا ځکه چې د ده او کانګرس هدف یو دی: «له هندوستان څخه د انګریزانو شړل.»
(۱۰). په ترکیبي او مغلقو کارونو کې خدایي خدمتګاران له قانون سره په تضاد کې واقع کېږي، لکه د عدل او شهود اعمال.
لومړی، شپږم او نهم تومتونه کېدای شي چې خان صاحب یې په یوه وار (یو ځلې) ومني، په دې کې کوم داسې جدي تومت نه شته چې ده ته خاص د تعجب وړ وي. په همدې وخت کې ډېر ځلې د یوه لاربنود دا رقم تومتونه په مخ کې اېښودل شوي، خو آزاد ګرځي او له کوم ممانعت سره نه دي مخ شوي. داسې سیاسي لاربنود چې د مالي مکلفیت د نه منلو خلکو ته تشویق او تبلیغ وکړي، ځینې وخت حتی دغه وخت دغه ذمه واري سمه وه، لکه ده په خپله چې د خپلو ځمکو مالیه ورکوله، خو د نورو په باب دغه خلک بېخي غریب او د مالیې د بار توان یې نه لرلو.
دویم، څلورم او پنځم تومت بېخي بې اساسه و، دا په اختیار حکومت او چارواکو کې و چې دغه اتهامات د ډاکټر خان صاحب پر ضد د عادي قانون په چوکاټ کې تعقیب کړي، خو کله چې دغسې یې د ده مخې ته کېښودل، ده له دغ تومت څخه چې وعظ او تلقین کوي په ډېر قوت او متانت سره انکار وکړو، ویې وویل چې هېڅکله یې وعظ (Preach) نه دی کړی، داسې ویل کېدل چې دغه یې منلی دا به د تحریک لپاره سخته شوې وه چې ځانونه د عدم تشدد لارویان وبولي.
وروستی تومت خو د خدایي خدمتګارانو (سور کمیسو - Red Shirt) لپاره یو تعریف او ستاینه ده، عوض د دې چې دوی بې اعتباره کړي، دا یې ثابته کړه چې څومره دغه تشکیل یو منظم تشکیل یا موسسه ده او دغه

تحریک (Red Shirts) په مؤثره طریقه یې اصول د عدم همکارۍ د قانون د محاکمو سره (انګرېزي محاکم) پر مخ بېولي دي. دغه اصول د عدم همکارۍ (Principle of Non-Co-Operation) په نورو ولایتو کې هم پلي شوي وو، خو په دې پیمانه نه مؤثر چې په دې ولایت کې پلي شوي دي (دا ټول د خدایي خدمتګارانو د منظم او مؤثر تحریک برکت و، مترجم).
نهم تومت په دې د ارزښت وړ دی چې باید یو څه توضیحات ورکړل شي، دا ځکه چې د میروت (Meerut) بیانیه، یوه مسئله وه چې د کورنیو د بیر د خان عبدالغفار خان پر ضد د تومت ادعا کوله. کله چې په ۱۹۳۱ ز کې یې له ګاندي جي سره موضوع رابرسېره کړه، دلته د هغوی د بیانیو (Speeches) تر ټولو بد اظهارات د رسمي ترجمې کتې مټ نقل کوم:
«که مړ نه شم، زه به له دې څخه ممانعت وکړم چې انګرېز زما په مملکت حکومت وکړي او د الله تعالی په مرسته به زه کامیابېږم.
«خلک» له ما څخه شکایت کوي چې ولې له کانګرس سره یو ځای شوم او په دې کار مې خپل ملت خرڅ کړ. کانګرس دیوه انګرېز ضد تشکیل ضد کار کوي. د انګرېز ملت د کانګرس او پښتنو (Pathans) دښمن دی، نو ځکه زه له کانګرس سره یو ځای شوم او یوه متحده شریکه عامه جبهه مو له کانګرس سره جوړه کړه، ترڅو له انګرېز څخه خلاص شو. موږ باید د پرنګي په چل و ول ونه غولېږو.
موږ (د سرو کمیسو او کانګرس) دوه مقصدونه لرو:
یو دا چې مملکت آزاد کړو، دویم دا چې خپل وږیو ته ډوډۍ او بربنډ ته کالي ورکړو.
ترڅو چې مو آزادي نه وي په برخه شوي، آرام مه اوسئ، هېڅ فرق نه لري یا یې پروا مه کوئ، که تاسو په ټوپک، بم او نورو والوځئ او ووژل شئ)، که مېړانه درپکې وي، نو د جنګ میدان ته راووځئ او له انګرېزانو سره وجنګېږئ؛ ځکه هغه زموږ د بد بختیو موجب ګرځېدلي دي.
کانګرس د انګرېز پر ضد یوه ټولنه ده، انګرېز د کانګرس او پښتون یو

مشترک دښمن دی، دغه لامل دی چې زه له کانګرس سره یو ځای شوی یم»

دغه اقتباسونه که د مخکینی څپرکي له اقتباسونو سره پرتله شي، چې هغه مې له بیانیو څخه رانیولي وو، دغه اوسني اقتباسونه د Meerut او همدارنګه د سرحد له بیانیو څخه اقتباس شوي دي. دا هماغه زړوره، صادقه او پاکه اروا (روح) نه ده، چې خپله عقیده (Creed) یې دواړه ځایه بیانوله؟ یا هغه څوک دی چې ځان یې قرباني او د پردیو ښکار کړی دی.

په حقیقت کې دی د جنګ په ژبه خبرې کوي، خو چا هغه وخت په داسې لهجه خبرې کولای شوې او حتی اوس دومره جرئت لري چې د غوسې خبرې وکړي. د ده له خبرو څخه یوازې دا نه ښکاریده چې انګریز په زور وباسي، بلکې دا خبره هم پکې په ډانګ پېیلې وه، چې د یوه غیر قانوني حکومت راپرځول او ځانونه په ټوپکو او بمونو ټوټه ټوټه کول.

څنګه چې رسمي ترجمان (ژباړونکي) یې څرګند کړل؛ د مسئلې حقیقت په دې کې دی، چې د چارواکو په غوښتنه د دغو دوو سپېڅلو اروا وو سره مؤقتا په سرحد کې اوربند منځته راغلی و، ترڅو د سره کمیسو ځینې تېروتنې مخ په تشدد، یا د خان صاحب وعظونه د زور (قوې د استعمال لپاره) د انګریز اغماض او آسانه ارزونه رامنځته کړي، خو تر ټولو ناوړه تومتونه دا وو چې دوی ته یې د خدایي خدمتګارانو پر ځای (د ګاندي جي خدمت ګاران ویل او کشر خان خو د سرحد ګاندي نومېده، دا موضوع د انګریزانو په رسمي ابلاغیو کې درج وه.

***

اوومه برخه

# انګرېزان باید حقایق درک کړي

اوس خو تومتونه درې کلن دي، د داسې بې بنسټه تومتونو لپاره بې له محکمې څخه درې کلن بندیتوب خو کافي وخت نه و. دا د انګرېز چارواکي Sir Michael O’Dwyer خبره وه، چې په Morning Post کې یې نشر او دا وروستی کس و، چې د خان صاحب په باب یې تومتونه راپورته کړل او له حکومت څخه یې شکایت وکړ او لا زیات محدودیتونه یې وضع کړل. دی وروستی چارواکی دی چې څه وخت یې دلته تېر کړی، په شمال لوېدیځه صوبه یعنې سرحد ولایت کې ویل یې چې دغه ولایت او رهبران یې له حکومت څخه دمخه ښه پېژني کوښښ وکړي چې د خان وروڼو لا نور هم د ترورېزم او کمونېزم په تورونو ککړ کړي. ځوان خان ته یې «انقلابي افغان ویل د عبدالغفار خان پر ځای د سرحد ګاندي و، خو دی د ګاندي جي د عدم تشدد یو پیرو او Cant بلل. ده به ویل چې کشر خان غواړي او په ډاګه وایي او خپله اراده واضح کوي، چې انګرېز وشړي او په شمال لوېدیځ سرحد کې د شوروي اتحاد په څېر یو کمونېست جمهوریت جوړ کړي.

د حکومتي چارواکو دغه تومتونه خو بیا کتل شوي تومتونه دي، د سر میخایل په لاس چې خوند پکې نشته، بلکې د دښمنۍ، بدخواهۍ او کینې څخه ښکاره کېږي، طرح شوي زهرجن او کرغېړن برېښي.

ده به ویل: «عبدالغفار خان خو زمونږ د سرحدي دښمن قوم سره ډېرې نږدې اړیکې لري، دی زمونږ تلپاتې او همېشګې دښمن زوم دی، چې د ترنګزیو حاجي ورته وایي. دې سړي په دې وروستیو کلونو کې څو ځلې مومند او افریدي او نورې سیمې دې ته وهڅولې، چې زمونږ پر ضد حتی په خپله په پېښور حمله وکړي.»

زه له څو کتابو څخه داسې په یاد لرم، چې پاچا خان خسر د ترنګزیو حاجي صاحب و او د ډاکټر خان مېرمن برطانوۍ وه، نو څنګه ممکنه ده، چې

حاجي سلطان محمد خان يې خسر وي. *(ژبا ړونکی)*
اوس اجازه راکړئ تر څو یو څو حقیقتونه روښانه کړم، خو د خان صاحب او د ترنګزیو د حاجي صاحب ترمنځ دومره اړیکې شته وې، لکه د ده او سر میخایل ترمنځ او د ویر (Sir Michael O'Dwyer) د خان صاحب خسر سلطان محمد خان د «راجار» و تر هغه وخته چې مړ شو، دی (J.P) یعني وړوکی ساتونکی د ده د خدماتو په هکله د حکومتي چارواکي ترو ړو خانانو ښه پوهېږي، نو څرنګه سر میخایل هغه د حاجي صاحب د ترنګزیو سره د خان د خسر په توګه اشتباه کوي، زه باید دا په ډاګه کړم چې حاجي صاحب د ترنګزیو د کلي دی. دغه کلی د اتمانزیو کلي ته نږدې پروت دی، چې هغه د خان د ورونو ځای دی. په ۱۹۱۱ ز کال کې د ترنګزیو حاجي صاحب خپل ښوونځي شروع کړل، دا د اجتماعي بدلون Reform لپاره یوه وسیله وه. بیا عبدالغفار خان ورسره مل شو، چې دوی د ملي ښوونځیو لومړني بنسټ ایښودونکي بلل کېږي دا خو هغه وخت چې احتمالاً سر میخایل په دې ولایت (North West F.P) کې یو وړوکی ملکي ماموریت درلود. حاجي خو هغه وخت په سیمه کې ډېر شهرت پیدا کړی و، نو داسې ښکاري چې سر میخایل خپل معلومات ناسم په کار اچوي او په دې صورت زاړه معلومات له زاړه یو ځای والي سره په کار اچوي دی د ترنګزیو حاجي صاحب د خان صاحب خسر بولي، دا خو دلته لازمه نه ده، چې د حاجي په باب ډېر څه وویل شي، خو دومره ضروري ده، چې ښوونځي یې په ۱۹۱۵ ز کال کې رنګ کړی شول او دی له خپل کلي څخه وتښتېده او بیا هېڅکله بېرته را نغی. داسې ویل کېدل چې ده له افغانانو سره په دې کې مرسته وکړه، چې انګرېز ترې وشړي او مجبور یې کړي چې خپلواکي یې ومني، دا خو ۱۹۱۹ ز کال و، عبدالغفار خان له هغه سره ملاقات وکړ، چې افغانستان ته تللو او بیا راتلو څخه د خلافت مهاجرین ۱۹۸۱ ز مسئله یې په غاړه واخیستله، خو وروسته بیا څه ترې وا نه وربدل شول.
د دغه حاجي په هکله همدومره کافي دي. اوس د خان صاحب په هکله چې د قبایلو له مشرانو سره په اتحاد کې و، د دغو قبایلي سیمو یو څو لازم حقایق تر بحث لاندې نیسم. دغه سیمې غرنۍ ساحې دي، هغه بل لوري ته

يې پنځه انګرېزي حوزې (Districts) پرتې دي، دوی د بلوڅو او هندوکش په سر حدودو کې په د «مستقلې ساحې یا Independent Territory په نامه یادېږي، چې تقریبا د پنځه انګرېزي پنځو حوزو په پرتله دوه برابره مساحت لري، ټول خلک یې په پښتو خبرې کوي، خو ځینې یې په لهجه کې یو څه توپیر لري، ټول پښتون قوم دی، خو د خپلواکۍ (استقلال) کلیمه دلته نا سمه استعمال شوې ده. دغه آزاد قبایل په ستراتیژیک لحاظ په N.W.F.P یا شمال لوېدیځ سرحد صوبه کې راځي. د پنځو حوزو د N.W.F.P ګورنر چې د هندوستان ګورنر جنرال وي، په خپله د N.W.F.P په نقشه کې داخل ګڼي، خو خلک وحشي او غیر اهلي غوندې دي، نه غواړي چې را بېدار شي او پرمختګ وکړي. دوی د خپلو ګاونډیانو په بېدارۍ سترګې پټوي، یوه پښتون ته خو که بد و رد هم وویل شي نه په غوسه کېږي، دا خو د دوی په هکله یو بې ساری او معجزه لرونکی کرکټر دی. د قبایلو دغه خاصیت حتی په ګاونډیانو هم تأثیر اچولی حتی تر دې اندازې پورې چې دا به حیرانونکې نه وي چې چپاولګر د دوی له قوم او قبیلې څخه وغواړي چې ملګرتیا ورسره ولري، خو اکثرا غواړي چې دغه حاضره ژغ (چې دوه چنده دی) له خپلو اوږو څخه وغورځوي، دا خو له یوې خوا د کلي د مشر (خان او ملک) او له بلې خوا د انګرېز ژغ دی. انګرېزان په دې خوشحاله دي چې دوی محض مجازي یا معنوي تابعیت ولري چې دغه موضوع د دوی تر بېسوادۍ، له دنیا او علم څخه په ناپوهۍ کې ساتل شوي دي، خو خان صاحب راته وویل چې د ملکنډ، باجوړ او سوات او مجاورو سیمو قبایلو یو واري وغوښتل، چې آزاد ښوونځیو ته چې دوی تأسیس کړي وو خپل ماشومان واستوي. دا موضوع په ۱۹۲۱ ز کې منځته راغلې ده او هغه وخت یې تر یوې اندازې پورې یې ځینو مشرانو خپله نېکمرغي د انګرېز مربوط پنځو حوزو له ورونو سره تشخیص کړې وه، حتی ځینې یې د خدايي خدمتګارانو په تحریک کې شامل او بیا په وروستۍ مبارزه کې بیا زندانونو ته ولاړل، خو هغه قبایل چې له دغو

ساحو ځخه هغه بل لور ته مېشت وو ، هغوی په دغو مسايلو کې متأثره نه شول. عبدالغفار خان دغه مسئله رانه پټه نه کړه چې د ده نيت او اراده دا وه او ده چې ټول سوله غوښتونکي قبايل له سرحد سره يو موټی او متعهد کړي دي، خو دغه يوازې خوب دی. ده ته هېڅکله اجازه نه وه چې له سرحد ځخه بل لوري ته تېر شي، دا خو تر هغه وخته پورې چې ديويداس ګاندي (د ګاندي زوی) په ١٩٣١ ز کې له دغه ولايت ځخه ليدنه کوله او غوښتل يې چې د چک دره پل، چې حاکم دی په خو زړه وړونکو او په ټوله نړۍ کې حتی بې سارې عکاسۍ او فلم کېږي وړو منظرو ځخه يوسي، خان صاحب ونه کړی شول چې خپل مېلمه د دغو ساحو له ليدلو ځخه چې په بې سارۍ کې زيات شهرت لري، قانع او راضي وساتي او دغه تفريح ورته مهيا نه کړي. دغه پل برسېره د يوه سړک له پاسه چې له ملکنډ ايجنسۍ ځخه تېرېږي موقعيت لري. د يويداس خو د پله ساتونکو مامورانو ته وويل، چې خان صاحب او دی محض غواړي د سياحت په توګه دغه منظرې وګوري.
دغه خو به اصلا مخ د مخه ترتيب شوی وي، خو له مخکينو ترتيباتو ځخه پرته ناممکنه ښکارېده، همدا اوس ورځو او وختونو کې څه چې آورو هغه دا دي، چې انګرېز حوزې د قبايلي (آزاد قبايل) د ځينو چپاولګرو له لاسه په تکليف کې دي.
سر ميخايل او دی وير (مشر کميسار د دوی ولايت) پوهېږي، چې د عدم تشدد د تحريک د خان (کشر خان) څومره ښه دی او د اتحاد د ګاندي جي سره نافع دی، چې له داسې حملو ځخه ممانعت کوي او ګاندي جي به يو وارې خدايي خدمتګارانو ته اجازه ورکړي، چې د داسې چپاولګرو باندېټ والو مقابل کې د ځان د دفاع په نامه Self – Defence له قوې ځخه کار واخلي.
په کومو لويو ټکو به سر ميخايل خپله بيانيه وليکلی شي چې وايي: خان صاحب په عامه غونډه کې له استهزاء او ملنډې سره وايي، چې دی د ګاندي جي د عدم تشدد پيرو (يعنې Cant) دی ځنګه چې يې په ١٩٣١ ز کال کې ويلي وو او خان صاحب هېڅکله له دې ځخه انکار نه کوي، چې د ده ولايت د نورو په پرتله لا

مرګونی نه دی. دا موضوع خو د حکومت له خوا هغه بله ورځ اعلان شوه، خو دی وایي چې تول له نړۍ په دې خبره وپوهېږي چې موږ کوښښ کوو چې لږ یې مرګونی کړو، که خدای تعالی له تول تشدد څخه مخنیوی وکړ، دا ځکه چې موږ په عدم تشدد پوره عقیده او باور لرو. د ده په عقیده له عدم تشدد څخه پرته هېڅ شی نه شي کولی دغه مصیبت ځپلي ولایت ته سوله راوړي او خان د ملک د حاکمیت لپاره بې له عدم تشدد څخ د ده لپاره بله کومه معالجه نه په ګوته کوي او دغه د اوسني Satyagraha سکه د هندوستان لپاره مخکې له مخکې تشخیص کړې وه. د ده له خپلې ژبې څخه داسې ثرګند بږي، چې ده غوندې یو مرستندوی او محترم انسان به هېڅکله له ناکامۍ سره مخ نه شي. د خان عبدالغفار دغه څرګندونې تر ۱۹۳۱ پورې مخینه لري او په ځوان هند (Young India) تاریخ کې د ۱۹۳۱ ز کال د جون په ۱۱مه نشر شوی دی.

«زما عدم تشدد زما عقیده ګرځېدلې ده، ما دغه باور د ګاندي جي په Ahimsa درلود، خو زموږ په ولایت کې د یوه منل شوي قهرمان په توګه نابرابري کامیابي د عدم تشدد» په کار کې راڅخه جوړ کړ.

که د الله تعالی خوښه وي، زه هیله لرم چې هېڅکله زموږ په ولایت کې تشدد (Violence) ونه وینو، همدارنګه موږ په دې پوهېږو چې زموږ ښه نوم د هغو ترخو عواقبو او نتایجو راڅخه یووړ او انسان وینه څښونکی یې وښودله، دا زموږ خپله غوښتنه او ابتکار دی، چې د عدم تشدد پوهاوی وکړو؛ ځکه چې په ډېره زیاته پیمانه تشدد زموږ په طبیعت کې شتون لري.

له دې وراخوا چې وو ایم پښتون خو زور زیاتی نه مني، په محبت او دلیل که ورته وو ایې چې راځه دوزخ ته لاړ شو درسره ځي، چې زړه یې د په لاس راوړی وي، خو په زور زیاتي او قوت جنت ته نه درسره ځي. دا په پښتنو باندې د محبت أثر دی. زه غواړم چې پښتانه هغه څه وکړي چې نور یې کوي.

په دې کې به احتمالا زه ناکام شم او زمونږ په ولایت کې به د تشدد موجونه هرې خواته خواره شي، بیا به نو زه په دې راضي شم چې وروستی قضاوت په خپله غاړه واخلم، خو بیا بیا د عدم تشدد په باب هم زما باور متزلزله

شي او دا عدم تشدد دی، چې زموږ ولایت تر هرچا او هر څه نه ورته زیاته اړتیا لري.
اوس غواړم چې له یو څو حقایقو او مسایلو سره اړیکه ټینګه کړم، چې د خان د کورنۍ په باب له انګریزانو سره شتون لري او باید د دغو په رڼا کې انګریزان په دې هکله ترس او نظر ته تغیر ورکړي. زه به د دې کورنۍ عمده غړي لوستونکو ته معرفي کړم. لوستونکي په دې پوهېږي چې مشر خان انګریزه مېرمن لري، لوستونکي به په دې نه پوهېږي چې څه وخت دا په هند کې وه، له جېله مخکې څښتن د زنداني کېدلو، د دې د کور (چې اوس د حکومت په تصرف کې دی د لرې مقررۍ په مقابل کې) د ټولو دوستانو پر مخ دروازه خلاصه وه، چې د دوی کې زیات صاحب منصبان هم وو. د اوسني ګورنر مېرمن (Col Sir Ralph Griffith) د دوی صمیمي ملګرې وه، دا او کرنیل به تل د ډاکتر کره مېلمانه وو.
د ډاکټر خان صاحب یوه زوی همدا اوس د پوهنتون ته د شاملېدو آزموینه په بریالیتوب سره تېره کړه او باید په Oxford کې تحصیلات پرمخ وکړي.
د ده یوې لور او همدا د خان عبدالغفار خان د مېرمنې خان صاحب تر لارښوونې لاندې یې یو انګریز سکول هم خلاص کړو. د مشر خان زوی سعدالله خان (چې له لومړۍ مېرمنې څخه یې دی) خپل تحصیلات خلاص او په انجنیرۍ کې یې ډګري له لوغ بوروغ انجنیرنګ کالج څخه لاسته راوړله. په ۱۹۳۰ز کې له انګلستان څخه راستون شو، دویم زوی یې عبیدالله خان چې اوس یې په ټول هند کې پېژني چې یې (۷۸) ورځې د نه خوړلو اعتصاب کړی و، د مدراس په کالج کې زده کړې وکړې او پاسپورت په لاس کې لري، مخ په انګلستان په همدې رشته کې روان دی. د خان عبدالغفار خان مشر زوی دوه کاله په انګلستان کې او همدارنګه څو کاله په امریکا د شیریني د تصفیې په رشته کې تحصیل وکړ، چې البته هغوی په خپلو پلرنیو ځمکو او جایدادونو ډېر ګټور تمام شي، البته اوس هغه د حکومت په تصرف کې دي. بل زوی ترڅو ورځو مخکې په دیره دون کې د کرنیل براون په سکول کې و او د (Senior Cambridge) په آزموینې

کې بریالی شو او کشر زوی لا تر اوسه په ښوونځي کې دی.
په مخکینیو څپرکو کې مې د ویګرام نوم واخیست، دواړه ورونه (مشر او کشر خان) د دغه روحاني، مذهبي استاد تکړه شاګردان وو او دواړه تر اوسه د هغو ښې خاطرې په یاد لري.
کله چې دوی لویېږي له ویګرام سره خپله اشنایي ژوندی ساتي. ډاکټر خان صاحب دغه دوستي او آشنایي له نژدې ملګرو سره ښېخې پخه وساتله.
ډاکټر خان صاحب لا تر اوسه په یاد لري او په ډېر درناوي یې یادوي، چې کاملا د ډاکټر ویګرام او د هغه ورور او اوس مشر د لیوینګ ستون کالج Livingstone College وو، چې د دوی په مرسته او لارښوونه د ست توماس روغتون په لندن کې قبولي ترلاسه کړه. ډاکټر خان صاحب د هند په طبي خدماتي رشتو کې ډېر زیات ملګري لري چې یو وخت دی هم ورسره و، د خان د ورونو ځینې ملګري لا هم د دوستۍ او رفاقت نامې لیکونه ورته رالېږي.
ډاکټر خان صاحب د پېښور د کلب غړی دی، د دې کلب غړي نږدې ټول صاحب منصبان دي او همدارنګه دی د ښارندویانو کمېسار دی.
زه په آزادانه ډول دغه وایم، لږ تر لږه هغه وخت چې دی په زندان کې و، هغه وخت به د پېښور د کلب او د ښارندویانو له کمېسارۍ څخه ایستل شوی وای.
ما مخکې هم له صاحب منصبانو سره د ده روابط ذکر کړل (حتی تر ټولو لوړې کچې سره) له بندي کېدو څخه مخکې، مستر رابرټ برون Mr. Robert Brown سکاټلندی چې یو وخت د کرنې په برخه کې لوړ پوړی کس و او د دې ولایت په ټولو سیمو کې ګرځېدلی و او په دې وخت کې متقاعد دی (د ده بندیتوب وخت) له استرالیا څخه یو مفصل لیک مېرمنې ته رالېږلی و، چې په دغو کې یې د دواړو ملګرتیا او دوستي، تګ، راتګ د دوی مېلمه پالنې یې په ډېرو ښو الفاظو بیان کړې وې، پر دغه لیک برسېره چې یې د خان صاحب د مېرمنې د کور په آدرس یې لیکلی او رالېږلی و. د خان عبدالغفار خان په هکله یې هم لیکلي وو، چې ده هېڅ وخت لکه خان عبدالغفار خان غوندې داسې شریف، نجیب او مهربانه خاوند نه و لیدلی.

زه د دوی په هکله شخصي څرګندونې کوم، ترڅو لوستونکو ته له دغو دوو ورونړو سره د دوی په ارتباط په ګوته کړم او هم دا ښکاره کړم چې دوی په انګلستان کې څنګه تحصیلات کاوه. آیا څنګه کېدلی شي چې دغه دوه ورونړه له افغان انقلابونو سره اړیکې ولري او د شوروي اتحاد په ګټه فعالیت وکړي !؟
اجازه راکړئ دلته یوه بله مسئله هم راونغاړم. هغه دا چې د پنجاب یوې متعصبې اسلامي نشریې نه یوازې د دغه دواړو ورونړو د واقعي یووالي د «هندو - مسلم» له اتحاد سره شک او تردید ښکاره کړي، بلکې دا یې هم که په رښتیا دوی د اسلام په دین پورې تړلی وای، نو څنګه یې خپل اولادونه انګلستان او امریکا ته د لوړو زده کړو لپاره لېږل ! هغه تومتونه چې د شوروي اتحاد په هکله په دې کورنۍ پسې ویل کېدل:
د ده له ویناوو څخه هغه چې حکومت نشر کړې، د شوروي اتحاد یا روسیې په جانب په دغو اقتباسونو کې هېڅ اشاره ورته نه ده شوې، وروستۍ غوښتنه یې د هندوستان او همدارنګه د سرحد ولایت لپاره د اکثریتو پرګنو واکداري وه.
دوی په صراحت سره نه د شوروي سیستم او نه هم د انګرېزي راجایي خوښوله، دوی غوښتل چې د خپل ولایت په کلیو کې آرام په آرامۍ په ټولو حوزو کې د پرګنو او ولسونو کار وکړي او زړونه یې لاسته راوړي. دلته بې شمېره کېږه اوبدونکي (Weavers) زموږ طرفدار شتون لري، خو ورو ورو مخ په کمېدو دي، (یعنې مري) خان صاحب یوه ورځ دغه خبره وکړه «زه به ډېر ممنون شم که وکولای شم، چې د دې ولایت په ټولو حوزو کې د تار تاوولو کسب دود کړم او څرخه هر ځای په کلیو او بانډو کې ووینم، په عملي شکل خو کلي کې هېڅ نه وو، چې خان به نه وي لیدلي» دا خبرې خو د څرخې په باب ګټه لري، ترڅو په خپله دې نه وي زده ) دغه یې راته وویل: دی کښېناست او عملاً یې تار تاوول (نخ رسي ) زده کوله، په درې، څلورو ورځو کې یې په څرخې باندې ډېر ښه تار تاوول زده کړل.
«له ګاندي جي څخه به واقعي او رښتینی سوسیالست څوک وي، چې یې نوم راته واخلې، دوی هر چاته دا خبره چې د دوی د سوسیالست د تیوري په

هکله بحث کوي بیا نو وایي «موږ یې باید پیروي وکړو» دوی بیا هغو پخوانیو زمانو ته ورګرځېدلي وو، کله چې د دوی په صوبه کې به وروسته یوه وخت د جایدادونو میعاد بېرته وښود.
(Periodic Redistribution of Holding) «خاني خو د زمینداری لپاره یوه بله کلیمه ده» دا هم یو انګرېزي نوښت دی، دا خو کشر خان وویل ماته هغه وخت چې په بحث کوو او اصلاً زه نه پرې پوهېدم، هر یوه خاني، (زمینداري چې منځته راتلله، د نوي حکومت لپاره چې مخ په غورېدو و، تکیه ځای و. زه دا وایم سره له دې زما نیکه په سلګونو اکړه ځمکه درلوده. دغه تقریبا پنځه ویشت کاله له هغه وروسته چې په ۱۸۴۸ ز کال انګرېزي حکم دلته جاري شو، د هغه نه مخکې موږ جرګه کوله، خانان له سره غونډه شول، کلي او د ځمکو ټوټې یې سره شمېرلې په هر شل شل کلونو کې به دغه واقع کېدل د خان په شمول هر چا به عینا د نورو په شان جایداد په تصرف کې راوړه او د دې Redistribution سیستم له مخې به نفوس له یوه کلي نه بل کلي ته انتقالېده، له دې څخه زیات زه کوم بل خالص سوسیالېزم نه وینم.

## ټوله کورنۍ په جيل کې

د ورونهو د نا مشخص بنديتوب څخه توضيحات ښکاره کوي، چې ژر يې په خلاصه ډول وو ايم. دا به ډېر توضيحات وغواړي او هم ډېر ستومانه کوونکی به وي چې په شمال لوېديځ سرحدي ولايت کې د اوربند د ماتولو اصلي مسئوليت د چا په غاړه و، حتی دا ناممکن ځلېږي چې په دې باب سم تشرېحات ورکړل شي. اجازه راکړئ، په ياد راولو چې د اوربند په دور کې هم خدايي خدمتګاران که چېرې يې د ځمکې ماليه نه وای، نه دوی د ځمکې د ماليې نه ورکونکي په ګوته د يوه خاص تعقيب تابع وو، حال دا چې هغه وخت د ټکس ورکولو کومې مبارزې جريان نه درلود او د خان ورونهو ټول ماليات ورکول.

دلته زه د تعقيب په هکله څو بې شمېره دعوې، چې د خپل خاصيت په سبب د دې کتاب د هدف او مقصد نه بېرون دي لرې کوم او همدارنګه نه غواړم، چې د حکومت په باب تومتونه راوسپړم، خو يوازې دوه قضيې (Cases) يا دعوې چې نسبتا په مقايسوي صورت منځنۍ برېښي، دلته يې ذکر کوم چې يوه د خان د ورونهو له کورنۍ سره تړلې ده او بله يې چې هېڅ د حقايقو شتون پکې نه برېښي، د معزالله خان دعوه ده چې ډېره واضح وه.

معزالله خان يو لوی زميندار (Landlord) او خدايي خدمتګار و، دی کوټه قلفي بندي و او ګرم بلل کېده، چې د ځمکې ماليه يې نه وه ورکړې.

چارواکو (Authorities) ته يې وليکل چې دی اراده نه لري چې خپله ذمه واري يعنې ورکړه (Payment) وځنډوي، دی کوښښ کوي چې هر څومره چې ژر ممکن وي ماليه ورکړي. دوه زره روپۍ

(۲۰۰۰) په ده باندې پاتې وې، چې د سوارۍ موټر، يوه ټانګه، يو آس، درې مېښې پکې ولاړې. کله چې خوشې شو، د ده ځمکه چې ۵۰۰۰۰[۱] روپۍ يې قيمت کېده هغه هم پکې ولاړه.
عبيد الله خان د کشر ورور دويم زوی (خان عبد الغفار خان زوی) چې مخکې څپرکو کې ورته اشاره وشوه، د هغو ځمکو چې د ده په نامه ثبت وې د مالي زيات مبلغ يې په نامه جمع شوی و. خورا زياتې يې تحويل کړې وې، خو ۳۰۰ روپۍ باقي و، په دې په جرم کې په چارسده زنداني شو او کوټه قلفي و. دی يې په دومره سختو شرايطو کې بندي کړی و چې د دې خرابو شرايطو په سبب يې د نه خوړلو اعتصاب شروع کړ.
د بند موده يې يوه نيمه مياشت وه، ده ۳۸ ورځې د ډوډۍ نه خوړلو اعتصاب تکميل او له هغه وروسته پرې حالات لږ څه آسانه او ښه شول او په يو دوه ورځو کې راخوشې شو. بيا د نقاهت تېرولو په منظور خپل پلار ته لاړ، تر يوې مياشتې د هغو تر پاملرنې لاندې و، بيا خپل کلي ته لاړ، هلته تر حکم لاندې بندي شوی و.
په هغې پاڼه کې چې د خان د ورونو د بنديتوب اسباب موجبات او ګناه د دوی ذکر شوي، د کمېسارۍ له خوا ما ورته د دې کتاب په شپږم څپرکي (شپږمه برخه) اشاره وکړه چې بايد د دسمبر تر ۲۳ مې پورې دوی ته دعوت ورکړل شوی و، چې بايد دربار ته حاضر شي. کمېساري خو په دې پوهېده چې دوی انکار کوي، د دې انکار يې دومره وير شو چې د دغې ګناه أثرات يې په ټولو لويو او وړو واچول شول او دربار ته د حاضرېدو انکار په حکم کې درج او اعلان و، نو ورونه او د ټولې کورنۍ مهم غړي زنداني شول.
که چېرې دوی دربار ته حاضر شوي وای، آيا بيا به هم دغه حکم صادر شوی وای؟ کشر ورور غوښتل بمبيي ته لاړ شي او ده خپل ترتيب هم نيولی و، ترڅو هلته ګاندي جي وويني او د دسمبر په ۲۹ بېرته راغبرګ

شي. مشر ورور غوښتل چې الله آباد ته ولاړ شي. له هغه ځای څخه یې د پنډت جواهر لعل نهرو څخه بلنلیک تر لاسه کړی و، پنډت نهرو یې په لندن کې د تحصیل د دورې ملګری و، نیت یې و چې د کرسمس رخصتۍ له هغوی سره تېرې کړي. خو حکومت د دوی لپاره یو بل رقم کرسمس ترتیب کړی و. ورونه د دسمبر په ۲۴ مه د شپې له خوا بندیان او د اټک پله ته یوړل شول.

د مشر خان (ډاکټر خان صاحب) مشر زوی سعد الله خان چې په همدې ورځو کې له انګلستان څخه بېرته راغلی او د کانګرس د ولایتي کمېټې سکرتر (منشي) مقرر شوی و، هغه هم ونیول شو او له پلار او کاکا سره یو ځای په هماغه اورګاډي کې واچول شو. مېرمن خان چې دوه ورځې کېدلې چې کلي ته تللې وه، په توره شپه ټول یې راویښ او ورته وویل شول چې له کوره دې ووځي، ترڅو چې پولیس خپله تلاشي وکړي. عبد الله خان چې لا تراوسه هم د نقاهت په دور کې و او نوی د مالیې له بندیتوب څخه راغلی و، بیا بندي شو. څنګه چې پلرونه او زامن په یوه وخت کې بندیان شول، حکومت نه غوښتل چې یو ځای یې وساتي. مشر ورور په مخصوص ریل کې مخ په Naini جېل واچول شو، الله آباد ته د کشر ورور هزارې بېګ جېل او مشر زوی سعد الله خان بنارس جېل ته، اما مشر ورور وروسته له یو څه ناآرامیو هزارې بېګ د خپل کشر ورور جېل ته نقل شو.

کشر زوی، عبد الله خان د یوې خاصې معاملې لپاره په ګوته شو، چې زه به یې همدا اوس توضیح کړم: ټولو حرکت وکړو، په کور د مشر خان مېرمنې او کوچنیان پاتې شول. کشر خان یو کونډ سړی و چې لس کاله کونډ و. دوه خوېندو په ناآرامیو (Agitation) او مظاهرو کې سهم سره زرګونو پښتنو مېرمنو برخه واخیسته، زامن یې بندیان شول، خو دوی ته یې غرض ونه کړ. د ترور زامن نږدې او لرې نور خپلوان ټول بندي شول، بیا نو له دې وروسته د ټولو د

خدايي خدمتګارانو د غړيو نوبت د نيولو و.
کـه چېـرې کشـر خـان تـه اجـازه ورکـړل شـوې واى، چـې بمبميـي تـه لاړ شي او کـه چېرې پنډت جواهر لعل نهرو، کلـه چې بمبمي تـه روان و نـه واى بنـدي شـوى، د درې کلونـو تـاريخ بـه پـه بلـه بڼـه واى او کـه چېـرې ګانـدي جي تـه اجـازه ورکـړل شـوې واى، چـې د لارد ولينګـډون ( Lord Willingdon ) مصـاحبه او خبـرې وروسـته لــه دغــو دوه ځــل مهــم بنـديتوب ځخـه وکـړي، پـه دې کـې بيـا هـم د متـارکې شـرايط مـات کـړى شـول، بيـا هـم تـاريخ بـل ډول و دا ښـکاره وه چـې حکومـت د ښـمنيو تـه لاس اچـولى دى، ګانـدي جـي غوښـتل چـې د اوربنـد د مـاتولو پـه موضـوع بحث وکـړي، سـره لـه دې حتـى غوښـتل يـې چـې کـه ممکـن وي چـې بيـا يـې بېرتـه نافـذه کـړي، وروسـته لـه ځـو ورځـو د خپـل بنـديتوب لــه جېــل ځخــه مکتــوب لارد ولينګـــډون(Lord Willingdon) تــه واسـتوو، چـې حتـى د بنـدي پـه صـفت د يـوې مصـاحبې اجـازه ورکـړي، خـو بـې لـه دې چـې دلايـل مطـرح کـړي وايسـراى پـه ډېـر تکبـر او اهانـت سـره ځــواب کــړ. حکومــت غــواړي چــې دغــه تحريــک لـــه پښــو وغورځـوي، دوى نــه شــي زغملــى چــې لارې اغتشــاش کـــوونکي ياغيان ولري.
زړور عبيـد الله خـان لا مخکـې لـه مخکـې بـد نـوم ګټلـى دى. کلـه چـې ۳۸ ورځـې يـې د نـه خوړلـو اعتصـاب وکـړ، دى لودهينـا (Ludhiana) تـه بيـا ملتـان تـه بوتلل شـو، چـې هلتـه لـه ډېـر زيـات غالمغـال او تحريکـاتو ځخـه د سـيالکوټ جېـل تـه انتقـال شـو. دلتـه د ده روغتيـايي حالـت مـخ پـه ښـه کېـدو و او پـه طبـع يـې ولګېـد، خـو وروسـته لـه لـږ لنـډې مـودې ځخـه لـه پروتسـت سـره بېرتـه د ملتـان جېـل تـه نقـل شـو. هلتـه ۱۹۳۴ز د فبـرورۍ پـه لـومړۍ نېټـه و، چـې ده د نـه خوړلـو اعتصـاب بيـا لـه دې خـاطره شـروع کـړ چـې خـلاف او پـه دوامـداره وجـه حکومـت دى پـه داسـې ځـاى کـې اچـوي، چې له روغتيا سره موافق نه وي.

د دغه اعتصاب اوږدوالی دومره زیات و، چې په نړۍ کې او د هغو په تاریخ کې بې ساری ښکاري او د ټول مملکت توجه یې دې ته واړوله، چې ۷۸ ورځې یې دوام درلود، حکومت هر راز کوښښونه (څه په بریالیتوب او څه په عدم بریالیتوب) سره وکړل، چې خوراک ورکړي، حتی په زور او جبر یې خوراک ته اړ کړ. کله چې بېخوده و کېدای شي دوی به بریالي شوي وي چې څه شی ورکړي، خو هرکله چې په حس و بیا هماغه شان او سپنیز عهد او پیمان، عزم او اراده و چې چا نه شو ماتولی. که په بل چا دغه حالات او شرایط تحمیل شوي وای، یا مړ یا به هم لېوني شوی و.
له ۷۸ ورځو وروسته د ده له غوښتنې سره سم په همدې نېټه د سیالکوټ جېل ته انتقال او هلته پاتې شو، ترڅو د آګست په ۱۸ مه خلاص شو. د عبیدالله خان دغه محمل یو ریکارډ دی، دا به ډېره ستونزمنه وي چې کوم څوک دغسې وکړی شي. هغه خو به د Satyagraha تر تعریف لاندې په دقیق ډول نه راځي او که دا ورته ښکاره او ثابته وای چې دا سړی د Satyagraha پیرو او حواري دی، نو احتمالا د اعتصاب Hungr-Strike اجازه به نه وای ورکړل شوي، خو ده واقعیت وویل، څنګه پرمخ ورته پېښ شول، د ده د کار ارزښت د ده په ټینګه اراده، عزم او تصمیم کې دی چې د هغو لپاره له خپل ژوند څخه تېر و.
مشر خان په ډېر ویاړ له دغې مسئلې سره تماس نیوو او کیسه به یې کوله: دا هلک د خاص شهامت او زړورتیا نمونه دی، خو د پلار او کاکا شهامت یې هم د یادولو وړ دی چې په دې ارتباط یادونه ترې وشي. په دې وخت پلار او کاکا یې دواړه د هزاري باغ په جېل کې له اخبارونو څخه به یې د عبیدالله د روژې پرمختګو نه تعقیبول، کله چې به یې د ده د روغتیا په هکله جرئت وکړ او اخبارونو به په دې ارتباط راپور نشر کړ. حکومت هېڅکله دوی (پلار او کاکا) ته د ده د روغتیا په مناسبت معلومات نه ورکول او دوی هم

جرئت نه درلود ، چې د ده د ليدو لپاره اجازه وغواړي، يا يې تشويق کړي چې خپله روژه ماته کړي. ورځ په ورځ اخبارونه ورته راتلل، چې مرګ يې يقيني و ، خان د جنازې په هکله چې چېرته بايد په کومه هديره کې خاورو ته وسپارل شي تصميم ونيوو. په دې ارتباط د لارښوونو او عملي کولو ليک تيار و ، د ليک په لېږلو لګيا و.

او زما ښه په ياد دي چې په يو دوه ورځو کې احوال راغی، چې عبيدالله خان د سيالکوټ په جېل کې بريالی شو ، روژه يې ماته کړه، خو کاکا او پلار په هماغه شکل خپل عزم ته ادامه ورکوله ويارونکي پلار يې په موسکا سره دا کيسه راته په لنډو ټکو کې وکړه. داسې ښکارېده چې په دې کې کومه دوکه او يا د پيغور او لويې خبره هېڅ شامله نه وه دا توضيحات يې ورکړل، خو بيا يې راته وويل: «هلته يو شی د حکومت په باب شتون لري» هغه دا چې وروسته له روژه ماتولو څخه يې په ډېر ښه و ډول معامله او وضعيت کړی دی، حتی داسې له هغو احوالو او اړتياوو سره پاملرنه او توجه کړې ده چې زه له هغوی څخه مننه کوم چې د ده ژوند يې ورژغوره.»

دلته د خان صاحب د کشري زوی خبره کوم. هدايت الله خان د بمبيي په ګرانت ميډيکل کالج Grant Medical College کې محصل دی، دی اتمانزيو ته يوازې د رخصتۍ تېرولو لپاره تللی و ، په تحريک کې يې هېڅ برخه نه لرله، دی بايد بېرته کالج ته غبرګ شوی وای، خو د حکم پر اساس دی هم تر نظارت لاندې راغی او شپږ مياشتې يې بند تېر کړ.

# خویونه- عادتونه

همدغه دوه ورونه دي چې تل ځپل شوي دي. د چا له خوا نه چې په امريکائي ژبه ورته «د هند عام دښمن» ويل کېدی شي، دوی بې ساري قرباني ګاللي دي دوی دايمي زندانونه تېر کړي دي، د دوی آزادي ښايي خلک دې ته وهڅوي چې دوی هم خپله آزادي لاسته راوړي. که په دې باندې کوم د تشدد عمل صريحا ثابت شوی وای، يعنې چې دوی له Non – Violence څخه سرغړونه کړې وای، يقينا دوی به انګرېزانو په ګولۍ ويشتلي و او هېڅ صرفه به يې پرې نه وه کړې. له خلکو سره د دوی خاص خويونه د دوی لوړ او ډېر ښکاربږي او دومره فداکاري، سرښندنې او ربړونه ګاللي چې اندازه يې نه شته، خپل ژوند يې د خپل ولس لپاره په زحمتو کې اچولی، څنګه چې کشر ورور (Abdul Ghafar Khan) الله تعالی ته نږدې يا کاملا وقف دی همدا وجه ده، چې ګاندي به ويل ( A. Khan is a man of God ) عبدالغفار خان الله ته نږدې دی. مشر ورور Knight دی يا په فرانسوي ژبه شواليه يا سلحشور هم ويل کېدای شي، خو حقايق د لمر په څېر روښانه دي. دی يو ارستوکرات تولد شوی، خو له مشقتونو نه ډک ژوند يې د ولس د آزادۍ لپاره قرباني کړی دی. هم دغه جهت و چې انګرېزانو نه غوښتل، چې په دوی فير وکړي او له منځه يې يوسي. عملا تبليغ او وعظ Preaching او همدارنګه Violence تل په دوی (خان ورونو) کې نه و، که نه بهانه به ورته جوړه او دوی به ملزم محسوب شوي وو.

کله چې کشر خان په ۱۹۳۱ ز کال باردولي «Bardoli» ته لاړ، سردار ولاب های پټېل او نور، دوی ټول د سترې مشي لپاره مخې ته ورغلل، دوی په دويمه درجه کمپارتمنت (د رېل د ډاګون برخه) کې وليد، بيا نو د دربيم کلاس د رېل له غرفې څخه راووت چې ګوري، يوه وړوکې د لاس کڅوړه يې چې په هغو کې يو دوه جوړه جامې وې ورسره د عند الموقع تبديلولو په خاطر او يو تقيسم اوقات ورسره و. دی داسې ښکاره کېده چې يو ډېر فقير سړی دی « He looks like a true fakir and is one.» او که چېرې د خپلو پيروانو او نېستمو عزيزانو چې دا ټول پښتانه ډېر نرم خلک دي، د ده په شان هېڅکله دی نه وای

پېژندل شواى.
د ده لـه ليدلو څخه لـه ورايه د ده د ژوند شفافيت، اخلاص، تواضع او د خپل ځان هېرونه (د نورو لپاره د ځان وقفول) څرګند ېږي، دغـه خويونـه دي چې ده تـه قوت ور بخښي، چې په مطلقه وجه دارنګه فداكاره وي.
يـو ځلـې راتـه وويـل چـې: «د پنجـاب اردو ژبـو ورځپـاڼو سـرليكونه (كـالم وال ليكوال) هر څه زما په هكله خپروي» او بيا يې د مثال په توګه زياته كړه: (دلتـه يوه ورځپانه ده، چې له رنګه يې زه د اسلام دښمن ښودلى يم)، خو دغـه سرليكونه د ده په ژوند كوم اغېزه نـه لري، يوازې د ده آزادي په كـار ده نور څـه نـه دي تـل پـه حركت كې و، وعظ او نصيحت يې كاوه، د ولس د پرمختګ په باب يې لارې چارې په ګوته كولې، ترڅو كولى شي دى په خپلو پښو ځي، حتى يـوه فاصله هم ونه غـواړي چې د انتقـال لـه وسايلو نـه تـر زياتـه حده كـار وايستل شي. پـه دغـو وسايلو كې له بېخي ارزان څخه كار اخلي، دى له لوكسو شيانو څخه ډډه كوي او ټول ژوند يې ساده دى. دلته هر چېرې چې وي او يا حتى د ده په شان څوک نـه شته پـه غيـر محسوس ډول دى داسې څوک لري چې د ده بايد اطاعت وشي، دى د حرمت او صداقت وړ دى، دا ځكه دى په خپله د دغو فضيلتونو نمونه دى، خان عبدالغفار خـان وايي: (زه عسكر زېږېدلى يم او همدارنګه به مرم) دا يې راتـه وويل يو وارې ورته وړانديز وشو، چې د ۱۹۳۴ ز كال لپاره د كانګرس منتخب رييس وټاكل شي، ده مكررا وويل او لـه دغې نـه يې انكار وكړ. زه عسكر يم، زه عسكر يم، هو دى عسكر دى، خو سلګونو زره نور عسكر د ده پـه شان حاضر دي چې اطاعـت تـرې وكړي او څه چې غـواړي هغـه وكړي. دى خو لـه لارښـودنې او داسې شيانو نه بې خبره دى، خو لوى خدمت چې يې مخكې ورته اشاره وشوه بې لـه كومې رياكارۍ او د ځـان لـه غندوالي څخـه ترسره كـولى شي. دى خـو دغـې پروګرام ته كوم نوى را اوښتى كس نه دى، دى ټول دغه هسې بې ځايه بولي. ده تـه لـه ډېرو خبرو څخه، چې يوازې د ننداريې پاملرنـه ونـه لري، عملي تعميري كـار بهتره بولي.
پـه ټول ژونـد كـې يـې ډېرې سـختې ضـربې ګـاللي او د غوښـتنو پرځـاى د ښـو

اړیکو پر ځای له انګرېز چارواکو سره تل د (تقسیم یې کړه او حکومت پرې وچلوه) پرځای بل څه نه دي لیدلي او دا به ډېره مشکله خبره او کار وي، چې دی دې ته وهڅول شي چې د کوم انګرېز یو ټکی ورته د باور وړ ښکاره شي، خو په شخصي وجه له انګرېزي سره کوم څه نه لري ! او څه چې ګاندي جي لیکلي او یا یې ویلي دي، په دې هکله د انګرېزانو هغه ټول مني. د ورور ملګري یې هم د ټولګي ملګري دي او دا خو د نه منلو خبر ده چې او سنی ګورنر د دوی کورنۍ ښه پېژني، وخت ناوخت تګ، راتګ د ده او ورور سره شریک یو د بل مېلمه او کوربه هم لیدلی شي، ترې غوښتنه لري، چې د بدګومانیو پرځای ښې اړیکې ځای ونیسي او د ده غوښتنې به له کوم سوء تفاهم څخه مخکې ولاړې شي.

سره له دې هم زما په فکر عزم ترین څه د ده په هکله د ده روحانیت یا په بله وینا د ده د اسلامي عقیدې واقعیت درک کول دي. هغه خپل ځان په ټوله معنی او مفهوم سره الله تعالی (ج) (Submission to God) ته سپارلی دی. ده د ګاندي ژوند په خپله تله تللی دی، نه په کوم بل معیار. نه ګاندي جي نه د ده شهرت او نه د ده سیاسي کار، نه د ده انقلابي او د طغیان او تردد څخه ډکه روحیه (د انګرېز مقابل) و چې خان یې مجذوب کړی و، بلکې یوازې او یوازې د ده شفاف او له ریاضت څخه ډک ژوند او د ده اصرار د ځان د روح صفایي په لار کې و، چې په ده باندې یې دومره اغېزه کړې وه چې له ۱۹۱۹ ز کال وروسته څخه په دوامداره وجې سره د ځان د روحاني صفایۍ Self-purification سره تېر کړ. زه خو دا ویاړ لرم چې یو شمېر مسلمانان ملګري لرم، چې دوی د فولادو غوندې کلک او حاضر دي چې «هندو - مسلمان» د اتحاد او یووالي په لار کې ځانونه فدا کړي او د وطن دین اداء کړي. او هېڅوک نه پېژنم چې د خان عبد الغفار په څېر یا له ده څخه زیات دومره شفافیت او ریاضت یې ګاللی وي او د ژوندون ناخوالې یې منلې وي او کله چې به د ګاندي لپاره د یوه حرکت - تګ وخت راورسېد او ګاندي جي به یو مهم تصمیم نیولو، ده راته وویل: ما به په لاشعوري وجه ځان ته وویل چې دغه تصمیم د هغه چا دی چې خپل ځان یې الله ته سپارلی دی او الله (ج)

هېڅکله نا سمه لاربنوونه نه کوي، ما به د ګاندي جي بې له کومې پوښتنې قسم په الله چې نيولی به مې، کله چې به د بيانيې ورکولو پوښتنه مطرح وه او يا به صرف نظر کول منځته راغلل، ده به ويل: زه په دې کې کوم تعجب او حيرانتيا نه لرم، چې دی دغې تصميم ته راغی او هېڅکله دا راته آسانه نه ده ښکاره شوې چې د ده د تصاميمو په باب تري پوښتنه وکړم؛ ځکه چې دی ټول تصاميم او يا څه چې غواړي وکړي، هغه الله(ج) ته راجع کوي او دی د الله فرمان ته غوږ نيسي.
هر يو لوی پېشوا د اصلاحاتو او بدلون راوړونکو خوی او عادت دا دی، کله چې موقع او فرصت ورته مناسب ښکاره شي، بې له دې چې خپل محدوديتونو ته ځير وي او نيمګړتياوو ته يې پام وي، خپل پروګرام پرمخ بيايي، خو دی په دې توګه نه دی خپل حد پېژني، د کړيو پلورل نه کوي.
وروسته له هر څه، واقعي معيار د ارزونې (اندازه کولو) هغه دی چې د خپل ځان کامل سپارل الله(ج) ته پکې نغښتی دی. کوم چا چې توکل يې په الله(ج) کړی وي، نو خلک يې په همدغه اندازه کوي او دی هم نور خلک په همدغه تله تلي.
مشر ورور (مشر خان) خو بل رنګ دی، ډېر زيات سفرونه يې کړي او هر قسم انسانان يې ليدلي دي، ځان يې کړی، دا سې نه دی لکه کشر ورور چې د خپل ځان په شان پاتې دی.
کشر ورور په دې لټه کې دی چې د عزلت او تنها کېدو خواته مخ شي، خپلې ليدنې او کتنې کمې کړي. حال دا چې مشر ورور غواړي هلته دلته لاړ شي، نوي تماسونه ولري او هغو ته وده ورکړي، خو کشر ورور په دې کې دی چې د خپلې عقيدې په ارتباط نور نور هم د خپل ځان تر د سپيلين لاندې راولي، خو مشر غواړي چې ژوند آسانه ونيسي او نور کومې غوښتنې ونه لري. دی ورزشکار پيدا شوی. په پوهنځي کې يې د کرکټ د ټيم مشري کړېده او کله چې په لندن کې و، ډېر تکړه کريکټ يې کاوه او فوټبال کې هم تکړه دی، نو همدا وجه ده چې ژوند د سپورټ له روحيې څخه ګوري. دا کشر خو په همدې روحيه د ورزشکار د سياسي ژوند ناخوالي کموي، خو کشر ورور خو د ژوند په ټولټال او مسير کې له ناخوالو څخه د خوند احساس کوي، ډاکټر وايي چې

ژوند کې خواره او ترخه دواړه شته دي.
کشرورور په دې ډېر تأیید او تأکید او توقیر لري چې ځان ساتنه یا د خپل ځان او نفس منع کول، حتی تر سرحد د کامل صرف نظر او ممانعت هم ورته وویل کېدای شي، یا Self–Restraint زما مشر په چکچکو هغه مني کله چې وار یې راشي.
ډاکټر راته وویل چې ده عادت درلود چې په ورځ کې پنځوس سګرټه وڅکوي، خو کله چې په ۱۹۳۱ ز کې بندي شو، نو د هوا او خپلې روغتیا په خاطر یې تصمیم ونیوو چې هېڅکله نور سګریټ ونه څکوي، نو بیا یې په تنباکو لاس نه دی لګېدلی، خو خان عبدالغفار خان هېڅ وخت نه دي څکلي.
ډاکټر خان صاحب یوه کیسه راته وکړه چې زه یې باید دلته ولیکم، کول سنده مین Col. Sandeman د کرنیل رابرت سنده مین زوی له کویټې څخه چې شهرت یې هم لرلو، یو وخت پېښور ته د خپلو ساتونکو د اوربند په ترڅ کې راغلی و، هلته د اوربند یوه لویه د خپګان فضاء د صاحب منصبانو په فکرونو کې منځته راغلې وه، کرنیل سنده مین ونه شو کولای چې د دغه احساسات یې د خپلو ملګرو په منځ کې له ډاکټر خان صاحب څخه پټ وساتي.
ډاکټر خان صاحب ورته وایي (نه ! کرنیل سنده مین دا خبره چې تاسو کاملاً مغلوب شوي یاست، له فکر څخه وباسه، سیاسي ژوند یوه مسابقه او لوبه ده چې غالب او مغلوب (چا وګټله، چا وبایلله) باید په آخر کې لکه د فتبال او کریکټ په شان لاسونه یو بل ته ورکړي او ویې پړکوي او دلته خو د بریا مسئله هېڅ مطرح نه ده.
په دې ویلو سره د انګریز کرنیل وضع عادي وګرځېدله، یو د بل ساتونکي سره رخصت کړل او ویل یې: ښه، ښه مور او تاسو یو بل سره پېژنو، زه دعا کوم او هیله من یم چې د «چارسدې» په مسئله کې به ساتونکي کوم قصور ونه لري.
کشر (خان عبدالغفار خان) خپل مخالف (حریفان) کاملاً له مذهبي روحیې څخه ورته ګوري، خو مشر کاملاً له عملي جنبې څخه ورسره راکړه ورکړه او برخورد ناسته پاڅه لري. په داسې حال کې چې مشر له صبر او حوصلې څخه له

ډېرو ترخو حريفانو سره ګوري، کشر ته دا ډېره مشکله ده چې له يوه حده بلې خواته ورسره بحث خبرې او اترې ولري.

مشر خو له محصلينو سره غږېدلی شي، ټوکې-ټکالې ورسره کوي، شوخي ورسره لري، خو د کشر لپاره دا هم مشکله ده چې هلکانو سره دغسې وکړي. په دې کې د ښې پوهنې څوک نه ويني، دی له دغو شيانو نه ځان ګوښې ته کوي، خو مشر داسې نه شي کولای، اما هېڅوک په دې نه پوهېږي چې تر کومه حده مشر ترې ښه دی، (يعني له خان عبدالغفار خان څخه)، ډاکټر خان صاحب دې خوا ته تشويق کېدای شي چې په «د پېښور په اسامبله» کې يو سيټ ونيسي، اما هېڅوک حتی دا جرئت نه شي کولای، چې کشر ته (خان عبدالغفار خان) ته دغه وړانديز وکړي. مشر به کوم تردد و نه کړي چې په ديپلوماتيک هيئت کې چېرې ورسره لاړ شي، خو کشر به په شعوري وجه له داسې کار څخه ځان ونغاړي. هر يو، يو د بل متمم او مکمل دی، دواړه خاصه او بې ساري جوړه دي، ځينې خويونه يې طبعا سره جلا دي او ډېر يې سره ورته دي. دوی په دې خويونو کې سره ورتت والی لري، لکه: عزت او وقار ساتنه، ځيرتوب (Stern)، څخه اوږه خالي کوونکی په وفادارۍ او د صدقې په چارو، راشه درشه کې تاوده او د ورين تندي خاوندان دي.

دواړه په بېخي زياته اندازه خوښوي چې خدايي خدمتګار ورته وويل شي او د دواړو ورونو ژوند له سختيو او تکليفونو څخه ډک دی، ترڅو د داسې نوم او شهرت څښتن شوي دي.

# بیرته د کور په لوري

دغه برخه د وروستۍ کتنې د هغو برخو په باب کې ده، چې لا مخکې تر چاپ لاندې دی. د خان صاحب زنداني کېدل د يوې فتنې په ترڅ کې زه دې ته وهڅولم چې کتاب ژر تر ژره له چاپه ووځي.
حتی د هزاري باغ له جېل له خوشې کېدو وروسته دواړو ورونو په ډېره يوه زړه سوانده بلنه سره ستر جمنا لعل بجاج څخه وغوښتل، چې د خپلې استوګنې کور په وردها Wardha کې ومني. واقعيت خو دا سې و چې ګاندي جي لا مخکې دلته په «وردها» د ستر جي د مېلمه په توګه و. دا خبره په دې شکل وه، مخکې له مخکې دا سې پرېکړه وه چې دوی به هرو مرو د ګاندي تر نظارت لاندې وي په مرکزي ولايتونو کې يې ځينې سيمې وليدلې، همدا رنګه بنګال او له متحده ولاياتو څخه ځينې نورې سيمې په وقفو سره او ټول دغه پروګرامونه عملا د ګاندي جي له خوا تنظيم کېدل او زه په دې موضوع کوم نوی شی نه افشاء کوم. هر ځل چې به خان صاحب له وردها څخه بهر ووت، له ګاندي څخه به يې پوره لارښوونې لاسته راوړلې او هماغسې به يې بايد فعاليت کاوه، د ګاندي جي له غوښتنې پرته به مشر ورور نه غوښتل چې د خپل ولايت لپاره په اسامبله کې ګډون وکړي، خو د ګاندي جي په توصيه دغه امکان درلود.
د ټاکنو منډو تړو په وخت کې کوم يوه له ورونو څخه دا وويل چې غوره به وي چې کوم يو د ځينو خاصو مواردو لپاره سرحد ولايت ته لاړ شي، دلته په دې موضوع کې هم ګاندي جي و چې مشوره يې له دې پلان څخه صرف نظر کولو ورکړه. د ډاکټر خان صاحب حتی راضي نه وه چې د ټول هندوستان Swadeshi نندارتون دې پرانېزي، خو د ګاندي جي په منظورۍ او ده ته د مشورې ورکولو په نتيجه کې دغه کار ممکن شو او ډاکټر خان صاحب دغه بلنليک ومانه. که چېرې د ګاندي مشوره او اصراري غوښتنه

نه و ای ډاکتر خان صاحب نه غوښتل، چې د کانګرس د کار د کمېټې Working Committee of the Congress غړیتوت یې منلی و ای. کله چې ورته وړاندېز وشو ویې ویل چې ده ته دغه کار ښه نه دیږ په سیاسي برخو کې له کار سره دومره رضایت نه لري دی غواړي چې د یو معمولي یا عادي متواضع کارګر په توګه پاتې شي. دی آزاد و چې د کار کانګرس په کمېټه کې په خپله خوښه ګډون وکړي. ده ویل غوره ده چې ځان لرې وساتي او څه چې مخکې له مخکې ټاکل شوي یا منل شوي دي، د هغو په باب بحث وکړي، اجنډا له مخکې نه ټاکل شوې و ای. خاموشي پټه خوله کار کول په کلیو او بانډو کې د ده په زړه جوړ خار و، نو ګاندي جي تصمیم ونیوو، چې د ټول هند د کلیو د صناعتي جامعې اجرائیوي مشر وټاکي. ده هم له تردد (زړه نازړه توب) پرته ومنله.
داسې ښکاري چې احتمالا مشر ورور ډېر ملګري پیدا کړل، حتی له کشر څخه ډېر، علت هم دا دی چې دی خنده رویه سړی دی چې دا له یوه نفر سره چې ځیږ او تل ریاضت کوونکی او کونج ته میلان د کشر ورور په څېر یې تو پیر لري.
ډاکټر خان بې له دې چې پېژه پورته ونیسي، د جمنا لعل جي د کورنۍ د ناروغانو درملنه شروع کړه او په دې وجه یې په وردها کې چې ګاندي جي ته به راتلل، پیدا کړل.
بیا ده خپله د خلکو درملنه نوره هم د اشرام نجونو او مېرمنو ته غځوله، په Wardha کې دغو مېرمنو او نجونو په ډېرې مننې سره ومنله.
حتی په دې ورځو کې یې خوا و شا سیمو ته خپل طبي او روغتیایي خدمتونو ته نوره هم پراختیا ورکړې، هره ورځ له لسو نه تر پنځلسو میلو پورې یوې بلې خوا منډې وهې. څوک چې د ده په څېر د مرتبې او مقام سړی (تر پرونه پورې وي) هغه داسې واړه کارونه نه کوي. ما په خپلو سترګو لیدلی دی چې سبزي به یې په خپله د ناروغانو د سبزۍ لپاره غوځولې، ترڅو د هغوی پرهېزانه ورته تیاره کړي.
سهار وخته به اشرام (د ګاندي جي روزنتون) ته راغی او په پټه خوله به یې له

ګاندي جي سره د سهار د قدم وهل شروع کړل او بیا به یې دننه په اشرام کې د خپلو ناروغانو احوال واخیست او بیا به خپل هستوګنې ځای ته راغبرګ شو.
د کانګرس په تاریخچه کې به دا ډېر مشکل وي چې د دوی په شان ثابت قدمه، وفادار او صادق غړي ولري.
حتی په داخلي مسایلو کې هم دوی له ګاندي جي سره بې له هو او نه څخه خصوصیات شریک او همغږي و. په یوه لنډ ستانه کېدلو کې په وردها کې د جمنا لعل جي د مېلمه په توګه خان عبدالغفار خان وکولای شول چې په اشرام کې د مېرمنو او نجونو له کار څخه لیدنه وکړي، هلته د ساده ژوند ، د سوله ییزې فضاء، اخلاص، آزادۍ او اصرار د لاس په کار باندې، دوه زړه او اراده یې په ژوره توګه دې ته وهڅوله چې خپله وړه لور چې په لندن کې له خپلې ترور سره وه، هندوستان ته راوغواړي او په وردها کې د اشرام له نجونو او مېرمنو سره ژوند او زده کړه ولري.
د ده دغه پرېکړه خو ډېره د ستاینې وړ او له زړورتیا څخه ډکه وه، خو یوه پښتنه نجلۍ چې انګلستان ته لېږل شوې او په یوه انګرېزي ښوونځي کې درس ووایي او د هغه ځای تحصیل کړې به شي. خو راوغوښتل شي چې دلته په اشرام کې له زیاتو ربړو سره په خپله د درس لاره پیدا کړي؟ او تر میرابن څخه به پلار چېرته ښه سرمعلم پیدا کړي چې د ده له لور څخه پاملرنه او مواظبت ولري؟ دغه سوالونه وو، چې خان صاحب مطرح کول، خو ګاندي جي بې له تردد څخه تلګرام صادر او میرابن او وړه مهر تاج یې دواړه راوغوښتل، دواړو په یوه ایټالوي کښتۍ کې سفر وکړ، د ۱۳۳۴ز نومبر په دوه ویشتم وردها ته را ورسېدل.
نجلۍ وروسته له یو نیم کال څخه خپل پلار ولید، خو کشر وروریې په دې وخت د کول برون ښوونځی په دهردون Dehra Dun کې و، چې پلار یې څلور کاله نه و لیدلی.
واړه عبدالعلي خپل پلار د یو پي U. P په سفر چې وتلی و ولید او ورسره وردها ته په څلورم د دسمبر راغی.

تصور وکړئ دغه بد قسمتي چې واړه معصوم ورسره مخامخ کېږي، د دسمبر په څلورم دلته راغلله او د دسمبر په اووم مابښام دا خبره خوره شوه چې پلار يې بندي شوی، وور ۱۲ کلن ماشوم چې کله له دې موضوع څخه خبر شو، له جمنا لعل جي څخه يې وپوښتل: «نو څه وجه ده، چې زما پلار بندي کېږي، خو ته او مهاتماجي او نور ټول آزاد یږي. جمنا لعل جي دغې هوښيار او زيرک ماشوم ته وويل: چې وجه خو دا ده چې هغه (ستاسو پلار) په بمبيي کې له آشوبه ډکه وينا کړې ده. د اشوبګرۍ په هکله يې جمنا لعل جي هلک ته ساده توضيحات ورکړل چې دی پرې پوهېدلو.

خو پلار هېڅ اوښکې نه لرلې چې د ماشومانو له اوښکو سره يې ګډې کړي. دی د خپلو ملګرو په ملګرتياوو ډاډه وو، د ده ملګري امتحان شوي وو، ده په مهاتماجي او جمنا لعل جي دومره باور درلود چې د ماشومانو په هکله يې هېڅ اند ېښنه هم نه لرله.

څو ورځې په وردها (Wardha) دغه ورونه مېلمانه (خان صاحب او عبدالغفار خان) بلې خوا ته د خپلو دوه کورنيو «مهاتماجي او جمنا لعل جي» سره دومره نږدې کړل، چې د دوی په منځ کې روحيې او د ورورولۍ اړيکو يو بل سره پر مختګ وکړ.

ځينې ځينې وخت خو به په ندرت سره د دوی په منځ کې سياسي بحثونو لار پيدا کړه، خو اکثره به دوی (دوه ګوښه -دوه مېلمه) روحاني بيانانو کې، لمونځونو او دعاګانو لګيا يا هم پټه خوله وو. په کاملې آرامۍ سره به ډاکتر خان صاحب سره ورځني ملاقات Visit لپاره اشرام ته حاضرېدلو او ګاندي جي ته منسوې دعاګانې به يې تکرارولې. د بها خان موسيقي به د ټولو په روح کې ځای نيولو.

يوه ورځ ډاکټر خان صاحب پا ييرا لعل ته وويل: «لطفا موسيقي د اردو ژبې، يعنې کاملې ترجمې ته واچوه، دا خو ډېره مهمه ده چې درک شي.» د ده ډېر خوښېدل چې له آرامې موسيقۍ سره دعاوې واورې او په خاموشۍ سره کار وکړي. يو وخت يې په بنګال کې د زحمت کښو بزګرو مسلمانانو څپرکی (د

نیو، پانړو او لرګیو څخه جوړه شوې وړه خېمه) په بنګال کې ولیده، وروسته له دوه میاشتو دا مفکوره ورته پیدا شوه چې باید د دغو غریبانو غم وخوړل شي. د هغه (خان صاحب) وړاندیز دا و، چې کلیوالي صنایع هلته وده وکړي. د دسمبر په نهمه ده غوښتل چې بنګال ته لاړ شي، خو جمنا لعل جي ورته ډېر ټینګار وکړ، چې هلته یو څه وخت تم شي، ترڅو د Board of Village Industries Assoacition یعنې د کلیوالي صنایعو اتحادیه یا ټولنه کې ګډون وکړي. هغه و چې د ده تګ د دسمبر تر پنځه لسمه پورې وځنډول شو، مور د ده د کار په موضوع فکر کاوه او ورباندې لګیا و، چې د پولیسو مشر د اووم تاریخ په ماښام خوا د ده د نیولو له پاڼې سره راغی. دی خو به تل د داسې غوښتنو لپاره تیار و، لوی پټان (ستر پښتانه) وویل: هره شېبه چې د نیولو امر راورسېدلو دی تیار و، خو په امر کې یو ځنډ په پام کې نیول شوی اجازه لري چې دوستان، ورور او ماشومان وګوري.

کله چې ده د وتلو تیاري نیوله، ګاندي جي وویل: «ښه دغه وار بر خلاف د مخکینو موږ درته وړاندیز دی دفاعیه کوو.» خان صاحب داسې ښکارېده چې ببرته پاتې شو. ده وویل: چې ده قسم خوړلی و چې د هغو مغایر به کړي چې له ۱۹۱۹ ز راهیسې یې کړي وو «زه په همدغې مورد کې ستاسو احساس درک کوم» بیا ګاندي جي ورته وویل: «خو دا هغه ځل نه دی، موږ نه غواړو چې جېل ته لاړ شو، که موږ وکولای شو چې په دې کې مرسته وکړو» مستقیما ځواب یې ورکړ «څه چې غواړې نو کوه یې» دا خو یو بل ځل ښکلی یوځایوالی و.

دا خو یوه بله بد قسمتي د مشر ورور په باب کې وه د هغه ورور څخه لرې کېږي، چې درې کاله په جېل کې له ده سره ښې او بدې شریکې وې او همدا رنګه تقریبا سل ورځې د نیمه آزادۍ (نظر بندۍ دوره) کې دواړه یو ځای وو) خو د کشر ورور هېڅ پروا نه وه. له کوچنیانو څخه یې وغوښتل چې قوي، با عزم او شجاع اوسي او تل خپل درسونه زده او ووایي. د خپل ځان د ساتلو په فکر کې واوسي، د دغو مشرانو (ګاندي جي او جمنا لعل

چي ) په خوله کوئ او خاطر يې وساتئ زموږ غوندې !؟
خو يوه غوټه د ده پرمخ ښکاره وه، هغه دا وه چې ويل (کاشکې چې ما خپله وعده چې د بنګال د کليو د غريبو مسلمانانو په هکله مې کړې وه ترسره کړې واى، ما پرېکړه کړې وه چې د دوى په منځ کې يعنې له دوى سره به اوسم او کار کوم او اوس خو دوى ته هېڅ نه شم کولاى. بيا چو په خوله شو او څه ځنډ وروسته له يوه ژور آه څخه يې وويل (د سرحد په باب نه پوهېږم څه ووايم، اجازه راکړئ چې زما بنديتوب زما خلک د بټه ونه هڅوي چې کوم عاجل اعمال وکړي. دوى بايد دغه کار وزغمي او په سړه سينه خپل ورځني کارونه سرته ورسوي او يووالى ولري.
زه په دې غمجن يم چې ټولې ناخوالې او بدقسمتى زموږ په نصيب کې دي، حتى دومره موقع چا نه ده راکړې چې ثابته کړم چې موږ په حقه يو او دوى ناسم. يو حکومتي راپور زموږ ولايت، مرګوني ولايت ياد کړى، خو دومره امکانات يا فرصت موږ ته څوک نه راکوي چې د جاهلو بېسوادو پښتنو سره غير سياسي د پوهنې کار وشي.
خو کله چې د حرکت وخت و، بمبيي ته راورسېدو د دغو تأثير او خپګان علايم ټول محوه شول. د ده له فکر څخه يعنې له حقيقي خدايي خدمتګار څخه جمنا لعل جي او د هغې محترمې مېرمن ته ويې ويل «زه پوره باور لرم چې دغه د الله تعالى رضا ده، کله چې وغواړي بېرون، لرې يې وساتي هغه بايد وکړم، اوس د ده چې څه خوښه وي، زه بايد هغه له ننه ومنم، په څه شي چې دى خوښېږي، زه هم ورباندې خوښېږم.»
پاى

Books Name - Khan Abdul Ghafar Khan (the apostle of Nonviolence)

- Two Servants of God

Authors N. Radhakrishnan & Mahadev Desai

Translator Zir Gul Wardak

Publisher Afghanic

Published ۲۰۱۷

Copies ۱۰۰۰

Printed at Sahar Printing Press, Kabul, Afghanistan

ISBN ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۳۳-۰۰-۱